# الهي طرحه، ستاسو انتخاب

GLOBAL UNIVERSITY

# الهي طرحه، ستاسو انتخاب


ليکونکی

جي. لول هراپ



***Global University***
***P.O.Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# الهي طرحه، ستاسو انتخاب

لومړی چاپ ۲۰۰۷

© 2007 All Rights Reserved

***Pashto "God's Design Your Choice" 2007***

***Global University***
***P.O. Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# د لوستونو فهرست


د لوست عنوان پاڼه

لومړی لوست:آیا خدای په رښتیا کومه نقشه لري؟............. 7

دوهم لوست:آیا خدای به بله مرحله راته ښکاره کړي؟......... 31

دریم لوست:آیا خدای د اندازې څخه زیاته طمع لري؟......... 60

څلورم لوست:آیا د الهي نقشې څخه منحرف شوی یم؟ ....... 89

پنځم لوست: آیا یواځې مسیحي توب کافي دی؟............ 115

شپږم لوست:خدای څرنګه کولای شي ماسره خبرې وکړي؟..140

اوم لوست: آیا عیسی په الهي نقشې پوهیده؟................ 171

اتم لوست: څرنګه کولای شم چې راتلونکې ته لار ومومم؟ .. 194

## لوستونکو سره یو څوخبرې

خدای ستاسو لپاره څه نقشه لري؟ آیا تر اوسه مو په دې اړه ژور فکر کړیدی؟ ښائي پدې وروستیو ورځوکښې مو په مسیح ایمان راوړی وي او یا څو کاله د مخه، خوپه هر حال دا امکان شته چې د عیسی مسیح د تابعدارۍ په لار کښې ستاسو په ذهن کښې یو څه پوښتنې را منځته شي.

اوس چې زه مسیحي یم خدای زما څخه څه امید لري؟ خدای به څرنګه ماته هغه څه ووایی چې زما څخه یې غواړي؟ که چیرې داسې وخت هم راشي چې زه په هغه څه پوه شم چې خدای یې زما څخه غواړی؟ که چېرې داسی وخت هم راشي چې زه په هغه څه پوه شم څه چې خدای یې راڅخه غواړي، نو څرنګه به د هغو په پوره کولو لاس پورې کړم؟ که چیرې ستونزې اونا ارامۍ مخې ته راشي، آیا د هغې به دا معنی وي چې زه د خدای د نقشې څخه بې لارې شوی یم؟ د راتلونکي په باره کښې به څه ډول وضیعیت وي؟ خدای به راتلونکي پیښې څرنګه ماته وښیئ؟ او زه به د هغه څه به مقابل چې ماته وښودل شي څه غبرګون د خپل ځان څخه وښایم؟

دغه تعلیمي سلسله تاسو سره مرسته کوي ترڅو پورتنیو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړئ. د مطالعې به دوران کښې به د خدای د نقشې په باره کښې په ډیرو زیاتو موضوعاتو پوه شئ. او دابه درته روښانه شي چې څرنګه هغه انتخاب کړئ او د هغې پیروي وکړئ. پدې لوستنه کښې به وګورئ چې تاسو په

اوسني وخت کښې هم د خدای د نقشې يوه برخه ياست او خدای غواړي چې هغه څه تاسوته درزده کړي چې تاسو بې بايد سرته ورسوئ. دا کتاب تاسو ته دا توان درکوي چې هغه څه چې زده کوئ هغه په خپل مسيحي ورځني ژوند کښې عملی کړئ دغه سلسله د موضوعاتو په څيړنه کښې د نوي تعليمي لارښوونو څخه مرسته ترلاسه کوي او ميتودونه يې کاروي، ترڅو تاسو وکولی شئ چې بنسټيز اصول يې په ډيره اسانۍ سره راټول او ځان ورباندې پوه کړئ او سمدستي يې د عمل مرحلې ته ورسوئ.

## ستاسو لارښود کتاب

«الهي طرحه، ستاسو انتخاب» يو کوچنی جيبي کتاب دی او تاسو کولی شئ چې هرځای ته يې د ځان سره يوسئ او په وزګار وخت کښې يې ولولئ. خو کوښښ وکړئ چې د لوستلو لپاره يې يو اندازه معلوم وخت وټاکی. د هر لوست دوه لومړني مخونه ډير په غور سره ولولئ، ځکه چې دغه دوه مخونه ستاسو ذهن د پاتې لوست لپاره چمتو کوي. وروسته بيا د «هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ» تر عنوان لاندی برخه چې د هر درس په ترڅ کښې ذکر شوې ده، حل کړئ. که چيرې په درسي کتاب کښې دسوالونو د حل لپاره په پوره اندازه خالي ځای موجود نه وی، کولی شئ چې خپل ځوابونه د يادداشت په کتابچه کښې وليکئ ترڅو د درس د تکرار په صورت کې هغې ته هم مراجعه وکړئ. که چيری دغه سلسله په ډله ايز ډول

مطالعه کوئ نوبیا پدی صورت کښې لاژمه ده چې د هغو لارښوونو پیروی وکړئ کوم چې د صنف مشر او یا ښوونکی یې تاسوته درښیئ.

## څرنګه به سوالونوته ځواب ورکوئ؟

پدې لارښود کتاب کښې ډول ډول سوالونه مطرح شویدی، چې په لاندې ډول مې د هغو یو څه نمونې ستاسو لپاره انتخاب کړیدي ترڅو پدی وپوهیږئ چې هغو ته څرنګه ځواب ورکړئ.

## د ځوابونو څخه د صحیح ځواب غوره کول

پدی قسم پوښتنو کښې باید تاسو د درکړل شوو ځوابونو څخه صحیح ځواب انتخاب کړئ.

ددې قسم پوښتنو نمونه:

1. مقدس کتاب داسې یو کتاب دی چې په لاندې شمیر کتابونه په کښې شامل دي......

أ) سل کتابونه

ب) شپږشپیته کتابونه.

ج) اوه ویشت کتابونه

ددی سوال صحیح ځواب د «ب» توری دی چې شپږشپیته کتابونه دی. په خپل لارښود کتاب کښې د «ب» تر څنګ نښه وکړئ.

په ځینو داسې پوښتنو کښې به دیو څخه زیات صحیح ځوابونه موجود وي. پدې حالت کښې به د هر یو صحیح ځواب مخې ته نښه وکړئ.

ددې قسم پوښتنو نمونه:

2. په لاندینو جملو کښې کومه یوه صحیح ده؟

أ) مقدس کتاب داسی یو کتاب دی چې یوسلوشل کتابونوته یې په ځان کښې ځای ورکړی دی.

ب) مقدس کتاب د اوسنیو ایماندارانو لپاره یو پیغام دی.

ج) د مقدس کتاب ټولو لیکونکو دهغو په لیکنه کښې د عبرانی ژبی څخه استفاده کړې ده.

د) د مقدس کتاب په لیکنه کښې روح القدس د هغو لیکونکو ته الهام ورکاوه.

د ((ب)) او ((د)) توري صحیح دي. تاسو باید د هغو څخه دایره چاپیره کړئ ترڅو ستاسو انتحاب معلوم شي. د صحیح مثال به ډول مو هغه نمونه ولیدله.

## ارتباطي سوالونه

په دی قسم پوښتنو کښې له تاسو څخه غوښتل کیږي چې

یوه فقره، او یا یو سرته، د بلی فقری او سر سره ارتباط ورکړئ.
د مثال په توګه نومونه د هغو له توصیفاتو سره او یاد مقدس کتاب کتابونه دهغو د لیکوالو سره ونښلوئ.

ددې ډول پوښتنو نمونه:

3. په لاندې ځایونو کښې د هغو مشرانو نومونه وښائی چې کارنامې یې بیان شویدی.

أ. د سینا په غره کښې یې د خدای څخه شریعت ترلاسه کړ.

ب. دبنی اسرائیلو قوم یې داردن د سیند څخه په تیریدو کښې رهبري کړ.

ج. داریحا ښاریې اوه ځله محاصره کړی ؤ.

د. د فرعون په دربار کښې یې ژوند کړی ؤ.

د «الف» او «د» توري موسی ته اشاره کوی. او د «ب» او «ج» توري یوشع ته اشاره کوي. نو د «الف» او «د» ترڅنګ د «یو» شمیره او د «ب» او «ج» ترڅنګ د «۲» شمیره ولیکئ.

## د لیکوال په اړه

کشیش جی لول هاراپ د «Southern College» لیک لندفلوریدا د پوهنتون فارغ التحصیل دی. په اوسنی وخت

کښې په بلژیک کښې د بروکسل د ښار د مسیحي مرکز د روحاني لارښود (کشیش) دنده سمبالوی. بلژیک ته د تګ څخه مخکې د ۱۳ کلونو لپاره واشنګټن ته نژدې د ویرجینیا په الکساندریې کې، د روحاني مشرتوب په دندو بوخت ؤ.

د کشیش هارپ د نورو فعالیتونو د جملې څخه کیدای شي د هغه موعظو او خدمت ته په کورنۍ غونډو، د خدای د غلامانو په ټولنو او دسیمینارونو په رهبري کولو کښې اشاره وشي چې سرته یې رسولي دي. هغه په منځینو ښونځیو او پوهنتونونو کښې هم ځوانې طبقې ته خدمت کړیدی. هغه ددې کتاب په لیکلو کښې کوښښ کړیدی چې د امکان په صورت کښې هغه پوهه چې د کلونو په اوږدو کښې یې د مقدس کتاب د مطالعې څخه د تجربی په حیث لاس ته راوړې تاسو ته بیان کړي. او هغه تجربه یې چې د مختلفو افرادو او ګروپونو سره د مخامخ کیدو او ګډون څخه په مختلفو حالاتو کښې حاصل کړیده هغی ته یې په دی کتاب کښې ځای ورکړیدی.

اوس مو داتیاری حاصل دی چې د لومړي لوست مطالعه شروع کړئ. خدای دې تاسوته ددې مطالعې په سبب برکت درکړي. امین.

## لومړی لوست

# آیا خدای په رښتیا کومه نقشه لري؟

ډیرشیان شته چې د هغو موجودیت او واقع کیدل یو نا ببره کار او لکه دیوه چانس او تصادف په څیر معلومیږي.

په مصر کښې درې لویې ودانۍ موجودې دي چې د دریو اهرامونو په نوم یادیږي. دغه اهرامونه ډیرلوی او غټ دي. او د څو زره کلونو راهیسې په خپل ځای برقرار ولاړدی. هغه ډبرې چې ددی اهرامونو په جوړېښت کښې کارول شویدي په دومره اندازه سره برابرې او دقیقې دي چې په خپل ځای کښې دټینګیدلو او خوندي ساتلو لپاره هیڅ قسم وسایلو ته اړتیا نه لري. آیا داسی یوه ودانی او جوړښت کیدای شي چې یوازې دیوڅو ډبرو یود بل ترڅنګ د ایښودلو په نتیجه کښې منځ ته

راشي؟ نه هیڅکله نه! مونږ پدی پوهیږو چې ددې اهرامونو جوړښت به پدی ډول منځ ته راغلی نه وي.

په هغه ورځ به پدې ځای کښې یو معمار ؤ چې پدې به پوهیده چې د کار د تمامیدلو څخه وروسته به ددې اهرامونو شکل څنګه وي.

هغه به ددې لپاره پلان جوړ کړی ؤ، او د ودانۍ نقشه به یې تیاره کړې وه او هغه وخت به یې د جوړولو په کار لاس پورې کړی ؤ چې ښه پدې ډاډمند شوی وای چې ټول د ضرورت وړ وسایل اوس په خپل اختیار کښې لري. ددی هر څه څخه وروسته یې د زرګونو انسانانو د لارښوونی کار په خپله غاړه واخیست ترڅو په پوره ډول مطمین شي چې هر څوک خپله هغه وظیفه چې ورته سپارل شویده په ښه توګه سرته رسولې. بې شکه، د کار په جریان کښې به ډیر زیات مشکلات رامنځته کیدل. ځینو کار کوونکو به کار پریښوده او ځینو نورو به د هغوی برخه کار نه کاوه. خوبیا هم هغه اوچت معمار په هغه اندازه کار ته دوام ورکړ ترڅو ددې اهرامونو د جوړولو کار پای ته ورسیده.

د یوې شیبې له پاره هغه په زرګونو کارګران د هغه د کاڼو لویو ستنو سره په خپل ذهن کښې راولئ. کوم شی بغیر د یوې نقشې او پلان څخه امکان لري چې جوړشي؟ پدی لوست کښې به ستاسو سره د خدای د نقشې په باره کښې خبرې وشي او ددې څخه لاپسې زیات. پدی به هم پوه شئ چې خدای ستاسو لپاره هم یو پلان لري.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ خدای د هرڅه له پاره یوه نقشه لري
- ❖ خدای د خلکو لپاره هم یوه طرحه لري
- ❖ نورو الهي طرحه تجربه کړې ده
- ❖ تاسو هم د خدای پلان تجربه کولی شئ

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ❑ د الهي طرحې هدف او مفهوم تشریح کړئ.
- ❑ د هغه پلان ځانګړتیاوې تشریح کړئ کوم چې خدای د انسانانو لپاره په نظر کښې لري.
- ❑ د مقدس کتاب د اتلانو دژوندون د تجربو څخه د الهي نقشې په اړوند یو څه نتیجې راوباسئ او بیایې تشریح کړئ.

## خدای د هر څه له پاره یوه نقشه لري

خدای د هرڅه لپاره یو پلان لري. خدای ایوب ته وفرمایل چې د پیدایښت په لومړیو کښې هغه د سمندرونو ژوروالی معلوم کړی ؤ. همدارنګه چې لمر کله راوخیږي او ځمکه دې په کومه اندازه وي داټول دیو پلان په اساس خدای ته معلوم ؤو. هغه د ستورو پیدایښت ته هم یوه نقشه تیاره کړې وه او تندر او

بریښنا یې پیدا کړه. خدای حتی د حیواناتو د زیږیدلو څرنګوالي ته هم یوه طرحه جوړه کړې ده. همدا یوازینی ذات دی چې غوائي ته یې قوت ورکړی او آس ته عظمت. هغه باز ته قدرت ورکړی چې د هسکو غرونو په څوکو والوزي (ایوب ۳۸ او ۳۹ فصلونه).

د ټولو کائناتو پلان خدای جوړ کړیدی خو د انسان د پیداښت نقشه ددې طرحو څخه یوه ډیره ښایسته طرحه ده. خدای ددې لپاره یوه خاصه پاملرنه کړیده. ځکه چې د هغوی لپاره یې د یو خاص هدف خیال درلوده.

خدای ددې پر ځای چې انسان د حیواناتو په شان خلق کړي هغه یې د خپل ځان په شان پیدا کړ. خدای د انسان سره د یووالي او مشارکت غوښتونکی دی. خدای مونږ په داسې ډول پیدا کړي یو چې وکړای شو د خدای سره د مشارکت څخه فایده واخلو.

خدای فکر کوي او د هر څه لپاره پلان جوړوي. هغه مونږ ته هم د فکر کولو او د پلان جوړولو قدرت راکړ. خدای مینه کوي. هغه مونږ هم داسی پید ا کړو چې مینه وکړای شو او دوستي او ملګرتیا ولرو. خدای د انتخاب قدرت او دارادې آزادي لري. هغه مونږ ته هم د انتخاب قدرت او د ارادې آزادي رابخښلې ده. خدای د ټول بشریت لپاره یوه نقشه لري. خو هر سړی دې ته حاضرندی چې هغه څه سرته ورسوي کوم چې خدای ورته نقشه تیاره کړیده. په حقیقت کښې مقدس کتاب په عملي توګه وائي چې هر څوک هغه څه کوي چې ورته یې خوښه وشي او پخپله یې انتخاب کړي (رومیان ۳:۲۳). خوبیاهم دغه کار د خدای پلان

نه ماتوي او ټول له منځه نه وړي. تاسود تجربې له لارې دا معلومه کړې ده چې خدای تاسو او ټولو انسانانو ته داموقعه ورکړې ده ترڅو د الهي خلاصون له لارې د هغه د لویې نقشې یوه برخه شئ. مونږ کولای شو چې خدای سره په ګډه کار وکړو او یوه ورځ به هغه ته ورته او مشابه شو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

ددی برخې سوالونه او یا تمرینونه ستاسو سره مرسته کوي چې هغه څه چه مو لوستلي دي، دوباره تکرار کړئ او په خپل ورځینی ژوند کښې یې عملي کړئ. په هره طریقه چې ستاسو څخه غوښتل کیږی دې سوالونو ته ځواب ورکړئ. او خپل ځوابونه د یادداشت په کتابچه کښې ولیکئ. که چیرې ضرورت پیښ شي نو هغه برخه چې ستاسو د لارښود کتاب په اول سر کښې د «سوالونو ته څرنګه ځواب ووایو؟» تر عنوان لاندې لیکل شویده یو وار بیا ولولئ.

1. د پیدایښت د کتاب لومړی فصل ولولئ. په دې فصل کښې دوه حالتونه موجود دي چې د خدای په وسیله ورته پلان جوړیږي د دغو دوو حالتونو نومونه واخلئ.

.........................................

2. پوهیږو چې خدای دانتخاب قدرت لري. داسې یو مثال بیان کړئ چې تاسو هم پکښې خپل د انتخاب او ارادې څخه استفاده کړې وي او دا

ثرګندوي چې تاسو هم د انتخاب قدرت او د
ارادې خپلواکي لرئ.

........................................

خپل ځوابونه د هغو صحیح ځوابونو سره مقایسه کړئ چې ددې لوست په آخر کښې د (خپل ځوابونه مقایسه کړئ) تر عنوان لاندې ذکر شویدي.

## خدای د خلکو له پاره یوه طرحه لري

کومه طرحه چې دیو شي لپاره برابریږي هغه ځینې خاصې او معلومې ځانګړتیاوې او یا څه خاص او ټاکلي اړخونه هم لري. د مثال په ډول د یو کور په نقشه کښې د دیوالونو، کړکیو، دروازو او کوټو نقشې هم شاملیږي.

مونږ وویل چې خدای د خلکو لپاره یوه طرحه لري. د دې الهي طرحې ځانګړي خاصیتونه کوم دي؟

### الهي طرحه د شناخت او معرفت له لارې پیلیږي

داود د خدای د قوم د لارښوونکو څخه یو لارښود ؤ. د مقدس کتاب ډیر زبورونه د هغه په وسیله لیکل شویدي. په ۱۳۹ زبور کښې داود وایي چې: "خدای د هغه په اعمالو او افکارو خبر دی." تر دې پورې چې مخکې له دې چې داود یوې خبرې ویلوته خپله ژبه وخوروي، خدای وربادې پوهیږي چې څه غواړی چې ویې وایي. خدای داود پیدا کړی ؤ. خدای داود

ته د مور په ګیډه کښې یو شکل او صورت ورکړی ؤ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. دا لاندې متنونه هریو ولولئ او د هر یو ترڅنګ د هغه سرې نوم ولیکئ چې ویل شویدي چې خدای د هغه په اړه په هرڅه پوهېږي. خدای ستاسو په اړه هم په دې شیانو پوهېږي.

أ. ایوب ۲۳: ۱۰ ...............................

ب. زبور ۳۱: ۷ ...............................

ج. زبور ۱۰۳: ۱۴ ...............................

د. زبور ۱۳۹: ۱٦ ...............................

خدای نه یوازې داود بلکه تاسوئی هم پیدا کړي یاست. هغه داود خپل دوست ګاڼه سره ددې چې د هغه په اړه په هرڅه پوهېده. خدای تاسو هم خپل دوستان ګڼي او تاسو سره هم مینه کوي، سره ددې چې ستاسو په اړه هم په هرڅه پوهېږي. ستاسو د ژوند، خلاصون، زیږیدنې او حتی ستاسو د ابدیت پلان یې هم جوړ کړیدی. که چیرې د هغه سره په ګډه کار وکړئ او د هغه مرسته وکړئ کومه چې هغه ستاسو د ژوندون لپاره تیاره

کړيده، نو هغه هم کولای شي چې په ډيره اغيزمنه او فعاله توګه ستاسو لارښود شي (فليپيان ٤: ١٣ ولولئ).

## الهي نقشه بيلابيل اړخونه لري

ددنيا خلک د ډول ډول ملتونو سره تعلق لري. يو څو شيبې د هغوی د ويښتانو، سترګو، شکل او پوستکي د رنګ د حالت په اړوند فکر وکړئ. د هر ملت او پرګنې په داخل کښې هم خلک سره فرق لري. مونږ راز راز عقيدې لرو، رنګارنګ خوراکونه خوښوو. آيا دايوښکلی او مناسب کارنه دی چې خدای مونږ د افرادو په صورت مختلف پيدا کړي يو؟

ځينې وختونه ديوې کورنۍ او لادونه هم يو د بله سره فرق لري. ځينې يې خوار او ځينې يې چاغ وي، ځينې خړبخن او ځينې يې ځليدونکي ويښتان لري. خو دغه ظاهري فرقونه دموراو پلار لپاره کوم اهميت نلري، ځکه هغوی په حقيقت کښې خپلو اولادونو سره مينه کوي. هغه څه چې مور او پلار ته داهميت وړ دي هغه داده چې کوچنيان په هغوی پورې تعلق لري.

حقيقت دادی چې خدای دغه توپير او بېلوالی پيدا کړيدی او ددې څخه انکار نشي کيدای. هغه غوښتل چې مونږ د ټاکلو افرادو په توګه يو تربله سره فرق ولرو. دا د الهي طرحې د زړه راښکونکو اړخونو څخه يو اړخ دی. کله چې مونږ دا احساسوو چې هيڅوک په دقيقه توګه زما په څير ندی، د يو واقعت احساس کوو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

4. د یو داسې حالت ذکر وکړئ چې ستاسو فرق د خپلو دوستانو سره ښکاره کوي.

..........................................
...........

### د خدای نقشه د یو معیار درلودونکې وي

د دوهم ځل لپاره د هغو مصري اهرامونو د تیاریدو موضوع ته راګرځو چې د درس په شروع کښې مو ولوستل. دا مهمه نده چې ډبرې یې یو د بل سره ورته والی ولري. دغو ډبرو هم په احتمالي توګه د اندازې له نظره او هم د شکل له نظره یو د بل سره فرق درلود. هغه څه چې د اهمیت وړ بریښي هغه دادي چې یو د بل ترڅنګ په دقیقه توګه مناسب او جوخت ځای ولري او سره جوړ شي. ټول کاڼي باید په داسې ډول تراش شي چې استفاده ورڅخه وشي. د دې خبرې مقصد دادی چې هر کاڼی باید په هغه شکل وي چې معمار ورته د مخکښې څخه پلان تیار کړی ؤ. همدا رنګه مونږ باید هم په داسې شکل ځان چمتو کړو چې په الهي نقشه کښې له مخکښې څخه زمونږ لپاره ټاکل شویدی او دغه طرحه د معیار او نمونې درلودونکې ده. افسسیانو ته د پولوس په لیک ٤: ١٣ کښې لولو چې زمونږ د ژوند معیار د (مسیح د روح څخه ډکیدل او هغه ته ورته والی) دی. او داهغه هدف دی چې خدای پخپله د الهي کلام د

تعلیم له لارې مونږ د هغې لوري ته رهبري کوي.

کله چې هغه ته اجازه ورکړو چې په مونږ کښې کار وکړي، هغه مونږ د خپل اولاد د معیاري او مثالي نمونو په مطابق بدلوي. هېر دې نشي چې مونږ هم د هغه زامن یو او باید وغواړو چې د هغه په څیر شو.

ددې خبرې معنی دا نده چې خپل فردیت له لاسه ورکړو. بلکه مقصد دادی چې خدای نه غواړي چې مونږ د عیسی غبرګوني واوسو بلکه غواړي چې د هغه ورونه شو اوهغه په مونږ کښې مشر وي (رومیان ۸: ۲۹).

هغه وخت چې اولادونه لوئیږی، نو د خپل مور او پلار په څیر بلوغ ته رسیږي. او ځینی وخت د خپل مور او پلار څخه هم زیات پوهیږي. په ډیرو مسایلو کښې د هغوی د فکر طرز بالکل د خپل مور او پلار د فکري طرز په څیر وي. کوچنیان حتی پدې هم پوهیږي چې مور او پلار یې ولې د هغوی په تربیه کولو کښې د هغوی سره سخت سلوک کاوه. او ولې یې دوی ته زده کړه ورکوله او ولې یې په ځینو ځایونو کښې اجازه ورکوله چې پخپله د خپل ځان پوری اړونده مسائلو سره مخامخ شي. مګر سره له دې هم اوس خپل فردیت د خپل ځان سره برقرار لري.

که چیرې په صداقت سره زده کړو چې د عیسی مسیح تابعداري کوو نو یوه ورځ به داسې راشي چې ټول اوسني بندیزونه له منځه ولاړ شي او خدای به په کاملې طریقې سره

وپېژنو. د هغه هدف به په پوره ډول بیا مومو او دزړه په پوره مینه به د هغې سره دوستي ولرو او هغه عظمت چې په عیسی مسیح کښې دی هغه به زمونږ عظمت شي. (رومیان ۸: ۳۰).

هغه په داسې ډول وپېژنو چې هغه هم مونږ پېژني، نو دا هغه وخت دی چې مونږ ورسره پوره مشارکت او یووالی لرو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. لاندې جملې د عیسی مسیح په اړوند بیان شویدي. د هغه جملې مخې ته نښه وکړئ چې زمونږ لپاره د ژوندون یو معیار وړاندې کوي.

أ. هغه د خدای اراده سرته ورسوله.

ب. هغه یهودي نژادی ؤ.

ج. هغه حقیقت بیان کړ.

د. د ماشوم توب دوره یې په یوکوچني کلي کښې تیره کړې وه.

### الهي طرحه د یووالي زیری ورکوي

مونږ ته په الهي نقشه کښې په دې ډول پلان جوړشوی چې جوخت او یودبل جوړه واوسو. هغه وخت چې مونږ

کمزوري يو نو يو بل قوي دی. د خدای د کورنۍ په مقام کښې خدای زمونږ دپاره زمونږ د پلار ځانګړتياوی لري او هغه زمونږ پلار دی او يود بل سره ديووالي او شراکت څخه ګټه اخلو، (افسسيان ۲: ۱۱- ۱۹).

مونږ د يوې داسې عبادتخانې د ودانۍ ښختې يو چې خدای د خپل روح په وسيله په هغې کښې ژوند کوي (افسسيان ۲: ۲۰- ۲۲). مونږ ټول د مسيح د ناوې حيثيت لرو (دوهم کورنتيان ۱۱: ۲، مکاشفه ۲۱: ۹). مونږ ټول سره يو لښکر يو (افسسيان ٦: ۱۰- ۱۸). دا په پوره توګه روښانه ده چې د خدای نقشه د بني آدم لپاره د يووالي او دهغه سره او يا يوتربله سره د يو ځای کيدو نقشه ده.

له همدې کبله ډيره مناسبه فکر ته راځي چې د خدای نقشه زمونږ د فرد فرد لپاره د هغې نقشې سره مخالفه نه ده چې خدای دنورو لپاره تياره کړيده او يا د کائناتو لپاره يې په پام کښې نيولې ده.

يوازې چې پدې وپوهيږو چې خدای زمونږ په باره کښې څه اراده لري، نو همدا موضوع مونږ ته داهم څرګندوي چې هغه په خپل ذهن کښې دوه مقصده په پام کښې نيولي دي: لومړی د مسيح سره زمونږ د فردي ودې په صفت د يوی مثالي نمونې او دوهم زمونږ داړيکو يووالی دنورو سره، او هم د هغو کسانو سره چې د خدای په نقشه کښې سره يوځای يود بل سره په ګډه کار او مرسته کوي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

6. په لاندینیو حالاتو کښې کوم یو کیدای شي چې دالهي نقشې څخه د یووالي او یوځای کیدو مثالي نمونه پکښې وکتل شي؟

ا. احمد پوهیږی چې خدای په هرشي خبر دی او دهغه په باره کښې هم په هر څه پوهیږي، هغه ښه وي او که بد.

ب. اتل او مقصود دواړه ایمانداران دي، خو د دوه مختلفو نژادونو او پرګنو څخه دي.

ج. تورپیکۍ دا یادوي چې څرنګه د خپل استاد داستعداد څخه استفاده وکړي ترڅو د سپوږمۍ سره د مقدس کتاب په مطالعه کښې ملګرتیا وکړي.

7. لاندیني متنونه ولولئ، بیا هغو ته د خدای د نقشې د ډیر مناسب ځای سره

ارتباط ورکړئ کوم چې بيان شويدی.

أ. يوحنا ۱۰: ۱٤-۱٥ ۱- د خدای پيژندنه

ب. يوحنا ۱۷: ۲۱ ۲- ډول ډول توب

ج. ۱ کورنتيان ۱۲: ۱٤ ۳- معيار

د. فليپيان ۲: ٥ ٤- يو بل سره اوسېدل

ه. اول يوحنا ۳: ۱٦.

8. فرض کړئ چې ستاسو يو ملګری له تاسو څخه پوښتنه کوي چې د خلکو لپاره د خدای نقشه څه ده؟ د خپل يادداشت په کتابچه کښې د الهي نقشې لپاره د ځواب په توګه څلور ځانګړتياوې وليکئ. چې د دې پوښتنې لپاره ځواب شي .....

## نورو الهي طرحه تجربه کړې ده

مقدس کتاب د ډيرو زياتو کسانو په اړه خبرې کوي چې په خپل ژوندون کښې يې الهي طرحه تجربه کړيده. موقعه راکړئ چې د هغوی څخه د يو څو د ژوند حالات تر څيړنې لاندې ونيسو او وګورو چې د هغوی تجربه دالهي نقشې په

اړوند څه وه.

## د عیسی مسیح شاګردان

عیسی مسیح هغه وخت چې د ځمکې په مخ ژوند کاوه، نو د خپلو پیروانود جملی څخه یې دولس کسان غوره کړل ترڅو همیشه دده سره وي (مرقس ۳: ۱۳- ۱۵) دا د هغه پلان لپاره یوه کیلي وه چې په ذهن او پام کښې یې درلوده. عیسی به د هغوی په څنګ کښې ؤ او د همدې ملګرتیا په وسیله یې هغوی بدلول او د هغوی ژوندون ته یې تغییر ورکاوه. عیسی دغه شاګردان په دقیقه توګه انتخاب کړي ؤو او د هغوی د انتخاب لپاره یې ټوله شپه په دعا تیره کړې وه (لوقا ٦: ١٢- ١٦). هغه له ځانه سره یو پلان هم درلود: هغه ته ضروري وه چې هغه کار هم سرته ورسوي دکوم لپاره یې چې پلار رالیږلی ؤ (یوحنا ١٧: ٤). هغه لوړ هدف چې عیسی مسیح د خپلو شاګردانو او پیروانو لپاره په پلان کښې درلود دا ؤ چې په پوره یوالي سره یوتربله او په مسیح کښې ژوند وکړو او ورته وفادار پاتې شو (یوحنا ١٧: ٢٠- ٢٣). پداسې حال کښې چې په مقدس کتاب کښې ددې افرادو د ژوندون قصه لولو نو په دې پوهیږو چې هغوی ټول سره یوشان نه ؤو. د هغو څخه دوه تنه د (تندر په بچو) مشهور ؤو (مرقس ۳: ۱۷).

یوحنا یو د هغه دوو تنو څخه ؤ چاسره چې عیسی مینه کړې وه او پدی خبره مشهور ؤ (یوحنا ١٣: ٢٣). لکه څنګه چې معلومه ده عیسی ته لازمه وه چې د پطرس سره دنورو په نسبت

ډيره اندازه صبر او حوصله وکړي. نتنايل هغه سړی ؤ چې د هغه په هکله ويل کيږي چې په هغه کښې هيڅ قسمه ټګي نه وه (يوحنا ۱: ٤٧).

دغو کسانو مختلف کسبونه درلودل او د مختلفو طبقو څخه ؤو. د ماهي نيوونکي څخه نيولی تر ماليه اخيستونکي پورې پکښې شامل ؤو. او هغوی هر يو خپل فردي شخصيت ساتلی ؤ. ولې د مسيح موجوديت هغوی سره راټول کړي ؤو. هغوی په دولس شاګردانو مشهور شوي ؤو. د مکاشفې په کتاب کښې ګورو چې د همدې دولسو تنو نومونه د خدای د ښار په ستنو او د تهداب په کاڼو ليکل شوي دي (مکاشفه ۲۱: ١٤).

په دولسو رسولانو باندې د عيسی مسيح سره زياتې تجربې تيرې شوې وې. ځينې وخت به په راحت او خوشالۍ کښې ؤو او بل وخت به ستړي ؤو. يووار به د يوې موقعې په مناسبت په معجزانه ډول هغوی ته خواړه تياريدل خو په نورو عامو حالاتو کښې به يې د ضرورت وړ خواړه په بيه اخيستل. ډير برياليتوبونه د هغوی په برخه شوي ؤو خو د سختۍ، نا اميدۍ او تباهۍ سره هم بلد ؤو. خو د عيسی مسيح سره په يوځای د پاتې کيدو له امله يې د خدای د نقشې عملي جامه اغوستې وه او هغه يې په ځانونو تطبيق کړې ؤو.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

9. د عیسی مسیح د شاګردانو تجربه دا څرګندوي چې د خدای د نقشې څخه د خبردارۍ لپاره مهم شی دا دی چې..........................................................
........

أ. سختۍ او نامناسبه پیښې وزغمو.

ب. لویې لویې معجزې او بریالیتوبونه تجربه کړو.

ج. د مسیح سره وفاداره پاتې شو.

10. د پطرس ځواب د عیسی د دعوت په مقابل کښې د یوحنا د ځواب په څیر نه ؤ. الهي طرحې ته په پاملرنې سره دا حقیقت د............ ځانګړی صفت څرګندوي.

أ. ډول ډول والی

ب. معرفت

ج. یو او بل سره اوسېدلو

## پولوس رسول

د خدای یو لوی انسان چې هغه مونږ د پولوس په نامه پیژنو، هغه د خپل ژوند په لومړیو کښې په شاول طرسوسي

مشهور ؤ. داسې يو وخت ؤ چې هغه د عيسی مسيح او دهغه د پيروانو څخه سخته کرکه درلوده. حتی چې د ډيرو مسيحيانو د قتل مسئول هم ؤ، ځکه چې د هغه داخيال ؤ چې دوی د خدای په مقابل کښې کفر وايي. بالاخره خدای د شاول سره خبرې وکړې په داسې حال کښې چې هغه دعيسی مسيح د پيروانو د نيولو لپاره دمشق ته روان ؤ. ډير وخت وروسته کله چې پولوس د خپل ژوند دغې برخې ته نظر کاوه، خپل ځان يې د ډيرو سختو ګناهکارانو په قطار کښې شمېره (اول تيموتيوس ۱: ۱۵).

که چيرې خدای وکړای شول چې په پولوس کښې کار وکړي نو هغه اوس هم کولای شي چې د هرهغه چاپه ژوندون کښې کار وکړي چې د هغه په مخ کښې د تسليميدو سر ټيټ کړي. تيموتيوس ته په دوهم ليک ٤: ۷- ۸ کښې پولوس خپل ځوان ملګري ته دهغه ايمان، باور او اطمينان خبرې کوي کوم يې چې د ژوندون په وروستيو ورځو کښې درلوده. پولوس وايي چې مقابله يې پای ته رسولې او خپل ايمان يې برقرار ساتلی دی. په حقيقت کښې د پولوس د خبرو اصلي موضوع داده چې هغه پدې باور درلود چې انعام يوازې د هغه لپاره نه، بلکه ټولو هغو کسانو ته تيار دی څوک چې د هغه په خير کار وکړي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

11. په لاندې کرښو کښې د پولوس د ژوند درې حالتونه بيان شويدي. دهغو څخه کوم يو

په ښه توګه د خدای نقشه څرګندوي؟

أ. ځینې مسیحیان د خدای د نقشې په مخالفت کښې د ډیر زیات طاقت څخه کار اخلي..

ب. د خدای کامله اراده کیدای شې چې دیو فرد دتیرو شوو ماتو سره سره هم سرته ورسیږي.

ج. هر ایماندار باید دا درک کړي چې دا امکان شته چې شکست او ماتې تجربه کړي.

## تاسو هم د خدای پلان تجربه کولی شئ

هغه پلان چې خدای یې ستاسو لپاره لري په هماغه اندازه کامل او مشخص دی په کومه اندازه چې د دولس شاګردانو لپاره ؤ. خدای غواړي چې په هماغه اندازه چې شاګردانو ته نژدی ؤ، تاسوته هم نژدې شي (یوحنا ۱۷: ۲۱). خدای په هغه طریقه چې په تاسو کښې او ستاسو په حالاتو کښې کار کوي، په همدې طریقه یې په شاګردانو او دهغوی په حالاتو کښې کار کړی ؤ. لکه څنګه چې د پولوس ژوندون ددې خبرې ښکارندوی دی، خدای کولای شي خپل هدف ستاسو په ژوند کښې سرته ورسوي. هغه ماتې او نیګړتیاوې چې په احتمالي ډول مو په خپل تیر وخت کښې درلودلې په دې کارکښې کومه اغیزه او

فرق نه پیدا کوي.

کله چې پوه شئ چې خدای ستاسو لپاره یو پلان لري، نو ستاسو نظر، فکر او خیالونه بدلیږي او د هغې څخه وروسته بیا هغو پېښو ته چې ستاسو په ژوند کښې منځ ته راځي په مختلفو سترګو ګورئ او په یو بل نوي ډول یې تعبیروئ. یو ترکاڼ په ترخز او ارې سره د لرګي شکل بدلوي او هغه مسطح کوي. یوه ټوټه الماس پخپله خپل اوچت قیمت ته نه رسیږي تر څو چې یو زرګر یې په خپله مخصوصه اله یا سوان بې ارزښته برخې ونه تراشي. بنايي خدای هم ستاسو په باره کښې په یوې مخصوصې پاملرنې او مینې سره کار وکړي. داسې وختونه وي چې مونږ دا احساسوو چې په ځټک ټکول شوي او په اره باندې دوه ټوټې شوي یو. مونږ ته دافکر ذهن ته راځي چې دغه ټول واقعات تصادفي، یاد بخت او قسمت او یا د هغو شرایطو په وسیله صورت نیسي چې مونږ پکښې ژوند کوو. بې شکه به هغه وخت کښې به زمونږ غبرګون مختلف وي چې پدې باور وکړو چې دغه پېښې زمونږ په ژوند کښې د خدای د کار یوه برخه ده.

رومیان ۸: ۲۹- ۳۰ د هغو پېښو او واقعاتو په باره کښې خبرې کوي چې زمونږ د ژوندون پېښې ورسره سمون خوري. آیا دا حقیقت په یاد لرئ چې خدای زمونږ په هکله په هرڅه پوهیږي د خدای نقشه له همدې ځایه شروع کیږي؟

"ځکه چې خدای خپل خلق د هغه وخت راهیسی پیژندل چې دوی لانه ؤو، او بیا یې حکم وکړ چې دوی دې د هغه د زوی د

صورت په شان شي، د دې لپاره چې هغه په دې ټولو ورونو کښې مشر ورور شي. او همدا يې د مخکې څخه مقررکړې هم وه او هغه څوک چې هغه رابللي دي هغه يې صادقان کړي هم دي او هغه څوک چې ده صادقان کړيدي هغوی ته يې خپل جلال هم وربخښلی دی".

د دې سلسلې د مطالعې په وخت کښې به ډیرې داسې طريقې وګورئ چې خدای د هغو څخه زمونږ په بدلولو کښې استفاده کوي. په ځانګړې توګه به وګورئ چې څرنګه حالات او وضيعتونه کولای شي چې زمونږ سره دخدای دارادې څخه په خبرتيا کښې مرسته وکړي. خو له همدې اوس وخت څخه یوشی په ياد ولرئ چې خدای د هر قسمه حالاتو او وضيعتونو څخه پورته او لوی دی. که چیرې د هغه سره په ګډه کار وکړئ نو هغه ټولې پيښې او حالات چې تاسو ورسره مخامخ کیږئ، خدای به ورڅخه کار واخلي ترڅو تاسو هغه اخري هدف ته ورسوي (روميان ۸: ۲۸).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

12. روميان ۸: ۲۸ ولولئ، او خپل د يادداشت په کتابچه کښې خپل د ژوند د حالاتو څخه يو حالت وليکئ. بيا د خپل ځان څخه وپوښتئ چې څرنګه خدای ددې حالت څخه استفاده وکړه څو خپل پلان يې زما په باره کښې سرته ورساوه؟

کوشش وکړئ چې ددې سوال لپاره یو ځواب ولیکئ.

په بل لوست کښې به د خدای دوهم قدم ستاسو په اړوند وڅېړو او دابه هم تر ژورې کتنې لاندې ونیسو چې خدای څرنګه غواړي چه تاسو سره خبرې وکړي. ددوهم لوست د پیل څخه مخکې زبور ۱۳۹ ولولئ. او د هغه عجیبه او مافوق الطبیعه حقیقت په باره کښې چې پدې زبور کښې د خدای د نقشې په باره کښې مطرح کیږي ژور فکر وکړئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

د ځوابونو شماره او تمرینونو ته ځواب په مسلسل ترتیب سره ندی ذکر شوی ترڅو تاسو خپل د نظر وړ تمرین ته د مراجعې په وخت کښې وروستنی ځواب ونه ګورئ. کوشش وکړئ چې یوازې د هغې پوښتنې شمارې ته مراجعه وکړئ دکوم چې لیدل غواړئ.

7. ا. (۱) دخدای پیژندنه
ب. (٤) یو بل سره اوسېدل
ج. (۲) ډول ډول توب (اختلاف)
د. (۳) معیار
ه. (۳) معیار

1. ستاسو خپل ځواب، (دپیدایښت د کتاب په لومړي فصل کښې ډېر زیات ځایونه موجود دي چې خدای ورته پلان تیار کړی

دی لکه د رڼا او تیارې حالت (۲- ٤ آیتونه) دریابونه او ځمکه (۹-۱۰ آیتونه)، او بشري نوعیت (۲٦-۲۷ ایتونه).

8. لکه څنګه چې مخکې تشریح شوه ستاسو په ځواب کښې باید دا اړخونو شامل وي: معرفت، بېلابیل توب، معیار، او یو او بل سره اوسېدل.

2. ستاسو خپل ځواب. د دې سلسلې د لوستلو په اړوند ستاسو تصمیم پخپله ددې مطلب ښکارندوی دی چې تاسو د انتخاب د قدرت څخه برخمند یاست. دا هغه طریقه ده چې خدای غواړي تاسو ورباندې د خپل ځان په څېر کړي او خپل ځان سره ورته والی درکړي.

9. ج. د مسیح سره وفادار پاتې شو.

3. ا. قدمونه او د هغه په لاره تګ.

ب. تکلیفونه.

ج. د کومو شیانو څخه جوړ او څرنګه شکل یې خپل کړ.

د. د هغه د ورځو شمیر.

10. ا- ډول ډول توب.

4. ستاسو خپل ځواب.

11. د خدای کامله اراده کولای شي چې دیو فرد د تیرو شویو ماتو سره سره هم سرته ورسیږی.

5. ا. هغه د خدای اراده سرته ورسوله.

ج. هغه حقیقت بیان کړ.

12. ستاسو خپل ځواب. زیار باسئ چې په خپل ژوند کښې د خدای د کار څخه په پراخه پیمانه خبرتیا ولرئ.

6. ج. تورپیکې دا یادوي چې څرنګه د خپل استاد داستعداد څخه استفاده وکړي ترڅو سپوږمۍ سره د مقدس کتاب په مطالعه کښې ملګرتیا وکړي.

دوهم لوست

# آیا خدای به بله مرحله راته ښکاره کړي؟

د هغه پلان څخه چې خدای يې زما لپاره لري، ډاډه نه یم.....

په دی کښې شک نشته چې اوس مو مسیح د خپل خلاصوونکي په صفت منلی دی. او دا دی، دې نتیجی ته هم ورسیدئ چې خدای ستاسو د ژوندون لپاره یوه طرحه لري. زه پدی پوهیږم چې تاسو غواړئ چې د هغه دارادې پیروي وکړئ.

مګر شاید اوس د هغو اړیکو په باره کښې چې دالهي طرحې سره يې لرئ د فکر په دریاب کښې ډوب اوسئ او پکښې دلچسپی لرئ. ممکن باور او ډاډ نلرئ چې تاسوهم د خدای دنقشې یوه برخه یاست او خدای غواړي چې د خپلې نقشې په اړوند تاسو سره خبرې وکړي.

ددې درس د مطالعې په سبب به د هغه موقعیت څخه خبر شئ چې د خدای په نقشه کښې یې لرئ او طرحه شوي حقیقتونه به تاسو ته دا وښايي چې دا ولې کیدای شي چې ډاډ مند اوسئ چې خدای به تاسو سره خبرې وکړي. پدې لوست کښې به د هغو مدرکونو او وعدو په اړوند خبرې هم وشي چې خدای یې د هغه پلان په سرته رسولو کښې لري چې ستاسو لپاره تیار شویدی.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ دا دی تاسو د خدای په نقشه کې قرار لرئ
- ❖ خدای ستاسو څخه غواړي چې د هغه د نقشې تابعداري وکړئ
- ❖ خدای غواړي چې خپله نقشه څرګنده کړي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- ❑ د هغې اړیکې څخه مطمین اوسئ چې همدا اوس یې د خدای د طرحې سره لرئ.

- دا خبره تشریح کړئ چې خدای ولې غواړي چې د هغه د نقشې تابعداري وکړئ.
- خپل د اطمینان دلیلونه ذکر کړئ چې ولې خدای غواړي خپله نقشه تاسوته ښکاره کړي.

## دا دی تاسو د خدای په نقشې کې قرار لرئ

په مسیح باندی د یوایماندار په صفت دا اطمینان په تاسو کښې شته چې مسیح مو منلی او پدی ډول د خدای د زوی توب مقام ته رسیدلی یئ. دا هغه اطمینان دی چې تاسو ورته د خدای د ارادې او طرحې د هغې برخی په پیژندلو کښې اړتیا لرئ چې تاسو ته معلومه نده. موقعه راکړئ چې یوه شېبه د عیسی مسیح د منلو او د توبې په وخت ستاسو په تجربه یو نظر واچوو ترڅو پدې کار سره هغه ډاډ ګیرنې او باور سره مو یو څه مرسته کړې وي. سره ددې چې ستاسو تجربه به ډیره ځانګړې او بی مثاله وي خو بیاهم د هغو ټولو خلکو دتجربو سره یو څو شریک ټکي لرئ چې په مسیح باندې یې ایمان راوړی وي.

### تاسو په مسیح باندې ایمان راوړی دی

په مسیح باندی ستاسوایمان راوړل نه یو اټکل و او نه یو تصادف او یا فال. دغه عظیمه رابطه تصادفی هم منځ ته نده راغلې تر اوسه پوری هیڅچا پدې ډول خلاصون نه دی موندلی. خدای پخپله په یوی طریقی سره خپله نقشه تاسوته څرګنده

کړه. ددی څخه لا زیات، خدای تاسو سره پخپله ستاسو د ژوندون لپاره د خپلې خاصې طرحې په باره کښې خبری هم وکړې. هغه ارتباط چې پدې طریقې سره منځ ته راغلی دی هم په خپل ذات کښې ستاسو خلاصون نه حسابیږی. بلکه هغه وخت چې فرمانبردار شوئ، نو خلاصون مو ترلاسه کړ.

ظاهري عمل هم، ستاسو په خلاصون کښې ضروري عنصر نه ؤ، بلکه ستاسو تابعداری ډیر اهمیت درلوده. په ټولو هغو لارو کښې چې مقدس کتاب یې د خلاصون لپاره ذکر کوي، یو مشترک عنصر په سترګو کیږي چې هغه ایمان دی. له همدې کبله د هغه څه چې مونږ یې تل باید تابعداري وکړو دادی چې مونږ باید ایمان راوړو. د بیلګې په توګه، هغه ځواب ته چې پولوس او سیلاس د فلیب د زندان بندیانو ته ورکړی ؤو یوه لحظه فکر وکړئ. هغوی پوښتنه وکړه چې "ای صاحبانو زه څه وکړم چې خلاصون حاصل کړم؟" (اعمال ۱٦: ۳۰). دپولوس او سیلاس ځواب باید د خلاصون ډیر ساده تعلیم وګڼل شی چې ویې ویل: "په مالک عیسی باندی ایمان راوړه او ته اوستا کورنۍ به خلاصون ومومي" (اعمال ۱٦: ۳۱). زندانیانو ته پکار وو چې د دې تعلیم تابعداری وکړي او په مسیح ایمان راوړي څو خلاصون ومومي.

په همدی ترتیب ستاسو د اطاعت په ځواب کښې عیسی مسیح راغی او ستاسو په زړه کې یې د اوسیدلو لپاره ځای ونیوه.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

1. لاندينی متنونه ولولئ. هغه حالت چې د فرد د فرمانبردارۍ په بدل کښې دهغه په زړه کښې دايمان د ځای نيولو ښکارندوی دی، ورباندې نښه ولګوئ.
   أ. مرقوس ۱۵: ۱۳
   ب. لوقا ۱: ٤٥
   ج. يوحنا ۱۷: ۸
   د. اعمال د رسولانو ۱۸: ۸.
2. آيا خلاصون د تابعدارۍ نتيجه ده؟ څرنګه کيدای شي چې داخبره تشريح کړئ؟

### تاسو د خدای د کلام تابعداري کړې ده

هغه وخت چې مسيحيان شوي يئ نو په حقيقت کښې مو د مقدس کتاب چې د خدای کلام دی فرمانبرداري کړيده. مقدس کتاب دی چې مونږ سره د خدای د شخصيت، دهغه د پاکۍ او د هغه د زوی عيسی مسيح په باره کښې خبرې کوي. مقدس کتاب دی چې وايي: "مسيح دی دنيا ته راغی، مړشو، بيا ژوندی شو، او ګناهونه بخښی. په بل عبارت، دخدای د کلام او اردې د تابعدارۍ په نتيجه کښې چې په مقدس کتاب کښې يې بيان راغلی دی، تاسو عيسی مسيح قبول کړيدی. او د هغه

د ارادې څخه د پوره خبرتیا پیدا کولو سره د خدای زامن شوي یئ.

## تاسو دروح القدس فرمانبرداري کړېده

په هماغه وخت کښې چې د مقدس کتاب د حقایقو سره مخامخ وئ، نو بې د کوم شک او شبهې ستاسو په داخل کښې هم یوعامل ستاسو د باور لپاره کار کاوه او ستاسو د عقیدې او یقین سره یې مرسته کوله. دمثال په توګه، د عیسی مسیح د بیاپورته کیدو د حقیقت په اړوند نه یوازی تاسو د هغې څخه خبر شوئ بلکه عملاً پدې مو یقین راغی چې هغه پورته شویدی او اوس هم ژوندی دی. دغه کار د روح القدس په وسیله صورت ونیوه چې تاسو یې رښتینولۍ او د حقیقت لور ته رهبري کړئ. تاسو پدې باور او یقین درلودلو سره په حقیقت کښې د روح القدس فرمانبرداري کړیده.

تاسوهم د خدای د کلام تابعداري کړیده او هم د خدای د روح، او د همدې تابعدارۍ نتیجه ده چې اوس د خدای زامن یاست. هغه پلان چې خدای یې ستاسو لپاره په نظر کښې لري په راتلونکی وخت کښې نه شروع کیږی، بلکه دا پلان د هغه وخت نه پیل شویدی چې تاسو د هغه زامن جوړ شوي یاست. خدای دا قدرت لری چې حتیٰ که تاسو تری جلاهم اوسئ، تاسو په خپله طرحه کښې شامل کړي. دخدای د زامنو په صفت کولای شئ مطمین اوسئ چې هغه به تاسو سره خبرو کولو ته دوام ورکړي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

3. د خپل يادداشت په کتابچې کښې هغه رابطه واضيح کړئ چې اوس يې د خدای طرحی سره لرئ. او داهم په ډاګه کړئ چې ځرنګه مو پدې طرحه کښې ځای ونيوه. ستاسو ځواب بايد د دريو او يا څلورو جملو څخه زيات نه وي.

## خدای ستاسو څخه غواړي چې د هغه د نقشې تابعداري وکړئ

خدای زمونږ څخه د زوی ولۍ په مقام تابعداري غواړي. دا هغه طريقه ده چې مونږ ورباندې د هغه د طرحې تابعداري کولای شو. دغه غوښتنه هميشه په مقدس کتاب کې په سترګو کيږی. (د ساری په توګه: تثنيه ۲۷: ۱۰، اول سموئيل ۱۲: ۱٤، متی ۱۹: ۱۷ ته مراجعه وکړئ).

د خدای د کلام، شريعت او دهغه د تابعدارۍ سره مينه لرل داسې موضوعګانې دي چې په زبور ۱۱۹ کښې سر تر پايه ليدل کيږي (د مثال په توګه دغه ايتونه ولولئ ۱۱۹: ٤۷، ۹۷، او ۱٦۷).

## ستاسو فرمانبرداري برکت منځ ته راوړي

د دې خبرې ډیر لوی دلیل چې خدای زمونږ څخه فرمان-برداري غواړي دا دی چې فرمانبرداری زمونږ ژوندون لره د برکتونو څخه د ډکوالی سبب ګرځي. د بنی اسرائیلو قوم په مصر کښې د غلامۍ په دوره کښې د ډیرو سختیو او زَورَونو لاندی ډیر تریخ ژوند درلود. خو خدای هغوی د مصر څخه را وویستل او د غلامۍ او سختیو څخه یې خلاص کړل. نو هغوی دا قصد وکړ چې د یو نسل د ختمیدو په موده کښې دی دوی په دښته کښې ژوندون وکړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

4. د خروج کتاب ۱۵: ۲٦ کښې ډیره ځلانده وعده ده چې خدای یې خپل قوم ته ورکوي. دغه ایت ولولئ او خپل د یادداشت په کتابچه کښې د دی ایت په رڼا کښې دلاندی سوالونو ځوابونه ولیکئ.
   - أ. خدای خلکو نه غوښتل چې څه وکړي؟
   - ب. که چیرې قوم هغه کار سرته رسواوه کوم به چې خدای غوښته، نو څه به پیښیدل؟

لومړی زبور مونږ ته د هغه چاپه هکله خبرې کوي چې د هغه

مینه د خدای سره وه. دوهم آیت یې مونږ ته دا وایي چې دې شخصیت ډېر زیات برکتونه لاس ته راوړي ؤو او د هغه د ژوندون مثال د هغې شنې میوه دارې ونې په شان دی چې ټول عمر پانی نه رژوي. او دا شخصیت د ژوندون په ټولو کارونو کښې بریالی او سرلوړی ؤ.

په مقدس کتاب کښې نور ډېر آیتونه هم د خدای د هغو برکتونو په اړه توضیحات ورکوي چې دخدای د فرمانبردارۍ په نتیجه کښې، او دهغه د ارادې د پوره کولو په وسیله لاس ته راځي. دغره په سر په وینا کښې عیسی مسیح هغو کسانو ته دنیکبختۍ وعده ورکوي چې د هغوی شخصیت د عیسی مسیح د شخصیت په څیر وي، یعنی پاک زړه درلودونکی، رحم کوونکی او سوله خوښوونکی وي (متي ۵- ۷). همدارنګه درومیانو په خط ۲: ۷ کښې د تل پاتې ژوندون وعده هغه کسانو سره شویده چې دنیکو کارونو په سرته رسولو کښې زیار باسي.

## ستاسو فرمانبرداري د خدای پادشاهي برقراره ساتي

د خدای د پادشاهۍ وده او پراختیا زمونږ په فرمانبردارۍ پورې اړه لري. دا خبره په څرګنده توګه د هغو دعایه الفاظو څخه رامعلومیږی چې عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته ښودلې وه. "ای په آسمان کښې زمونږ پلاره! ستا نوم دی پاک وي، ستا پادشاهي دې راشي، ستا رضا دې په زمکه پوره شی لکه څنګه چې په آسمان کښې پوره کیږي..." (متي ٦: ١٠).

د خدای د پادشاهۍ د برقرارۍ لپاره تابعداري یو ضروري کار دی. په مقدس کتاب کښې په کراتو وینو چې هر وخت ولس دخدای د ارادې تابعدار شوی دی نو د خدای پادشاهی هم برقراره شوې ده. او دا هم وینو چې کله د خدای زامنو نافرماني کړې ده نو د خدای نقشې ته زیان رسیدلی دی او دپوره کیدو په لار کښې یې خنډ پیدا شویدی.

د مثال په توګه، حضرت آدم د عدن په باغ کښې د ښو او بدو دپیژندلو د ونې څخه میوه وخوړه (پیدایښت ٤: ٦). آیا د خدای خلقت په دی کار سره برکت پیدا کړ، او که لعنت پرې وشو؟ مخکې له دې چې آدم د هغې ونې میوه وخوري، په هر ځای کښې آرامي خپره وه. حتیٰ چې یو ځای هم داسی نه لیدل کیده چې یو حیوان دی بل حیوان ووژني. اغزی او خاشاک نه وو. آدم دا موقعه په لاس کښې درلوده چې دخپلې زیږندې سره دغه آرامه زمکه د سولې او ورورولۍ څخه ډکه کړي. مګر وګورئ! کله چې د هغه نافرمانی منځ ته راغله څه ډول پیښې رامنځ ته شوې.

د خدای صفا او ځلانده ځیره په آدم کښې تیاره او خیرنه شوه. آدم خپله ښځه تورنه او ملامته کړه او د خدای د حضور څخه پټ شول.

په دغه وخت کښې هغه زمکه چې خدای پیدا کړې وه، او ټول هغه مخلوقات چې په ځمکه کښې ؤو د خدای د لعنت لاندی ښکیل شول، یعنی زمکه، حیوانات او پخپله د انسان. نافرماني د خدای په پادشاهۍ اغیزه وکړه (پیدایښت ٣: ٨-

۱۹). لکه چې د آدم نافرمانی د خدای په پادشاهۍ منفي اغیزه کړی وه په هماغه اندازه د مسیح تابعدارۍ د خدای په پادشاهۍ مثبته اغیزه وکړه. په حقیقت کښې د ټولې ځمکې سلطنت هم د عیسی مسیح او هم د آدم تر اغیزې لاندنې راغلی ؤ. د دوی دواړو اعمالو ډیری لوئی لوئی نتیجی د ځان سره راوړې. په آدم ټول کائنات تر لعنت لاندی ښکیل شو، او په مسیح ټولو مخلوقاتو خلاصون او آزادی وموندله.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. رومیان ۵: ۱۵- ۲۱ ولولئ. دا په ګوته کړئ چې لاندینۍ نتیجې د چا د عمل په وسیله منځ ته راغلي دي. د مسیح د تابعدارۍ په وسیله او که د آدم د نافرمانۍ په وسیله؟

أ. د ټولو لپاره بخښنه راغله.

ب. مرګ حاکمیت پیدا کړ.

ج. بشریت آزاد شو او خلاصون یې وموند.

د. ژوندون ورکړل شو.

ه. محکومیت په ټولو تسلط پیدا کړ.

۱- د مسیح تابعداري ............................ ۲- د آدم نافرمانی ........................

........................ ............................

........................ ............................

نورو ډيرو خلکو هم د خدای په پادشاهۍ باندې اغيزه لرلې ده. مقدس کتاب په همدې باره کښې د ابراهيم، موسی، يوشع، داود، او ايليا نومونه او کارنامی ثبت کړيدي او ورڅخه بحث کوي. دغو ټولو کسانو د خپلې فرمانبردارۍ په سبب دخدای په پادشاهۍ کښې ډير لوی تاثير اچولی ؤ.

**اطاعت تاسو ته خوشالي راولي**

خدای دی ته ليواله دی چې زامن يې د برکتونو د لاس ته راوړلو، او د هغه د سلطنت د برقرارۍ لپاره د هغه د نقشې فرمانبرداري وکړي. له بله پلوه، خدای د خپلو زامنو د تابعدارۍ څخه په پراخه پيمانه خوند اخلي.

عيسی مسيح په دې لټه کې نه و چې خپله اراده ترسره کړي، بلکه هغه د پلار خدای د ارادی دپوره کيدو غوښتنه کوله. هغه پخپله دا شاهدي ورکوله چې: "زه هميشه هغه څه کوم کومه چې د هغه رضا ده" (يوحنا ٨: ٢٩).

نو عيسی مسيح به هغه کارونه کول چې پلار به ورباندې خوشاليده. فرمانبرداری د پلارولۍ او زوی ولۍ د اړيکو کاميلت څرگندوي. خدای څومره خوشاله و چې کله يې وليدل چې د هغه يوازينی زوی تر ډير حده پوری په فرمانبردارۍ کښې کامل و. متي ٣: ١٧ او ١٧: ٥ ته په ځير سره وگورئ. تاسو به ووينئ چې خدای د خپل زوی تابعدارۍ ته څرنگه ځواب

ورکوي او هغه قبلوي. هغه په عملي توګه د آسمان څخه خبرې وکړې او خپله خوشالي يې ښکاره کړه. تاسو هم د هغه د زوی په صفت کولای شئ چې د خپلې تابعدارۍ له لارې خدای خوشاله کړئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

6. خدای ولې له تاسو نه غواړي چې د هغه د نقشې فرمانبرداري وکړئ؟ د دې موضوع په اړوند درې دليلونه بيان کړئ.

## خدای غواړي چې خپله نقشه څرګنده کړي

که چيرې خدای دا قدرت لري چې مخکې له دې چې مونږ يې زامن شو خپله اراده مونږ ته راوښئي، او هم د خپلو زامنو په تابعدارۍ خوشاليږي، نو آيا خپله اراده به مونږ ته څرګنده نکړي چې تابعداري ورڅخه وکړو؟

ځينې په داسې ډول خدای ته ورځی چې ګوندې دوی خدای قانع کوي چې خپله اراده ورته څرګنده کړي. دغه کسان ډيره بې اندازې دعا کوي او دا غير ممکنه ګڼي چې د خدای په نقشې باندې د پوهيدلو نه بغير په عمل لاس پورې کړي.

آيا دا هماغه تصوير دی چې مقدس کتاب يې مونږ ته راښيي؟ نه! هيڅکله نه! هغه مثالونو ته په غور سره فکر وکړئ چې عيسی مسيح دانسان د مسئوليت په اړوند بيان کړيدی. دغه ډول مثالونه يو څه په متي ۲۵: ۱۴-۳۰ او لوقا ۱۲: ۴۲-۴۸

کښې ليکل شوي هم دي.

هغه په هيڅ ځای کښې نه دي ويلي چې انسان ته لاژم دي چې د هغه څه په پيژندنه کښې د مشکلاتو سره مخ شي چې خدای يې ورڅخه غوښتنه کوي. خدای غواړي چې خپله نقشه انسان ته څرګنده کړی! مګر دا مطلب د کومو حقيقتونو څخه په ډاګه کيږي؟

مونږ ددی لاری څخه پوهيږو چې خدای مونږ ته خپله طرحه ظاهرول غواړي چې زمونږ دلارښوونې وعده يې کړيده. هغه مونږ بغير د لارښوده څخه نه پريږدي.

هغه وخت چې عيسی مسيح د ځمکی پرمخ ژوند کاوه نو شاګردانو يې د خدای دارادې څخه په خبرتيا کښې کوم مشکل نه درلود. هغه به په ډيره ساده رويه شاګردانو ته داښودله چې بايد څه وکړي او دخدای اراده د دوی لپاره څه ده. عيسی به هغوی هر وخت او هرځای ته چې وغوښته، ورليږل ترڅو زيری بيان کړي. هغه وخت چې عيسی پنځه زره تنو ته په معجزانه ډول د پنځو ډوډيو او دوه ماهيانو څخه خواړه ورکول نو هغه خپلو شاګردانو ته وويل چې څرنګه د خلکو خدمت وکړي (لوقا ۹: ۱٤).

د عيسی مسيح شاګردانو، نه يوازې د عيسی د ويناوو څخه بلکه د هغه د ژوندون د پيښنو څخه ډير څه زده کړي ؤو. پدی کښې هيڅ شک نشته چې هر چيرته به هغه تللو، نو شاګردان هم د هغه د خدمت يوه برخه شميرل کيده. هغوی به په دی ترتيب د

خدای په اراده پوهیدل. مګر مسیح هم پدې پوهیده چې هغه د تل لپاره نشي کولای چې هغوی ته په دې ډول تعلیم ورکړي.

کله چې هغه آسمان ته پورته کیده، په هغه صورت کښې به هغوی د کوم ځایه پدې پوهیدل چې څه باید وکړي؟ آیا شاګردان به حیران پاتې کیدل؟ خپله اراده به یې څرنګه هغوی ته بیانوله؟ د یوحنا انجیل ۱٤: ۱٦ هغه څه چې عیسی مسیح د خپلو شاګردانو سره هغه وخت ته دتیاری لپاره کړي ؤو چې نور هغه ورسره نه وي، په ډیره ښه توګه څرګند کړیدي. عیسی مسیح کله چې آسمان ته تللو هغوی ته یې ویلي ؤو چې هغه د څه لپاره هلته ځی؟ او د کوم کار د سرته رسولو په خاطر پورته کیږي؟ (خپلو پیروانو لپاره د دایمي استوګنځي د تیارولو لپاره).

عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته دا هم ویلي ؤو چې د هغه په پورته تللو دی نه خفه کیږي. په حقیقت کښې عیسی هغوی ته وویل چې دده پورته تګ د هغوی لپاره یو لوی امتیاز دی. ځکه چې روح القدس هغه وخت رانازلیږي چې عیسی مسیح په دنیا کښې نه وي. او همدا روح القدس په الهي نقشه او اراده باندې دپوهیدلو کیلي ده (یوحنا ۱٦: ۷).

یوازې او یوازې په همدې دری فصلونو کښې دا ډاډګیرنه په کراتو سره پیدا کولی شو چې مسیح مونږه یواځې نه یو پریښې. په وروستنی تمرین کښې به ځیني دغه ځایونوته اشاره وشي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

7. عيسی مسيح په لاندی متنونو کښې د روح القدس کار او ځانګړی صفتونه بيان کړيدی. د چپ طرف هر يوه جمله دخپل مناسب متن د حوالې سره په ښي طرف کښې يوځای کړئ.

| | |
|---|---|
| ۱- يوحنا ١٤: ١٦ | ا) هغوی ته به تعليم ورکړي. |
| ۲- يوحنا ١٤: ١٧ | ب) مسيح ته به جلال ورکړي. |
| ۳- يوحنا ١٤: ٢٦ | ج) هميشه به د هغوی سره وي. |
| ٤- يوحنا ١٦: ١٣ | د) د مسيح خبری به در يادوي. |
| ٥- يوحنا ١٦: ١٤ | ه) |

د
ر
ا
ت
ل
و
ن
ک
ی

پ
ه

ا
ړ
ه

ب
ه

ه
غ
و
ی

ت
ه

خ
ب
ر

و

ر

ک

و

ي

.

و)

د

مـ

سـ

يـ

ح

ن

ه

بـ

ه

يـ

ي

ا
خ
ل
ی

ا
و

د
و
ی

ت
ه

ب
ه

ي
ي

و

ر
ک
و
ي
.

ز) په هغوی
کښې به پاتې کيږي.

که ددی وعدی په برخه کښې يوه لحظه فکر وکړئ، نو وبه وينئ چې څومره څرګنده او روښانه خبره ده چې په رښتيا خدای غواړي خپله اراده څرګنده کړي.

**خدای ستاسو د هدايت لپاره مد رکونه چمتو کړيدي**

په دی صورت کښې خدای زمونږ د لارښونی لپاره څه شيان تدارک کړي دي؟ آيا هغه وعدې مو چه وليدلې يوازې دراتلونکي وخت لپاره وې او که په اوسني حال کښې هم ټولې د عمل په جامه کښې ليدلی شئ؟ د رسولانو د اعمالو د کتاب په دوهم فصل کښې لولو چې روح القدس په هغه ډول ورکول کيږي کوم شان چې مسيح يې وړاندوينه کړې وه. مسيح په رښتيا آسمان ته بيرته لاړ. مسيح په حقيقت کښې د پلار خدای نه وغوستل چې روح القدس را نازل کړی. کليسا په رښتيا هغه څه لاس ته راوړل چې ورسره وعده شوې وه.

د رسولانو د کارونو کتاب يوازې د روح القدس د نازليدلو

په اساس د مسیح د وعدې عملي جامه اغوستل نه ځرګندوي. بلکه پدې کتاب کښې ګورو چې دغه عالی مدرک او پوهه درسولاتو په لارښونه کښې ډیر موثر او مناسب ؤ. په حقیقت کښې د روح القدس د نازلیدو څخه وروسته هغوی د هغه وخت څخه زیات په خدمت کولو قادر ؤو، کله چې عیسی مسیح هغوی سره په زمکه ژوندون تیراوه، د مسیح تلل د هغوی له پاره یو سرلوړي وه لکه څنګه چې مسیح پخپله هم هغوی ته ویلي ؤو.

له همدی کبله مقدس کتاب وایي چې روح القدس د عیسی مسیح تدارک دی ترڅو مونږ دخدای د ارادې د پیژندنې لورته رهبري کړي. خو ددې څخه لا زیات مقدس کتاب هم مونږ ته نورې نمونې او ځانګړي صفتونه د دې خبرې چې د روح القدس کارڅه دی، او دهغه تعلیمات څرنګه دي، بیانوي. مقدس کتاب مونږ ته وایي چې څرنګه کولای شو د روح سره په ګډه کار وکړو او مرسته یې ترلاسه کړو.

## روح القدس دعا کوي

په دې کښې هیڅ شک نشته چې د دې سوال دکولو په وخت کښې چې (آیا خدای به ما ته ووایي چې زما وروستی ګام څه دی ؟) د دی ستونزې سره مخامخ شوي اوسئ چې (څرنګه او دڅه لپاره دعا وکړو؟) خدای د دی ستونزې لپاره یوه مناسبه بله چاره او مدرک کتلی دی. روح القدس حتی کولای شي چې ستاسو له لارې دعا وکړي. او دغه کار به دپلار خدای په کامله

اراده کښې سرته ورسوي. ستاسو دعا کیدای شي چې د پلار خدای د شوق په پوره توګه بیانونکی وي (رومیان ۸: ۲۶- ۲۷).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

8. رومیان ۸: ۲۶- ۲۷ ولولئ. د دې آیتونو په رڼا کښې زمونږ دعاوې دخدای د شوق په پوره ډول بیانونکې وې ځکه ..................................

أ. روح القدس هغه څه مونږ ته وائي کوم چې لازم وی چې مونږ یې و وایو او دعا پرې وکړو.

ب. روح القدس پخپله زمونږ له لارې دعا کوي.

ج. مونږ پوهیږو چې څه باید ووایو.

### روح القدس تحفې ډالۍ کوي

یو بله طریقه چې روح القدس د هغې په وسیله مونږ ته د خدای د ارادې په هکله خبرداری راکوي هغه تحفی او ډالۍ دي چې روح القدس یې بخښي. دغه ډالۍ د کورنتیانو په نوم لومړني لیک دولسم او څوارلسم فصل کښې شرحه شویدي. دغه ډالۍ عیسی مسیح ته جلال (لوئي، عظمت ) او عزت ورکولو لپاره دي چې هم کلیسا جوړوي او هم دهغی وګړي.

مونږ دپوهې او هوښیارۍ دکلام په وسیله یوه ځانګړي بصیرتي قوه دخدای د فکر او شخصیت په اړوند لاس ته راوړو، او دغه د لیدلو قوه زمونږ د طبیعي شعور څخه ډیره او چټه ده. او هغه څه چې د دې بینایۍ او لیدلو د قوي په وسیله زده کوو، نو زمونږ عادي شعور د هغې په ترلاسه کولو قادر ندی.

## روح القدس استوګن کیږي

روح القدس په تاسوکښې د خدای د زوی په صفت، په پوره او ریښتې طریقې سره استوګنه غوره کوي، تاسو هغه وسیله یاست چې روح القدس دهغې دلارې خبرې کوي.

مسیح د روح القدس په وسیله چې په هغه کښې یې استوګنه کوله دښتی ته بوتلل شو (متی ٤: ١). روح القدس و چې فیلپوس ته یې لارښوونه وکړه څو حبشي خواجه ته زیری بیان ورسوي (اعمال ٨: ٩). پولوس غوښتل چې آسیا ته د زیري ورکولو لپاره لاړشي خو د روح القدس د لارښوونې سره سم اروپا ته لاړ (اعمال ١٦: ٦-١٠). په همدې ډول هغه روح القدس چې په تاسوکښې اوسیږي یوه داسې وسیله ده چې تاسو دخدای د ارادې په لور رهبري کوي.

## دا روح القدس ؤ چې مقدس کتاب یې ډالۍ کړ

یوه بله خاصه لاره هم شته چې خدای د روح القدس لپاره برابره کړې ده څو د هغې لارې څخه مونږ ته لارښوونه وکړي. دا

لاره همدغه مقدس کتاب دی. په بل لوست کښې به وګورو چې ځرنګه خدای خپله وینا زمونږ د هدایت لپاره کاروي. خواوس همدومره زده کړئ چې د خدای کلام، یعنې مقدس کتاب د روح القدس د کار نتیجه ده (دوهم پطرس ۱: ۲۱). مقدس کتاب هغه وسیله ده چې په اوسني وخت کښې روح القدس د هغه له لارې خبرې کوي او هغه معیار دی چې مونږ د هغه له لارې نور پیغامونه د څیړنې او قضاوت لاندې نیسو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

9. دا به فرض کړو چې یو ملګری ستاسو څخه پوښتنه کوي چې: "د کومه ځایه پوه شم چې خدای غواړي خپله نقشه ماته څرګنده کړي؟" لومړی هغه برخه چې د دی سوال پورې اړه لري مطالعه کړئ. بیا د خپل یادداشت په کتابچې کښې په داسې ډول ځواب ولیکئ چې دغه لاندیني حالات پکښې شامل وي:
   أ. د مسیح هغه وعده بیان کړئ چې پدی بنا شویده چې څرنګه به دخدای د ارادې لورته رهبری شو؟
   ب. ووایاست چې د مسیح وعده څرنګه سرته ورسیده؟.

ج. هغه څلور طریقې بیان کړئ چې روح القدس د هغې د لارې الهی طرحه مونږ ته څرګندوي؟

تاسو د خدای زامن یاست. آیا هغه به تاسوته ووائی چې ستاسو وروستی ګام به څه وي؟ هو! پدې پوره باور وکړئ چې خدای قادر دی چې تاسو سره خبرې وکړي، او غواړي چې تاسو د هغه د ارادې څخه خبر شئ او همدا اوس یې هم داسې یوه لاره سنجولې ده چې تاسو سره ورباندې خبرې وکړي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

5. د لومړني ستون لاندی چې د مسیح د فرمانبرداری په اړه ده باید دا موارد شامل وي.
   أ. د ټولو لپاره بخښنه راغله.
   ج. بشریت آزاد شو او خلاصون یې وموند.
   د. ژوندون ورکړی شو. او د دوهم ستون لاندی چې د حضرت آدم د نافرمانۍ په اړه ده باید دا موارد ولیکل شي.
   ب. مرګ حاکمیت پیدا کړ.
   ه. محکومیت په ټولو تسلط پیدا

کړ.

1. ج يوحنا ١٧: ٨.

د. اعمال ١٨: ٨.

6. خدای له تاسو څخه غواړي ترڅو د الهي پلان تابعدارۍ ته دوام ورکړئ. ځکه ستاسو فرمانبرداري، برکت منځ ته راوړي، د خدای پادشاهي برقراره ساتي او خدای خوشالوي.

2. ځکه يوکس هغه وخت خلاصون مومي چې د دې تعليم اطاعت کوي چې ((په مالک عيسی مسيح ايمان راوړلو)). ستاسو ځواب بايد دی ځواب ته ورته وي.

7. الف. ٣- يوحنا ١٤: ٢٦

ب. ٥- يوحنا ١٦: ١٤

ج. ١- يوحنا ١٤: ١٦

د. ٣- يوحنا ١٤: ٢٦

ه. ٤- يوحنا ١٣:١٦

و. ٥- يوحنا ١٦: ١٤

ز. ٢- يوحنا ١٤: ١٧

3. ستاسو خپل ځواب، زما ځواب پدې ډول

دی ((که چیرې تاسو په مسیح ایمان لرئ، نو په دې صورت کښې همدا اوس په هغې تابعدارۍ چې ښکاره کړې مو ده د خدای په نقشه کښې ځای لرئ. تاسو په مسیح د ایمان راوړلو سره او د خدای د کلام او د روح القدس په شهادت باندې د باورکولو په وسیله دخدای فرمانبرداري کړیده.

8. ب. روح القدس پخپله زمونږ په وسیله دعا کوي.

4. ا. هغوی ته یې وویل چې د هغه د ټولو قوانینو تابعداری وکړي.

ب. هغوی ته یې وویل چې هغوی به د ټولو هغو ناروغیو او افتونو څخه په امان کښې وي چې په مصریانو باندې راتلونکي دي.

9. ستاسو ځواب باید لاندیني ځواب ته ورته وي.

أ. مسیح وویل چې روح القدس به راشي ترڅو ایماندارانو ته لارښوونه وکړي.

ب. د روح القدس د نازلیدو په اړوند د عیسی مسیح وعدی د

پنطکاست په ورځ عملی جامه واغوستله.

ج. روح القدس زمونږ دلاری دعا کوي، د هوښیاری او علم او پوهی تحفی بخښی، په مونږ کښې استوګنه کوي، هغه مقدس کتاب مونږ ته ډالی کړی دی چې دخدای کلام دی.

# ستاسو یادداشت

دریم لوست

# آیا خدای له اندازې څخه زیاته طمع لري؟

... دخدای نقشه ډیره لویه او پراخه ده!

سام اولس کلن ؤ او د لومړي ځل لپاره د خپل ښار څخه بهر تللی ؤ، هغه ډیر کلونه په خپل زیږید ځای کښې چې یو کوچنی ښار ؤ په تعلیم مشغول ؤ. اوس تللی ؤ ترڅو د پایتخت په پوهنتون کښې خپل تعلیم ته دوام ورکړي. صنف ته د حاضریدو لومړنۍ ورځ ورته په حقیقت کښې یوه تعجب اوره نه

خوشالوونکې او زړه ماتوونکې ښکاریده. د هغو افرادو شمیره چې د پوهنتون په هر صنف کښې به یې ګډون کاوه د هغه ښوونځي د ټولې شمیرې څخه زیات ؤ چې سام پخوا پکې درس لوستلی ؤ. سربیره پر دې استاد هم هغه کارونه او مسئولیتونه چې باید شاګردان یې د تعلیمی کال په لړ کښې سرته ورسوي هغوی ته اعلان کړل. دا څه متنونه ؤو چې لوستل یې لازمي ؤو، دلیکنې کارونه او مسئولیتونه ؤو چې باید ولیکل شي، د امتحاناتو تقسیم اوقات، شفاهي راپورونه چې باید کار ورباندې وشي او څه پروژې او تحقیقونه ؤو چې باید عملي شي. د دې ټولو سرته رسول غیر ممکن بریښیدل. همدا ؤ چې سام یې په حقیقت کښې خفه او نا امیده کړ. هغه څه چې سام ورباندې نه ؤ پوه شوی دادي چې ټول دغه کارونه او مسئولیتونه دیوی ورځې لپاره نه ؤو چې خامخا به ټول په یوه ورځ سرته رسول کیږي، بلکه کلنی تدریسي پلان ؤ. ددې سره سره، استاد پخپله هم مرسته او لارښوونه کوله. معلم د همدې لپاره په هغه ځای کښې ؤ چې د سام سره مرسته وکړي ترڅو خپلو درسي اهدافو ته ورسیږي. صحیح ده! دخدای د نقشې سرته رسول یوازې زمونږ د طبعیی طاقت په وسیله، یو غیر ممکن کار دی. خو کله چې خدای پخپله د انسان سره وي، نو هر څه د امکان وړ او اسانه وی.

پدې لوست کښې به وګورو چې خدای زمونږ څخه دڅه او څومره طمع لري چې ویې کړو او وخت به لټوو ترڅو هغه اهداف چې د خدای له خوا زمونږ لپاره ټاکل شویدي

پکې برلاسي شو، او هغه زمونږ لپاره او په مونږ کښې کوم کار سرته رسولی شي.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ خدای د ډیرو لویو شیانو طمع لري
- ❖ خدای په قدرت سره مرسته کوي
- ❖ کله چې مونږ ماتې خورو خدای مونږ نه خوشې کوي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو. . .

- ❑ د هغه څه صفات بیان کړئ چې خدای یې زمونږ څخه طمع لري.
- ❑ وپوهیږئ چې څرنګه کولای شو د خدای هیلې او طمعې ترسره کړو.
- ❑ دا توضیح کړئ چې ولې زمونږ قصورونه هغه نقشه له منځه نه وړی چې خدای یې زمونږ لپاره لري.

## خدای د ډیرو لویو شیانو طمع لري

هغه وخت چې د خدای سره په الهي پلان کښې په ګډه کار او مرسته کوئ، نو یو خوشاله زړه راښکونکې راتلونکی د خپل ځان لپاره لټوئ او ترلاسه کوئ. هغه پلان چې خدای یې

ستاسو لپاره د ځان سره لري د نیکۍ او ابدیت پلان دی. موقعه راکړئ چې په ځینو هغو هدفونو فکر وکړو چې خدای زمونږ لپاره ټاکلي دي. دغه هدفونه دالهي نقشې یوه برخه ده. مونږ به په خاصه توګه هغه ګروپ اهداف تر څیړنې لاندې ونیسو چې خدای زمونږ ټولو لپاره ټاکلي دي. لکه څنګه چې زمونږ سره په دې اهدافو باندې په برلاسۍ کښې خدای مرسته کوي نو په عین حال کښې دا قدرت هم لري چې زمونږ د شخصي ژوند نقشه خپله هم سرته ورسوي.

**بدلون**

رومیان ۱۲: ۲ مونږ ته وایي چې مونږ باید په پوره توګه بدل شو. زه فکر کوم چې پدې دنیا کښې به زیات کسان وي چې غواړي بدلون ومومي. مګر هغه وخت چې د دې هدف پسې لټه کوي ترڅو د نورو اشخاصو یا د یو څه تقلیدي عقایدو څخه یې لاس ته راوړي، او تقلید یې وکړي، نو یوازې یوڅه ظاهري شیان پکښې بدلون مومي. آیا ټوله الهي طرحه همدا ده؟ آیا خدای زمونږ څخه غواړي چې یوازې د هغو کسانو یوه دوهمه بڼه شو چې ښه خلک ښکاري؟ ددې کار پوره کول نه یوازې مشکل بریښي، بلکه غیر ممکن هم دی. له بله پلوه، که چیرې لاس ته یې راوړو کوم ارزښت به ولري؟ تاسو څوڅو ځله د الهي نقشې د لویوالي په اړه فکر کړیدی!

پدې نقشه کښې آیا همدا کافي ده چې مونږ دې یوازې د نورو کاپي واوسوو؟ دغه نظریه هم دیره مناسبه

نه ښکاري.

بدلون د تقلید څخه یو وړاندینې ګام او یو ډیرلوی شی دی. بدلون د الهي نقې کیلي ده. د بدلون څخه بغیر د الهي نقشې یوه ډیره لویه برخه لاس ته نه شو راو ړلی.

فریسیانو (یهودي دیني لارښوونکو) د مذهبي رسمونو تقلید کاوه. هغوی بدل شوي نه ؤو. وګورئ چې عیسی مسیح په متي ۱۵: ۷-۸ کښې د هغوی سره څرنګه خبرې کوي.

دغو فریسیانو خپلو دښمنانو سره مینه نه کوله او داهم ډیره عجیبه خبره نه ده. مونږ هم په خپل طبیعت نشو کولای چې دهغوی سره محبت وکړو او نه خپلو بد ویونکو ته برکت وغواړو. که چیری د غره په سر د عیسی مسیح وینا ته متوجه شو، نو وبه وینو چې د مسیح ډیر کارونه او لارښونی مطلقا غیر ممکن دی... مګر دا چې بدل شوی یو، نوبیا ډیر آسانه بریښي.

شاید همدا اوس به هم، د ځینو هغه امیدونو او هیلو سره مخ یاست، چې غیر ممکن بریښي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

1. د چپ طرف په قطار کښې دخدای د کلام یو څو آیتونه ذکر شویدي. دغه آیتونه ولولئ. بیا هر یوه ته د هغه کس سره تړاو ورکړئ چې د ښي طرف په قطار کښې په

توصيفي توګه ذکر شويدي.

۱- هغه څوک چې هڅه کوي ترڅو تقليد وکړي.

۲- هغه څوک چې بدل شوی دی.

أ. متي ۵: ٤

ب. متي ۵: ٤٤

ج. متي ٦: ۲

د. متي ٦: ۵

ه. لوقا ٦: ۳٦

**تابعداري**

په تير شوي درس کښې په دې حقيقت و پوهېدو چې خدای زمونږ څخه د تابعدارۍ طمع لري. کله چې مونږ وغواړو فرمانبرداري وکړو او هغه هم غواړي چې مونږ دې فرمانبرداره اوسو، آيا داسې کوم شی شته چې په دې لارې کې خنډ واقع شي؟ هو! ډير شيان خنډ واقع کيدای شی.

په مقدس کتاب کښې ځينې فرمانونه عملي بڼه لري. پدې معنی چې مونږ ته د يوکار د سرته رسولو دستور راکوي. خو ځيني داسې فرمانونه هم پکې شته چې انفعالي بڼه لري، پدې معنی چې مونږ ته امر کوي چې موقعه ورکړوترڅو يوکار په مونږ کښې سرته ورسيږي، او يا يو شی تجربه کړو. مونږ په کراتو ليدلي دي او شاهدي ورکوو چې د انفعالي فرمانونو

تابعداری زمونږ لپاره غیر ممکن دی. خو پدی هم باید پوه شئ چې دعملی فرمانونو تابعداري هم په همدی اندازه غیر ممکن دی، ځکه چې دغه عملی فرمانونه زمونږ څخه غواړي چې د هغه څه په خلاف رفتار وکړو چې زمونږ د طبیعی خواهشاتو په مطابق دي. حتی هغه وخت چې بدل شوی هم یو، د نیک کار سرته رسونه آسانه نه ښکاري.

د هغه وخت څخه را پدیخوا چې د یونیک او سم کار د کولو په لټه کښې یو، یعنې هغه معیار چې مسیح زمونږ لپاره ټاکلی دی، د نورو قوتونو سره په کار کښې مخ کیږي او ګورو چې دغه قوتونه کوښښ کوي چې مونږ دغلطو کارونو او تګلارو سرته رسولو ته وهڅوي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. رومیان ۷: ۲۱- ۲۳ ولولئ. او خپل د یادداشت په کتابچې کښې لاندینیو دوه سوالونو لپاره مناسب ځوابونه ولیکئ.
   أ. هغه تضاد او اخ و ډب چې پولوس دهغې په باره کښې خبرې کوي څه ؤو؟
   ب. پولوس پدې ځای کښې کوم تشریحات بیان کړیدي؟

پولوس پخپله دا شریعت او قانون د ځانه ندی جوړ

کړي. هغه دا شریعت او قانون په خپل بدن کښې په کار بوخت ولیده، دغه قانون دیو داسې کار د ساده اطاعت څخه منځ ته راوړ چې هغه یې صحیح والی پیژنده او کولو ته یې هم لیواله ؤ.

## وده او تکامل

سر بیره په فرمانبرداری او بدلون خدای زمونږ څخه دا طمع لري چې وده هم وکړو. هغه نه غواړي چې مونږ دی همیشه روحاني کوچنیان واوسو، بلکه غواړی چې د کوچنیوالی دوره تیره کړو او د بلوغ وروستني مقام ته ورسیږو. د ودې او تکامل په وخت کښې دا تصمیم نیسو چې ډیر مهم شی کوم دی، او پدی توګه کولای شو چې په صحیح توګه یې انتخاب کړو. دغه کار زمونږ شخصیت ته ټینګښت وربخښی. د ودې په وخت کښې نه یوازی زده کړه ترلاسه کوو، بلکه د اخستلو د مرحلی څخه تیریزو او د ورکولو مرحلی ته رسیږو.

مونږ د زده کړې د مرحلې څخه په تیریدو سره د تعلیم ورکولو د مسئولیت د منلو مرحلی ته ورننوځو. د دی سره سره هم زمونږ بحث په اوسني حال کښې د خدای د نقشې څخه د خبرداري په باره کښې د لومړیو پړاوونو په اړوند دی. نوروته تعلیم ورکول ممکن یو دهغه هدفونو څخه وبریښی چې لاس ته راتلونکی نه وی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. افسیانو ته د لیک څخه لاندینی آیتونه ولولئ. او دهغه آیت مقابل ته، چې د روحانی ودې جریان تشریح کوي، نښه ورکړئ.
   أ. ۲: ٤- ٥
   ب. ٤: ۱۳- ۱٥
   ج. ٥: ۱- ۲
4. په لاندینو حالاتو کښې یوه په ډیرښه طریقه داخبره بیانوي چې ولې مونږ د خدای دغوښتنو په سرته رسولو کښې د هغه مرستې ته اړتیا لرو. هغه په نښه کړئ.
   أ. هغه کسان چې نوي ایمانداران دي، دا هیله نشي درلودلی چې خدای به د هغوی سره خبرې وکړي.
   ب. مونږ په داسې یوې نړۍ کښې ژوند کوو چې ډیر خلک یې د خدای د ارادې د پوره کولو نه سرغړونه کوي.

ج. زمونږ طبیعی لیوالتیاوې او هیلې مونږ نه پریږدي چې هغه څه وکړو د کومو چې خدای زمونږ څخه طمع لری.

د. زمونږ لپاره د الهي غوښتنو پیژندل په رښتیا یو سخت کار دی.

## خدای په قدرت سره مرسته کوي

آیا خدای د اندازې څخه زیاته طمع لري؟ آیا د دې امکان شته چې خدای دی راضي کړی شي؟ لږ څه مخکې مو هغه اهدافو ته اشاره وکړه چې خدای زمونږ لپاره مقرر کړیدی. دغه هدفونه لکه څنګه چې لیدل کیږي سره دومره مختلفې نه وې، دغه هدفونه یوازې د خدای د هغه قسم کار څرګندونکی دی چې د مختلفو اړخونو څخه یې په مونږ کښې سرته رسول غواړي.

ما مخکې پدی زور واچاوه، چې په الهي نقشه کښې دغه اهداف اصولي دي، او خدای دهغې په باره کښې دبل هریو هدف څخه دیره طمع لری. خدای د دی اهدافو په لاس ته راوړلو او پرځای کولو کښې څه ډول مرسته کوي؟

وخت راکړئ چې هغه څه ته یوځل بیا د یو څو شیبو لپاره راوګرځو، چې مطالعه مو کړل او وګورو چې خدای، د الهي

نقشې په تابعدارۍ کښې څه ډول مرسته کولای شي.

## خدای مونږ بدلوي

د طبیعت د لویو رازونو څخه یو راز، د وریښمو د چینجي په پتنګ باندې د بدلون څرنګوالی دی. د وریښمو چینجی په زیاته اندازه نورو چینجو ته ورته والی لري. د وریښمو چینجی په سینه تګ کوي. حتی که چیرې وغواړي هم، نشي کولای چې والوزي. نو څرنګه به ورڅخه دا طمع وشي چې دا ژوندی موجود دی په یوه ښکلي پتنګ بدل شی؟ زمونږ د طمعې او فکري امید په خلاف خدای د دې ژوندي حیوان د ژوندون په چاپیریال کښې پورتني بدلون ته پلان جوړ کړیدی. دخدای نظر دا دی چې د وریښمو چینجی دی د څه مودې په سینه تللو نه وروسته وکړای شي چې والوزی.

دغه تغییر او بدلون څرنګه منځ ته راځی؟

د وریښمو چینجی چې کله خپلې غوزې ته ننوځي، نو دوریښمو د یو چینجي په صفت «مري» ترڅو د پتنګ په شکل یوځه د هغه څخه رابهر شي. د وریښمو چینجی الوتل نه زده کوي. د وریښمو چینجی د خپلې غریزې او طبیعیت په اساس پرواز کوي. دغه بدلون چې په «شکلي بدلون» مشهور دی، د وریښمو د چینجی د لټون نتیجه نه ده چې د پتنګ په تقلید پسی یې کوی. بلکه د داخلی بدلون نتیجه او زیږنده ده.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

5. په خپل مقدس کتاب کې دا لاندينی آيتونه ولولئ. د دې آيتونو څخه کوم يو په ښه توګه په مسيحی ژوندون کښې د «شکلي اوښتون» څرګندوی ده؟

أ. ګلتيان ۲: ۱۹-۲۰

ب. افسسيان ۱: ۹-۱۰

ج. دوهم پطرس ۱: ۱۰

د وريښمو د چينجي د شکل بدلون په حقيقت کښې کولای شي چې هغه څه مونږ ته په عملي توګه مجسم کړي کوم چې خدای غواړي زمونږ په وجود کښې يې سرته ورسوي. د شکل بدلون هغه مفکوره ده چې د روميانو په ليک ۱۲: ۱- ۲ کښې يې د هغه بدلون په اړوند ګورو چې خدای د هغې طمع لري. او په ياد لرئ چې دغه کار هغه وخت پيښيږی چې د يو نوي ژوندون اصل او بنياد په مونږ کښې وي. لکه څنګه چې مخکې ذکر شو، چې د وريښمو چينجی پدې بدلون کښې د هيڅ قسمه لټون او تقليد پسې نه ګرځي. هغه د ژوندون قوه چې خدای په هغه کښې ايښې ده، د دې سبب ګرځي چې د يو چينجی څخه دی په يو پتنګ بدل شی. مونږ هم په همدې ډول د روح القدس په وسيله بدلون مومو او تغيير پيدا کوو، چې هغه يو الهي روح دی چې په مونږ کښې د ننه او سيرږي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

6. روميان ۱۲: ۱- ۲ ولولئ او خپل د يادداشت په کتابچه کښې لاندی سوالونو ته ځوابونه ورکړئ.

   أ. هغه دوه شيان چې مونږ څخه يې پوره کول غوښتل کيږي کوم دي؟

   ب. کوم کارته بايد مونږ اجازه ورکړو چې خدای يې په مونږ کښې سرته ورسوي؟

### د خدای قدرت په مونږ کښې کار کوي

په «انفعالي» فرمانونو کښې د خدای د برخې ليدل چې يوازې زمونږ همکارۍ ته اړتيا لري، ډير آسانه دی. خو د هغه فرمانونو په اړوند چې «عملي» وي او خدای يې زمونږ څخه غواړي، څه بايد وشي؟ آيا د هغې د عملي کولو لپاره په خپل طاقت تکيه کوو؟ د افسسيانو په ليک ٤: ١٧ او ٦: ٢٠ کښې په نمونوي توګه، څو عملي طريقې ذکر کيږي چې مونږ د هغو په وسيله کولای شو خپل مسيحيت او دمسيح سره مشابهت څرګند کړو. ممکن داسې په خيال کښې راوستل شی چې دغه طريقی لږ ترلږه ددی لپاره ذکر شويدی چې سرته يې ورسوو. خو بياهم د دې د سرته رسولو طمع هم زمونږ د شخصي قدرت

د اندازې څخه زیاته ده.

دافسسیانو په لیک ۲: ۱۰ کښې لولو چې خدای مونږ پیدا کړو، او مونږ په عیسی مسیح کښې نوی پیدا ایښت وموندہ څو نیک کارونه وکړو. دغه نیک کارونه دافسسیانو په لیک ۴: ۱۷ او ٦: ۲۰ کښې بیان شوی دي. بیا وروسته د افسسیانو په لیک ۳: ۲۰ کښې ویل شویدی چې: "اوس چې څوک داسې قادر دی چې د هغه قدرت په مطابق چې په مونږ کښې اثر کوي، زمونږ د خواست او خیال نه ډیر زیات کار کولی شی".

پدې ځای کښې یوه شیبه فکر وکړئ. زمونږ غوښتنه د هغه د قدرت او توانائۍ حد ته نشي رسېدای، او هغه قدرت زمونږ په داخل کښې کار کوي.

مونږ د «شریعت» نوم واخیست چې په پولوس کښې یې کار کاوه، هغه په مونږ هر یو کښې هم کار کوي. هماغه شریعت او قانون د دی باعث کیږي چې د پولوس د کاملې فرمانبردارۍ په مخ کښې خنډ واقع شي. که چیرې دغه قانون تردې حده قوي اوسي نوبیا کولای شي چې هغه نقشه محدوده کړي چې خدای زمونږ لپاره تیاره کړیده؟

پولوس لږ تر لږه یو ځل په خپل ژوند کښې دا احساس کړی وه چې دغه «قانون» په موثرې طریقې سره د هغه څه د سرته رسولو څخه منع کوي چې هغه یې سرته رسول غوښتل. مګر دې معما ته په رومیانو ۸: ۱- ٤ هم ځواب ورکړ شوی دی.

د هغه قانون او شریعت تاثیر په عیسی مسیح باندې د

ایمان په سبب له منځه تللی دی چې د نافرمانۍ باعث کیږي. ((هیڅ قصاص نشته)) رومیان ۸: ۱ ولولئ. د هغی پر ځای د خدای قدرت په مونږ کښې کار کوي.

خدای د خپل زوی په رالیږلو سره په رښتني توګه زمونږ سره مرسته کړیده. هغه مونږ سره د روح القدس د قدرت په وسیله هم ملګرتیا او مرسته کوي. ستاسو لپاره د خدای نقشه یوازې داسی یو شی ندی چې خدای د هغې سرته رسول وغواړي. بلکه الهي نقشه په عمل کښې داسې یو شی دی چې خدای غواړی هم په تاسو کښې او هم ستاسو له لارې ترسره شي.

مقدس کتاب یو ډیر مهم آیت کارولی دی ترڅو د الهي طرحې په سرته رسولو کښې زمونږ د لټون او د هغې مرستې ترمنځ مساوات مونږ ته په بهتره طریقه راوپیژني چې د خدای څخه یې د لاسته راوړلو طمع درلودلای شو. دغه مفکوره او آیت په نوي عهد کښې د فلیپیانو په نوم خط ۲: ۱۲-۱۳ کښې داسې بیان شویدی: "... په ویره او په رپیدو د خپل خلاصون دپاره کار کوئ. ځکه چې خدای په تاسو کښې نیت او عمل دواړه دخپلې نیکې ارادې د پوره کولو د پاره پیدا کوي".

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. په لاندنیو حالاتو کښې درې طریقې بیان شویدي چې د هغو په وسیله هغو اهدافو ته رسیدل ممکن دي چې خدای زمونږ

لپاره ټاکلي دي. د هغې طریقې مخې ته نښه وکړئ چې د نورو دواړو څخه په ډیره ښه توګه دا مطلب بیانوي.

أ. تصمیم نیسم چې د دنیا د تابعدارۍ څخه لاس واخلم. د دې کار د ترسره کولو په وخت کښې خپل فکر بدلوم. په داسې ډول چې کولای شم د خدای فرمانبرداري وکړم او په زیار او اهتمام سره د پام وړ اهداف لاس ته راوړم.

ب. خپل ځان خدای ته وقفوم او پدې توګه کولای شم چې دهغه فرمانبرداري وکړم. په همدې وخت کښې د خدای قدرت په ما کښې کارکوي ترڅو ما بدل کړي. زه او خدای دهغه اهدافو په لور په ګډه حرکت کوو چې هغه زما لپاره ټاکلي دي.

ج. خدای زما د فکر څارنه کوي. او ما ترهغې پورې په همدې حالت برقرار ساتي ترڅو هغه کار وکړم چې ښه او نیک وي. له دې کبله

چې هدفونه مقرر شویدي ډیر
مشکل دي، خدای پخپله ټول
کارونه سرته رسوي ترڅو مونږ
سره مرسته وکړي چې دا هدفونه
لاس ته راوړو.

## کله چې ماتې خورو خدای مونږ نه خوشې کوي

د الهي نقشې په پیژندنه او پوهیدنه او دهغې دلارښوونو په فرمانبرداری کښې یوه داسې جنبه شته چې مونږ نه غواړو د هغې سره مخامخ شو! ځینې وختونه مونږ ماتې خورو او سستې مونږ څخه کیږي او په ګناه لاس پورې کوو. شاید دا کار زمونږ د ناپوهۍ او کمزورۍ په سبب صورت ونیسي. ځینې وخت حتی زمونږ انګیرنې او لاس ته راوړي نتیجې هم یو دبله سره ټکر کوي او سره ګډوډیږي. سربیره په ((هغه قدرت چې په مونږ کښې کار کوي)) (افسسیان ۳: ۲۰)، او سربیره په دې حقیقت چې ((خدای په کار بوخت دی)) (فلیپیان ۲: ۱۳)، بیاهم مونږ ماتې خورو.

## ماتې او قصور

خدای د ګناه لپاره یو ځواب لری. چې هغه بخښنه او نوی زیږیدنه ده. مګر که د نوې زیږیدنې څخه وروسته بیا هم غلطي وکړو هغه وخت به څه وشي؟ آیا ماتې او غلطي الهي طرحه بدلوي؟ آیا خدای بله نقشه زمونږ لپاره کاروي؟ که چیرې مونږ

دخدای لومړۍ نقشه خرابه کړو آیا هغه زمونږ د ژوندون لپاره دوهمه نقشه هم لري؟

آیا زمونږ ماتې خدای په تعجب کښې اچوي؟ آیا که چیرې ماتې وخورو خدای مونږ آزاد پریږدي ترڅو د هغو مسائلو سره په خپل طاقت معامله وکړو کوم چې مخې ته راځي؟

راځئ چې هغه حقیقتونو ته یو نظر وکړو چې دماتی په درک او پیژندنه کښې زمونږ سره ملګرتیا کوي. پدی معنی چې ولې مونږ د ماتې سره مخ کیږو، او خدای څرنګه هغې ته ځواب ورکوي. داکار مونږ سره مرسته کوي چې پورتنیو سوالونو ته ځواب ورکړای شو.

## د تیر وخت شکستونه په مونږ باندې اثر کوي

زمونږ زیات تیر شوي او پخواني احساسات زمونږ د ماضي په واسطه ښه نیسي. دمثال په ډول: که چیری په کال کښې یوه ورځ رخصتی د جشن په ډول ونیول شی، نو څوکاله وروسته دهغی ورځی په رالنډیدو سره انسان ته یو خاص احساس پیدا کیږي. د رخصتۍ، جشن او خوشالۍ په ځینو ورځو کښې د کورنۍ وګړي او دوستان یو بل له سوغاتونه ورکوي. کورونه ښایسته او صفا کوي، او هری خواته دخوشالۍ سندرې او آوازونه اوریدل کیږي. دغه رنګه رخصتۍ او مناسبتونه هم یوځل بیا ژوندی کیږي، او خلکو ته یو خاص احساس پیدا کیږي چې دغه احساس د هغوی په

فکري طرز باندې يو اثر پرځای پرېږدي.

ځينې وختونه چې زمونږ په ژوندون کښې ماتې او شکستونه منځ ته راځي نو پدې ډول زمونږ احساساتو او عواطفو ته شکل وربخښي. مخکې له دې چې مسيح زمونږ په زړه کښې قدم کېږدي نو داسې تاريخ به لرو چې د هرګوټ څخه به يې دګناه باران راوريږي. کله چې داسې حالات او مناسبتونه منځ ته راځي چې په ماضي کښې مو دې ته ورته حالاتو کښې ماتې خوړلې وه، نو د دغو تيرو ماتو ترخې خاطرې بيا راژوندوی کيږي. په دغه وخت کښې زمونږ احساس، مونږ راوبښوی چې په يوه خاصه طريقه فکر وکړو. امکان لري چې شيطان د دغو يادونو او احساساتو څخه ګټه پورته کړي او مونږ د وسوسو په دام کښې ښکيل کړي او په دقيقه توګه هسې کړنلاره غوره کړو لکه مخکې مو چه غوره کړې وه.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

8. په لاندينيو حالاتو کښې کوم يو په ښه توګه د هغو نمونو بيانونکی دی چې دا خبره څرګندوي چې د يو کس تير وخت شکستونه کولای شي د هغه د احساساتو په څرنګوالی اثر وکړي؟

أ. توريالی مخکې له دې چې ايمان راوړي، ناوړه ملګری يې درلودل. هغه به د خپلې ملګرتيا

دبقا په خاطر هغه کارونه کول
چې د هغه دوستانو به سرته
رسول. اوس چې هغه په مسیح
ایمان راوړی دی نو هغه ناوړه
کارونه نه کوي چې پخوا یې
کول. د هغه نوي دوستان هغه
هڅوي چې صحیح ژوند وکړي.

ب. اڅک مخکې له دې چې ایمان
راوړي، زیاتر وخت هغو کسانو
ته غصه کیده چې د هغه د
عقیدی خلاف نظریات یې
درلودل. هغه بالاخره دیو مسیحی
ورور سره مخ شو چې د هغه سره
هم عقیده نه ؤ. اڅک دې ته
متوجه کیږي چې د دې ورور پر
وړاندې د غصې او قهر احساس
لري.

وروسته له دې چې خلاصون مو پیدا کړ نور مونږ مجبور نه یو چې گناه وکړو، خو بیا هم کله کله گناه راځنې سر وهي. زمونږ عادتونه همیشه ښه نه وي. یقیناً ټولنه او چاپیریال د لعنت لاندې راغلې ده. مونږ شکست خورو ځکه چې انسانان یو. تر اوسه پورې وسوسې زمونږ سره موجودې دي. تر اوسه هم مونږ په راپرځېدلې نړۍ کې ژوند کوو. تر اوسه هم وده کوو او لا

هم بدلون مومو.

## خدای زمونږ په قصور او ماتو باندې پوهیږي

خدای زمونږ په ټولو ماتو خبر دی. پدې خبرې پوهیدل ډیر مهم دي چې مونږ هیڅکله او په هیڅ دلیل نه شوکولای چې هغه په تعجب کښې واچوو. زمونږ د ژوند هیڅ قسمه حالات هغه په تعجب کښې اچولی نشي. هغه څه چې مونږ په تعجب کښې اچوی هغه دخدای د تعجب سبب نشی کیدای. که چیرې زمونږ ګناه خدای په تعجب کښې نه اچوي، او که چیرې هغه زمونږ په شکستونو مخکې له دې چې مونږیې تجربه کړو پوهیږي، نوبیا کولای شو چې ډاډه اوسو چې خدای هم هغه حسابوي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

9. د لومړي درس په آخره کښې زمونږ څخه غوښتل شوي و چې زبور ۱۳۹مطالعه او د هغې په باره کښې فکر وکړو، دغه زبور مونږ ته ډاډ راکوي چې خدای زمونږ په هکله په هرڅه پوهیږی. د ۲- ٤ او ۱۱: ۱۱ آیتونه یوځل بیا ولولئ او د هر یوه لاندیني صحیح څرګندوني مخی ته نښه وکړئ.
   أ. زمونږ په اړه د خدای خبرتیا زمونږ د زیږیدو د وخت راهیسې

شروع کیږي.

ب. زمونږ د خیالونو او فکرونو ځینی برخی دخدای څخه پټې دي.

ج. زمونږ ټول عملونه خدای ته ښکاره دي.

## د خدای فیض زمونږ په ماتو باندې غلبه کوي

ومو ویل چې خدای زمونږ له ماتو څخه خبر دی. د شکست حقیقت ته په پاملرنې سره، کوم شی مونږ ته ډاډ راکوي چې د خدای فضل به د مخکې په څیر زمونږ په ژوند کښې کار وکړي؟

لومړی دا چې د خدای بخشش زمونږ په ولکه کې دی. دا یوه الهي لاره ده چې مونږ له خپلو ګناهونو څخه بېلوي. په اول یوحنا ۱: ۹ کښې لولو چې خدای زمونږ سره ژمنه کړې ده که چیرې پر خپلو ګناهونو اقرار وکړو نو هغه وفادار او صادق دی او هغه به زمونږ ګناهونه معاف کړي. هغه پلان چې خدای یې زمونږ لپاره په نظر کښې لری په هیڅ ډول زمونږ د قدرت په اساس چې ګني مونږ کولای شو کامل و اوسو، بلکه د هغه د شناخت او توان پر بنسټ ولاړ دی.

دوهم، د خدای قدرت زمونږ په ولکه کې دی: ټول هغه قدرت چې خدای ترې کار اخیستی دی څو تاسو د خلاصون

میدان ته راولی، ستاسو د خلاصون څخه وروسته هم ستاسو تر ولکې لاندې دی. خدای دی ته انتظار ونه کړ چې لومړی تاسو نجات وموموئ او وروسته بیا ستاسو د ژوند لپاره یوه طرحه جوړه کړي. ستاسو د خلاصون تجربی ستاسو د انتخاب ورځ معلومه کړیده نه د خدای. دخدای د زامنو په صفت کولای شئ دا ډاډ ولرئ چې د خدای قدرت ستاسو په واک کې دی.

دا قدرت ډیر اثرناک دی. د کورنتیانو په دوهم لیک ۱۲: ۷- ۱۰ کښې، پولوس د هغې تجربې په اړوند خبرې کوي چې هغه ورسره مخ شوی ؤ. هغه د هغې ستونزې څخه خلاصون نه مونده، دکوم لپاره یې چې دعا کوله. خو پولوس د دې تجربې څخه یو درس زده کړ چې مونږ ته راښیئ چې دخدای قدرت څومره مؤثره او کارسازه دی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

10. دکورنتیانوپه نوم دوهم خط ۱۲: ۷- ۱۰ ولولئ او خپل د یادداشت په کتابچه کښې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ولیکئ؟

    أ. پولوس په خپله تجربه کښې د الهي قدرت په اړوند کوم درس زده کړي ؤ؟

    ب. د دې درس په نتیجه کښې پولوس دکوم کار دسرته رسولو

توان پیدا کړ؟

ددې هر څه سربیره، د خدای قدرت زمونږ د شکستونو څخه پورته کار کوي. هغه حالت چې مونږ اکثراً د ماتې پر وخت ورسره مخامخ کیږو دادی چې آیا شکست پدې معنی دی چې ما د الهي اولنۍ نقشه د لاسه ورکړه او اوس کولای شم چې د خدای د دوهمې نقشې څخه ګټه واخلم؟ آیا ما د خدای کامله طرحه له منځه وړې ده؟

خدای ارمیا نبي ته یو درس وروښوده چې مونږ سره د دې مطلب په پوهیدلو کښې مرسته کوي. ارمیا وروسته له دې چې د بني اسرائیلو قصور او ماتې ګوري، د یو کولال کو رته استول کیږي (ارمیا ۱۸: ۱- ۱۰). هغه کولال ولیده چې په خپل کار بوخت دی. هغه خټه اخلي او یو شکل ورڅخه جوړوي. خو دکار په منځ کښې په خټه کښې یو ((درز)) منځ ته راځي. کولال د دې په ځای چې خټه لېرې وغورځوي او یا یوه عیب لرونکی لوښی جوړ کړي، خټه بیرته اخلي او د هغې څخه یو ښکلی او منظمه لوښی جوړوي.

دخدای په پوهه او پیژندنه کښې ستاسو د کاملتوب نشتوالی ستاسو د کاملتوب په اندازه معلوم او ښکند دی. په همدې حالت کښې خدای اوس هم غواړي چې تاسو د هغه لوښي په شان وګرځوي چې هغه ورڅخه خوشالیږي. خدای ستاسو د ژوندون د خټې په ترکیب کښې ګوری چې ((مسیح په تاسو)) کښې دی (کولوسیان ۱: ۲۷). ماتې او حتی ګناه هم دی حقیقت ته تغییر ورکولای نشي چې مسیح په تاسو کې ژوند کوي.

عبرانیانو ته د لیک په ۱۱ فصل کښې د ډیرو شخصیتونو نومونه په سترګو کیږی چې د ایمان په اتلانو مشهور دي او نوم و نشان لري. په پوره ډاډ سره د هغوی په هکله نشو ویلي چې د خدای اول نمبر نقشه یې خرابه کړې وه، او خدای د هغوی لپاره دوهم نمبر پلان وکاراوه. خو دغه نومونو ته یو ځل بیا نظر وکړئ. که چیرې د دې شخصیتونو د ژوندون قصې ولولئ نو پوه به شئ چې دغه کسان د شکست له کلمې سره آشنا ؤو. هغوی هم ماتې خوړلې وه. خو د دې سره سره هم مقدس کتاب هغوی د ایمان د اتلانو په نوم یادوي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

11. ومو ویل چې دا ډاډ لرلای شو چې ماتې، غلطۍ، کمزورتیاوې زمونږ د خدای د هغه نقشې سره مخالفت نه لري چې زمونږ لپاره یې کښلې ده او نه یې له منځه وړلی شي. په لاندې حالاتو کښې هغه حالت به نښه کړئ چې ددې خبرې دلیل په ښه توګه بیانوي.

    أ. هر څوک په ژوندون کښې یوڅه شکستونه لري.

    ب. دخدای نقشه زمونږ په طاقت باندې تکیه لري ترڅو وروسته له دې چې په مسیح باندی ایمان

راوړو، دغه نقشه په کاملې فرمانبردارۍ کښې زمونږ طاقت جوړ شی او قوت مو وي.

ج. کله چې خدای مونږ ته نقشه جوړوله، هغه زمونږ د راتلونکو ماتو او شکستونو څخه باخبره ؤ.

د. زمونږ ګناهونه او شکستونه دخدای د هغه قدرت په مقابل کښې چې زمونږ دننه کار کوي، خنډونه نشي پیدا کولی.

ه. خلک زیاتره وخت پدې دلیل شکست خوري چې د ماتې څخه ډک ماضي لري.

و. خدای هغو کسانو ته چې په لومړي پلان کښې د ماتې سره مخ کیږی دوهم پلان تیاروي.

تاسو هم کولای شئ چې د هغو کسانو په څېر چې د عبرانیانو د لیک په یوولسم فصل کښې یې ذکر شویدی، د شکستونو سره سره د خدای کامله اراده تجربه کړئ. عیسی هماغه خبره چې پولوس ته یې کړې وه تاسوته یې هم کوي چې وایي: "... زما طاقت په کمزورتیا کښې پوره کیږي" (دوهم

کورنتیان ۱۲: ۱۹). د هغه قدرت کولای شی چې زمونږ په شکستونو غلبه حاصله کړي او د دې امکان تاسو ته برابر کړي ترڅو الهي نقشه سرته ورسوئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

6. ا. مونږ باید: ۱) خپل ځان د ژوندی قربانی په ځیر تقدیم کړو

۲) پرېنږدو چې د دنیا په څیر شو.

ب. مونږ باید اجازه ورکړو چې خدای مونږ ته د فکري او ذهني بدلون له لارې باطني بدلون راکړي. (ستاسو ځواب باید پورتنی ځواب ته ورته وي).

1. ا. هغه څوک چې بدل شویدی.

ب. هغه څوک چې بدل شویدی.

ج. هغه څوک چې هڅه کوي ترڅو تقلید وکړي.

د. هغه څوک چې هڅه کوي ترڅو تقلید وکړي.

ه. هغه څوک چې بدل شویدی.

7. ب. خپل ځان خدای ته وقفوم او پدی توګه

کولای شم چې دهغه فرمانبرداري وکړم. په همدې وخت کښې دخدای قدرت په ما کښې کارکوي ترڅو ما بدل کړي.

2. ا. پولوس غوښتل هغه څه چې نیک او درست دي سرته ورسوي. مګر په عمل کښې هغه هغه کار ترسره کاوه چې نادرست ؤو.

ب. هغه ویل چې د هغه په د تنه کښې یوقانون او شریعت په کار بوخت دی چې هغه یې د ګناه په زندان کښې قید کړی دی.

8. ب. اڅک مخکې له دې چې ایمان راوړي،.........

3. ب. ٤: ١٣- ١٥

9. الف. غلط

ب. غلط

ج. درست

4. ج. زمونږ طبیعی لیوالتیاوې او خواهشات مونږ نه پریږدی هغه څه ترسره کړو دکومو چې خدای زمونږ څخه طمع لری.

أ. ا. پولوس پوه شو چې کله هغه

ضعیف دی نو الهي قدرت ډیر قوي دی.

ب. پولوس کولای شو چې په خپلې کمزورتیا خوشالی وکړی. ځکه چې همدی موقعه کښې یې دخدای قدرت پخپله په ډیره ښه توګه تجربه کاوه. (ستاسو ځواب باید پورتني ځواب ته ورته وي).

5. الف. ګلتیان ۲: ۱۹- ۲۰

ج. کله چې خدای زمونږ لپاره نقشه تیاروله ......

د. زمونږ شکستونه او ګناهونه ......................

څلورم لوست

# آيا د الهي نقشې څخه منحرف شوی يم؟

... ژوندون هميشه هوسا نه وی.

په ځينې وختونو کښې دخدای د ارادی سرته رسول آسانه او په زړه پورې وي، خو ځينې وخت ډير سخت او ستونزمن کار وي. ابراهيم، يو له دې ستونزمنو حالتونو سره مخ شوی ؤ.

خدای د ابراهيم سره وعده کړې وه چې هغه به د يو لوی ملت پلار جوړوي. خو پدی وعدې کلونه تير شول، او د پوره کيدو څخه يې څه خبر او نښه نه معلوميده. هغه پلان چې سارا

او ابراهيم د خدای د وعدی پر اساس چمتو کړې وه، د هغو لپاره يې يوازې غم او غصه منځ ته راوړې وه. په همدی وخت کښې خدای يوځل بيا د ابراهيم سره خبرې وکړې او خپله زړه وعده يې ورياده کړه. بالاخره دغه وعده داسحاق په معجزانه زيږيدنې رښتيا شوه. خو د ابراهيم آزموينه لاتر اوسه پوری نه وه پوره شوې.

څو کاله ورسته خدای ابراهيم ته امر وکړ چې خپل ګران زوی اسحاق د موريا په غريزه سيمه کښې د هغه لپاره قرباني کړي. ابراهيم په ډير لوی امتحان کښې پريوت او هڅه يې کوله چې د خپلو شخصي احساساتو، خواهشاتو او حالاتو سربيره هم د خدای فرمانبرداری وکړی. ابراهيم د دې امتحان څخه سرلوړی او بريالی بهر شو. هغه دخدای دارادې تابعداري وکړه او يوه لويه معجزه يې تجربه کړه. خدای د اسحاق په ځای يو ګډ د قربانۍ لپاره تيار کړ (پيدايښت ۲۲: ۱- ۱۹).

تاسو هم امکان لری چې دې ته ورته امتحان سره مخامخ شئ. خدای ممکن د حالاتو څخه او په خاصه توګه ستاسو د ژوندون دحالاتو څخه استفاده وکړي او تاسو هم تر امتحان لاندی راولي. په دی لوست کښې به وګورو چې زمونږ حالات او وضيعتونه د خدای د نقشی سره کوم قسم اړيکې لري. د مطالعې په دوران کښې به د هغو لارو چارو سره مخ شئ چې خدای د هغو څخه په استفادې سره د شرايطو څخه کار اخلي، څو هغه نقشه سرته ورسوي چې ستاسو د ژوندون لپاره يې تياره کړيده.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ شرایط سوالونه منځ ته راوړي
- ❖ شرایط کولای شي زمونږ ایمان و ازمايي
- ❖ شرایط کولای شي مونږ تر نظم لاندې راولي
- ❖ شرایط کولای شي مونږ وهڅوي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو..

- ❑ د دې خبرې دلیلونه بیان کړئ چې ولې خدای دې ته اجازه ورکوي چې د مخالفتونو او ستونزو سره مخامخ شو.
- ❑ دا خبره تشریح کړئ چې هغه وخت چې مونږ غواړو ترڅو د خدای د نقشې تابعداري وکړو، نو ولې ستونزې او کړاونه مونږ ته منځ ته راځي.
- ❑ هغه ارزښتونه او ګټې تشریح کړئ چې مونږ کولای شو هغه د مشکلاتو څخه لاس ته راوړو.

## شرایط سوالونه منځ ته راوړي

ډیر وختونه مخې ته راځي چې دخدای اراده د هغو د موجوده حالاتو په وسیله تائیدیږي. ډیرې موقعې هم شته چې د

خدای د ارادې د سرته رسولو په لاړ کښې عیني شرایط څنګه واقع کیږي او دغه کار ډیر ستونزمند کوي. آیا د مشکلاتو او نا آرامیو پیدا کېدل پدی معنیٰ ده چې مونږ د الهي نقشې څخه بی لارې شوي یو؟ آیا دا امکان شته چې د خدای دارادې د پوره کولو اسانتیا او ستونزمنتوب باندې آګاهي لاس ته راوړو؟ که چیرې د خدای د ارادې سرته رسیدل غیر ممکن وبریښي نو څه باید وشي؟ په بل عبارت، که چیرې ظاهري وضیعتونه د هغه څه سره مخالف وي چې زمونږ په نظر د خدای اراده ښکاره کوي نو څه باید وشي؟

موقعه راکړئ چې هغه اړیکې تر څیړنې لاندې ونیسو چې زمونږ وضیعتونه او حالات یې د خدای له نقشې سره لري.

## شرایط کولای شي زمونږ ایمان و ازمایي

مونږ د یو شي په آزمائلو سره په دی پوهیږو چې هغه شی څومره ارزښت لري. یو ملاح خپله کشتۍ مخکې تر دې چې په سمندرونو کې لاهو کړي، لومړی یې په وړو سیندونو او دریابونو کې آزمايي. یو غره ختونکی قهرمان خپل د غره ختلو رسۍ مخکی ددی نه چې اعتبار وربادې وکړي او ځان وربادې په خطر کښې واچوي، ازمایی. ځینې حالات داسې معلومیږي چې خدای پکښې د سختیو څخه کار اخلي ترڅو زمونږ ایمان و آزمایی، هغه زمونږ ایمان په دې خاطر آزمایي چې زمونږ مستقیمی اړیکې د همدی ایمان سره تړلې دی. خدای د ایمان له لارې کار کوي. د ایمان څخه بغیر ټول هغه څه

چې مونږ یې سرته رسوو نه خدای خوشالوي او نه په الهي نقشه کښې ځای لري (عبرانیان ۱۱: ٦).

## امتحان زمونږ ایمان ښکاره کوي

ځینی کسان فکر کوی چې په خدای توکل لري او دا په هغه وخت کښې دی چې په اصولي توګه کوم حتمي والی پدې کار کښې نشته. حالاتو او پیښو تل په خدای باندې د هغوی د باور او اعتماد حمایت کړیدی او د الهي نقشې سرته رسول یې د هغوی لپاره یو آسانه کار جوړ کړیدی. په ډیرو وختونو کښې دغه خلک هغه کارونه کوي، څه یې چې زړه وغواړي او اکثره وخت داسې هم پیښیږي چې د دی خلکو غوښتنی د خدای ارداه او پلان هم وي. نو دغه ایمان څومره د اعتماد او باور وړ دی. خدای ممکن د دی خبری د څرګندولو لپاره ټول مرستندوی عوامل د میدان څخه لری کړي. او دا کار ممکن د خدای فرمانبرداري یو اندازه مشکله کړي. حتی ممکن مونږ و آزمایي او داسې سرګردانه شو چې په دې ونه پوهیږو چې آیا مونږ تر اوسه د خدای په اراده کښې یو او که نه.

خوکه چیرې اجازه ورنکړو چې خدای مونږ و آزمایي او دا معلومه نه کړي چې ترکومې اندازې پورې په هغه باور لرو، او یا په بل عبارت ترڅو شیطان حمله ونکړي، زمونږ د ایمان ضعیف والی به معلوم نشی.

پطرس د مسیح سره په خپلې وفاداری ډاډه ؤ. د هغه

**شخصي عقيدې پدې ټينګار کاوه چې هغه خپل ځان دنورو په نسبت په پراخه پيمانه مسيح ته وقف کړيدی. پطرس د عيسی مسيح د محاکمې څخه مخکې هغه ته وويل: "ستا په سبب که بل هريو هم تيندک وخوري، خو زه به يې هيچيرې ونه خورم" (متي ۲۶: ۳۳).**

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

1. هغه آيتونه چې د دې برخې په اړوند د پطرس د ژوند په باره کښې دي، يو وار بيا ولولئ. بيا د خپل يادداشت په کتابچې کښې لاندې مطرح شويو پوښتنو له پاره ځواب وليکئ.
   - أ. لوقا ۲۲: ۳۱. عيسی پطرس ته څه اخطار ورکړ؟
   - ب. متي ۲۶: ۳۴. مسيح پطرس ته وويل، چې څه بايد وکړي؟
   - ج. متي ۲۶: ۳۵. پطرس مسيح ته وويل، چې هغه به کوم کار ترسره نکړي؟
   - د. متي ۲۶: ۶۹- ۷۵. پطرس څه کار وکړ؟

مونږ ګورو چې په پطرس باندې دير سخت شرايط راغلل،

او د هغه د ایمان کمزور تیاوې په هماغه ساعت کښې ښکاره شوې. هغه نشو کولای چې د نورو عواملو د حمایت څخه بغیر په خپل ایمان برقرار پاتې شي. هغه ایمان او وفاداري چې آزمائل شوی وي ډیر ارزښت لري. یعقوب دغه ارزښت په ډیره ښه توګه پیژنده. هغه دغه اهمیت او ارزښت پدی ډول بیان کړیدی: "ای زما ورونو! هر کله چې تاسو په قسما قسم ازمیښتونو کښې راګیر شوئ نو ډیر په خوشالۍ یې وزغمئ، ځکه چې تاسو ته معلومه ده چې دا ستاسو دایمان په ازمیښت کښې صبر پیدا کوی" (یعقوب ۱: ۲- ۳).

دې آیتونو ته ډیر غور وکړئ- دغه آیتونه د رنګارنګ تجربو، صبر، مشکلاتو او مخالفتو په اړه بحث کوي. خو بیا هم داسې نه ښکاري چې دا ستونزې دې په دې دلالت وکړي چې ګني مونږ د الهي نقشې څخه بې لارې شوي اوسو. په حقیقت کښې هغه وخت چې راز راز تجربې منځ ته راځی، مونږ باید هغه دخوشالۍ آخري درجه وګڼو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. له خپل مقدس کتاب څخه د یعقوب ۱: ۲- ٤ رساله ولولئ. زمونږ د ایمان د امتحان وروستۍ نتیجه څه ده؟

..........................................................

............

**آزمېښتونه زمونږ ایمان ته جوړښت ورکوي**

زمونږ د ایمان آزمایښت د منفي شرایطو له لارې مونږ ته داخبره معلومولی شي چې مونږ په کومه اندازه په خدای باندی د اعتماد کولو قدرت لرو. دغه ډول شرایط او وضیعتونه زمونږ د ایمان په جوړښت او ټینګښت کښې ډېره لویه مرسته کولای شي.

بې له شکه ، د موریا په غره کې د ابراهیم تجربه د ایمان یو ستر بریالیتوب ؤ، هغه لوی بریالیتوب چې ابراهیم په خپل ټول ژوند کې حاصل کړی ؤ. هغه په رښتیا چې کله وغوښتل خپل زوی اسحاق قرباني کړي، خدای د هغه پرځای هغه ته یو ګډ تیار کړ او ورته یې وښود. ابراهیم د حالاتو د سختوالي باوجود هم دخدای فرمانبرداري وکړه. د ابراهیم ایمان وازمایل شو او هغه د دې آزموینی څخه سر لوړی راووته.

هغه اوس زده کړې وه چې خدای کله لاژم وګڼي نو کولای شي پخپله قرباني وړاندې کړي، هغه اوس دا هم زده کړې وه چې خدای کولای شی د هغه کورنۍ په امان کښې وساتي.

د اول سموئیل په ۱۷ فصل کښې داسې یو حالت سره مخ کیږو چې داود د بنی اسرائیلو د سخت او قوي دښمن جلیات سره مخا مخ دی. دا ناممکنه وه چې ځوان داود دې وکولای شي د یو تجربه کار جنګلیالی سره چې په جسم هم قوي او په وسله هم سمبال ؤ، مقابله وکړي او بالاخره ورته ماتې ورکړي! خوکله چې داود د هغه سپکې سپورې او مبارزه طلبي ولیده چې

دخدای د قوم په مخ کښې یې کوله، او د جلیات خبرې یې واوریدې نودې ته تیارشو چې ورسره وجنګیږي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. اول سموئیل ۲۷: ۳٤- ۳۷ ولولئ. داود تیار ؤ ترڅو د جلیات سره وجنګیږي ځکه چې ............................

أ. د هغه ځینې ورونه پدې باور ؤو چې داود کولای شي جلیات ته ماتې ورکړي.

ب. جلیات یو کافر فلسطینی ؤ، او داود یو خدای پرسته اسرائیلی.

ج. داود د ایږو او زمریانو سره د جګړې څخه، په خدای د توکل کولو درس زده کړی ؤ.

هغه حالات چې خدای اجازه ورکوي ترڅو زمونږ دایمان د ازمایښت په خاطر له هغو سره مونږ مخامخ شو، کوم دي؟ پدې حالاتو کښې ممکن خطرونه او نا امیدی هم موجودې وي. ممکن زمونږ په چاپیریال کښې داسی کسان وي چې په مونږ اعتماد نه کوي. ناراحتي هم ممکن یوه ستونزه وي. هدفونو ته رسیدل هم ممکن زمونږ د وسې نه بهرکار وي. په ټولو داسې حالاتو کښې خدای زمونږ ایمان د ازمویښې لاندې نیسي ترڅو زمونږ دایمان کمزرتیاوې مونږ ته راوښیئ او دا کار د دې باعث ګرځي چې په هغه باندې خپل باور او اعتماد لاپسې

زيات کړو.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

4. په دې اړوند چې خدای ولې دا اجازه ورکوي چې په سختو شرايطو سره زمونږ ايمان د آزموينې لاندې ونيسي، مونږ دوه د ليلونه بيان کړل. په لاندينيو جملو کښې هر يوه جمله چې ددې دوه دلائلو څخه يو دليل کيدای شي، په نښه کړئ.

   أ. ځينی وخت لازم دي چې زمونږ د ايمان قدرت په عملي توګه معلوم شي، هسې نه چې خپل ځان وغولوو.

   ب. خدای زمونږ ايمان آزمايی. د دې لارې څخه هغه کولای شی چې دا معلومه کړي چې مونږ کمزورې يو او که قوي.

   ج. زمونږ ايمان په دې خاطر آزمائيل کيږي ترڅو مونږ ته وښيئ چې د هغې نقشې څخه بې لارې شوي يو کومه چې خدای زمونږ لپاره تياره کړيده.

د. د ایمان د آزموینې څخه
وروسته مونږ په دې قادر کېږو
ترڅو په ایمان کښې د پخوا
څخه زیات کوښښ وکړو.

## شرایط کولای شي مونږ تر نظم لاندې راولي

هغه سخت حالات چې خدای د ارادې د تابعدارۍ په وخت کښې راښکاره کیږي، کولای شي مونږ ته نظم او دسپلین هم راوبخښي. د دی نظم او دسپلین هدف دا دی چې زمونږ هڅې هغه لور ته متوجه کړي چې خدای زمونږ لپاره ټاکلې ده. ځینې پدی عقیده دی چې د نظم او دسپلین نه مقصد هماغه سزا ورکول دی، پداسې حال کښې چې د دسپلین لپاره سزا ورکولو ته هیڅ اړتیا نه لیدل کیږي. سزا هغه وخت لازمیږي چې د حقیقی نظم او دسپلین په لار کښې ماتې او قصور یا غلطی پیښه شی. دسپلین یعنې تربیه کول، دسپلین یعنې د هغو فعالیتونو انتخاب چې یوخاص هدف سرته رسوي.

په ورزش کښې دسپلین، هغه قسم تربیه ده چې د اصولو او قواعدو په چاپیریال دیوی لوبی د ګټلو سبب ګرځی. هغه فعالیتونه چې د اصولو څخه بهر صورت مومي، نه یوازې د انرژۍ دبی ځایه استعمال سبب کیږي بلکه ناوړه اغیزې هم

لري چې جرمانه هم پکې شامله ده.

په دسپلین کښې ممکن د پروګرام یو راز هم شامل شي او جریان ته یې سرایت وکړي.

په سپورت کښې د دې معنی داده چې لوبغاړی قصداً د مقاومت سره مخامخ شي ترڅو لازیات قوي شي.

اوس کولای شو چې د دسپلین قبلولو او شاګرد جوړیدو ترمنځ اړیکې په اسانۍ سره وګورو. د عیسی مسیح دولس شاګردان هغه کسان ؤو چې دسپلین او تربیه یې ترلاسه کړې وه څو د خدای اراده سرته ورسوي. که چیرې د هغوی د ژوند قصې ولولو نو وبه وینو چې مسیح به همیشه اجازه ورکوله او حتی پخپله به یې هغوی ته لاړښوونه کوله ترڅو د مشکلاتو سره مخامخ شي. دغه تجربې د هغوی د تربیوي دورې د حصو څخه یوه برخه حسابیده.

یو وخت هغوی د مسیح سره په یوې کشتۍ کښې ناست ؤ چې یو خطرناک طوفان راغی، خو مسیح داسې رفتار وکړ چې ګني قصد یې نه درلود کوم کار ترسره کړي. هغه ویده ؤ (مرقس ٤: ٣٥- ٤١). د دغو شاګردانو څخه نهه تنه د هغه غره په لمن کښې پخپل سر خپاره شوي ؤو چې د غره د پاسه د مسیح شکل تغییر موندلی ؤ. هغوی دیو سړی د زوی سره مخامخ شوی ؤ چې بدو روحونو د هغه جسم نیولی ؤ (مرقس ٩: ١٤- ٢٩).

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

5. مرقس ٦: ٣٤- ٤٤ ولولئ. بیا خپل دیادداشت په کتابچه کښې د لاندینیو سوالونو ځوابونه ولیکئ.

أ. شاګردان دکومو ستونزو سره مخامخ شوي ؤو؟

ب. مسیح پدې اړوند هغوی ته څه وویل؟

ج. هغوی کومې سرچینې په خپل اختیار کې لرلې؟

د. مسیح کوم کار سرته ورساوه؟

ه. نتیجه یې څه وه؟

د دی منفي حالاتو څخه په هریو کښې عیسی مسیح خپلو شاګردانو ته د هغو د قدرت او قوت محدودیت ورپه ګوته کړ. عیسی مسیح به هغوی ته ور یادوله چې په کامله توګه باید په هغه اعتماد او تکیه وکړي.

مسیح به دا کوښښ کاوه چې د خپلو شاګردانو پام په ځانګړی ډول خپل ځانته راواړوي او پخپل ځان پوری یې محدود وساتی. همدارنګه هغوی د هغه محدودیتونو او پابندیو څخه راوباسي چې په دوی کښې موجود ؤو.

مونږ باید اجازه ورنکړو چې مشکلات زمونږ ذهنونه

دخدای د ارادی په نسبت په تیارو کښې واچوي او پردې وربانديې واچوي ترڅو ورڅخه کار وانخلو. د دې پرځای مونږ باید په دې پوه شو چې شاید خدای د دی وسائلو او مشکلاتو څخه کار اخلي ترڅو مونږ خپل ځان لپاره ساده زړه او بی ریا وګرځوي. له همدی سببه په مشکلاتو باندې د بریالیتوب یوازینۍ کیلي فقط او فقط خدای ته توجه کول دي او بس!

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

6. سخت حالات مونږ ته پدی ډول نظم او دسپلین رابخښی.
   - أ. پدې خبرې باندې په پوهیدلو کښې مونږ سره مرسته کوي چې مونږ د خدای د ارادې تابعداری نه کوو.
   - ب. په خدای باندی تکیه او اعتبار لازمي بولي.
   - ج. دا ښودل چې په یوازې ځان د مشکلاتو سره دمخامخ کیدو قدرت لرو.
   - د. زمونږ د جزا سبب ګرځي. نوله همدې کبله مونږ پدې پوهیږو چې غلطي موکړیده او ماتې مو

وخوري.

## شرایط کولای شي مونږ وهڅوي

دا خبره حقیقت لري چې سخت حالات زمونږ ایمان آزمايي، او مونږ ته نظم او دسپلین رابخښي. مګر همدا مسائل پخپله کیدای شي چې د هڅونې یوه سرچینه هم شي. خو دا کار په پوره ډول دسختو حالاتو په مقابل کښې زمونږ د عکس العملونو سره تعلق لري، او دا چه دخدای دارادې څخه په کومه اندازه خبرداری لرو. اجازه راکړئ چې د دې هڅونې او تشویق درې اړخونه وڅیړو.

### د دې مطلب ثابتول چې مونږ خدای سره تعلق لرو

لومړی، مشکلات کولای شي مونږ ته دامعلومه کړي چې مونږ د خدای سره تعلق لرو. مقدس کتاب په ښکاره او روښانه ډول د هغو شیطاني قوتونو سرچینه چې په دنیا کې موجوده ده، بیان کړیده. شیطان د هغو خلکو دښمن دی چې د مسیح څخه پیروي کوي. شیطان د هرې موقعې څخه استفاده کوي ترڅو د خدای د پادشاهۍ دقائمیدو په لار کښې خنډونه پیدا کړي. شیطان دا عمل په قصدي، ارادي او د کینې او دښمنۍ له مخې ترسره کوي. هغه سره د دې چې قدرت یې محدود شوی هم دی، خو بیا هم قوی دی. شیطان د قویتوبه څخه زیات مکار او ټګ دی. هغه د دروغجنو پلار دی.

شیطان د مسیحیانو دښمن دی او جهاني جوړښت هم په

همدې ډول دی. دا جوړښت او سیستم په عدالت نه دی ولاړ. دا یو داسې سیستم دی چې په فریب، ظلم او بې انصافۍ ولاړ دی. هغه سیستم چې په نړۍ باندې حاکم دی هغه یو مغشوش کوونکی سیستم دی. دا سیستم له داسې انسانانو څخه ډک دی چې بدو ته ښه، او ښو ته بد وایي.

دنیا هغه سیستم دی چې وعده کوي خو عمل ورباندې نه کوي، او داسې تعلیم ورکوي چې د حقیقت څخه ډیر لیرې دي. دنیا هغه سیستم دی چې د خدای او دخدای د زوی خلاف یې پاڅون کړیدی. دنیا هغه جوړښت دی چې د خدای زوی یې پدی دلیل رد کړ او په صلیب یې وځړاوه چې عادل او نیک انسان ؤ. د خدای د زوی انصاف او عدالت د دې سیستم کینه او نفرت راوپاراوه.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. یوحنا ۱۵: ۱۸- ۲۰ ولولئ او دا لاندینۍ جمله بشپړه کړئ.

مسیح خپلو شاګردانو ته وفرمایل چې دنیا له هغه څخه کرکه لري. هغه هغو ته خبرداری ورکړ چې دنیا له هغو څخه به هم کرکه او نفرت ولري، ځکه...

په دې صورت کې د خدای یو اولاد کله چې د خدای له ارادې څخه تابعت کوي څه طمع کولای شي چې ولري؟ هغه په یو ناآرامه او ګډوډ چاپیریال کې ژوند کوي او همدا هڅه کوي

چې په یو درست مسیر کې پل کېږدي. په یوې تپه تیارې نړۍ کې هغه هڅه کوي چې له نور څخه تابیعت وکړي. مقدس کتاب کله هم دا نه دي ویلي چې ګني د خدای اراده له دغه دنیاوي سیستم سره موافقه ده او یا دا چې له هغې سره یو پخلا کېدونکې اړیکه لري. دغه دواړه سره په جګړې او اخ و ډب کې قرار لري. مسیح وفرمایل: "تاسو ته به په دنیا کې ستونزې پیدا شي، خو ستاسو خاطر دې باید جمع وي ځکه زه په دنیا غالب شوی یم" (یوحنا ۱۶: ۳۳).

د دې پر ځای چې ستونزې مونږ په دې اړه چې ((آیا مونږ د الهي نقشې څخه منحرف شوي یو او که نه)) په سردرګمۍ کې واچوي، کولای شي چې د مسیح د وینا په مطابق په دې دلالت وکړي چې مونږ د هغه په اراده کې یو. دا کار په ځانګړي توګه هغه وخت حقیقت لري چې زمونږ ستونزې د هغه شخړې په سبب منځ ته راځي چې د دنیا د شیطاني سیستم او زمونږ د نیک ژوند ترمنځ پیدا کېږي.

په لوقا ۶: ۲۰- ۲۶ کې هغو تشویقوونکو جملاتو ته پاملرنه وکړئ چې د شاګردانو له پاره په ۲۰- ۲۳ آیتونو کې بیان شویدي. هغوی باید په مستقیمه توګه په خپله د ستونزو په وسیله هڅولی شوی وای. په ضمن کښې هغه خبرداري ته هم پام وکړئ چې په ۲۴- ۲۶ آیتونو کې راغلي دي. دغه خبرداري هغه مخالفتونو ته په مستقیم ډول اشاره کوي چې د دنیا له خوا ترسره کېدونکي دي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

8. لوقا ٦: ٢- ٢٦ ولولئ او وروسته بیا د چپ طرف تجربې هره یو د ښي خوا حاصل شویو نتایجو سره ونښلوئ.

١- خوشاله کوونکی نتیجه. ا- فقر

٢- ویرونکی نتیجه. ب- بډایتوب

ج- دانسانانو موافقه

د- ژړا او ماتم

ه- دانسانانو نفرت.

مشکلات کولای شي چې مونږ تشویق کړي. مشکلات نه یوازې پدې دلالت نکوي چې مونږ د خدای د نقشې څخه بې لارې شوي یو، بلکه ممکنه ده چې پخپله ددې خبرې څرګندونکی هم شي چې مونږ د خدای په اراده کښې شامل یو.

### د بریالیتوب لپاره فرصتونه

دوهم، مشکلات کولای شی مونږ ته د بریالیتوب فرصیتونه راوړاندی کړي.

د دی مشکلاتو سرچینه د دنیا څخه ده. ټول تکلیفونه په مونږ له دې امله راځي چې مونږ په دنیا کښې اوسیږو. خو عیسی مسیح په دنیوي سیستم باندې بری ترلاسه کړی دی.

مخالفتونه او مشکلات د خدای د ارادې سرته رسول نه سختوي او ناممکنه کار ورڅخه جوړوي. مشکلاتو ته شکست ورکول کيدای شي. په حقيقت کښې همدا مشکلات دي چې برياليتوب ممکن کوي او د جنګ ټکر او مقابلې نه بغير کاميابي څه معنی نلري. مونږ د مسيح په وسيله يوازې د برياليتوب موندونکي نه يو بلکه په قهرمانۍ سره غلبه موندونکي يو.

لکه څنګه چې د يو کس شخصيت د هغه د دوستانو په ارزيابۍ سره معلومېدلای شي، نو د هغه دښمنانو ته په نظر کولو هم دغه کار د پيژندنې وړ دی. مقدس کتاب پدې عقيده دی چې له دې دنيا سره دوستي په حقيقت کې له خدای سره دښمني ده (يعقوب ٤: ٤).

د دې خبرې معنی داده چې که چيرې مونږ دخدای دوستان يو نو پدې صورت کښې د دې دنيا دښمنان شميرل کيږو.

آيا کله چې يو کس په جنګ کښې برياليتوب لاس ته راوړی، دی ته ضرورت لری چې د هغه ماتې خوړونکی دښمن دی د هغه بری تائيد او تصديق کړي؟ په همدی ډول مونږ هم نه غواړو چې د خدای په اړوند خپله توجه د دی دنيا د سيستم د منلو او تائيد په خاطر دلاسه ورکړو. برعکس، پدې دنيا کښې د برياليتوب تجربه مونږ کښې يو نوی طاقت پيدا کوي چې دخدای فرمانبرداري وکړو.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

9. مکاشفه ۳: ۲۱ ولولئ. مسيح چا ته دا وعده ورکوي چې د هغه سره به څنګ په څنګ په تخت کښيني؟

### هغه ډاډ ګيرنه چې دمخالفتونو څخه لاس ته راځي

دريم، مشکلات کولای شي چې مونږ ته اطمينان راکړي چې دا کوښښ وکړو ترڅو خدای خوشاله کړو. په ذکر شويو مطالبو کښې مو هغه مشکلات بيان کړل چې هم د شيطان او هم د دې دنيا د سيستم څخه منځ ته راځي، او دا مو وويل چې دغه رنګه ستونزې څرنګه زمونږ تشويقی منبع کيدای شی. يوبل محدوديت هم شته چې زمونږ لپاره ستونزې پيدا کوي، چې مقدس کتاب ورته، ((بشري طبعيت))، ((په ګناه ککړ طبعيت)) او يا ((جسم)) وايي. د جسم څخه مقصد صرف فيزيکی اندامونه نه دي. بلکه مقصد ورڅخه زمونږ هغه برخه ده چې دنياوي خواهشاتو سره موافقه لري او هغې ته ميلان لري. زمونږ سره د شيطان دښمني په خپل ذات په کافي توګه بده ده. له دې نه علاوه مونږ په يوې راپرځيدلي دنيا او د هغه څخه ترلاسه شوي سيستم کې ژوند کوو. مګر هغه لوی مشکل چې مونږ يې لرو دادی چې مونږ دخدای د لوی دښمن سره د خپل بشري طبيعت له لارې تړلي يو. مونږ نشو کولای چې خپل ځان د خپل بشري طبيعت څخه خلاص کړو. مونږ بايد په هغې په قهرمانۍ سره غلبه حاصله کړو، خو د دغی غلبې لپاره

لمړی لاژم دي چې یوه قوه او قدرت موجود وي.

د ګلتیانو د لیک په پنځم فصل کښې هغو کارونو ته اشاره شویده چې د جسم او یا بشري طبعیت څخه سرچینه اخلی. هغه لست چې پدې فصل کښې ذکر شوی دی کامل ندی. خو بیاهم په کافي اندازه دځینو ځایونو نومونه یې بیان کړي دي چې مونږ ته قدرت راکوی ترڅو هغه حالات چې ذکر شوي نه دي وپیژنو.

مونږ څرنګه کولای شوچه دجسم او یا بشری طبعیت سره د مخالفت په وسیله تشویق شو؟ پدی خبره پوهیدل چې زمونږ د جسماني طبعیت او د خدای د روح تر منځ نه ختمیدونکې جګړه موجوده ده، مونږ ته دا ډاډ ګیرنه راکوي چې هر کله مونږ د خپل جسمانی میلانونو د پیروۍ څخه سرغړونه کوو نو خدای وربانديې خوشالیږي. که چیرې یوازې خپلو جسماني خواهشاتو سره مو ژوند کاوه نو پدغه صورت کښې به کومه جګړه موجوده نه وه. دا جنګ چې موجود دی هغه د روح او جسم تر منځ دی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

10. مونږ پدې لوست کښې ځینو هغه ارزښتونو او ګټو ته اشاره وکړه چې د سختو حالاتو سره دمخامخ کیدو څخه لاس ته راځي. د دې مشکلاتو د ښکاره کیدو دلیلونه مو هم ولوستل. په لاندینۍ لومړۍ برخه کښې دوه جملې دي. دغه دوه جملې د خپلو

صحيح توصيفونو سره چې به دوهمه برخه کښې ذکر شويدي، ونښلوئ.

۱- د ستونزو ارزښت.

۲- د ستونزو د منځ ته راتلو دلائل.

أ. مشکلات زمونږ سره دا مرسته کوي چې خپلې سترګې د خپلو محدوديتونو څخه پورته کړو او خداى ته يې واړوو.

ب. مسيح د شيطان، نړۍ او د هغې د سيستم دښمن دی.

ج. روح د جسم سره په جنګ بوخت دی.

د. هغه نفرت او کينه چې دنيائی زمونږ سره لری دا ډاډ راکوی چې مونږ د خداى يو.

ه. هغه مخالفت چې زمونږ انساني طبيعت يې زمونږ سره لری مونږ ته دا ډاډ ګيرنه راکوي چې د هغې د تابعدارۍ څخه د ځان ساتلو په وسيله خداى خوشالوو.

ډيرې زياتې طريقې موجودې دي چې خداى د هغو په

وسیله کیدای شي د سختو حالاتو څخه کار واخلي ترڅو تاسو سره د الهي نقشې په پیروۍ کښې مرسته وکړي. دغه شرایط کولای شی چې ستاسو د ایمان په ودې کښې هم مرسته وکړي. دغه رنګه حالات تاسو ته ښودنه کوي چې په خدای تکیه او باور وکړئ. دغه حالات ستاسو د کامیابۍ لارې چارې برابروي د هغه څه په اړه یوه شیبه فکر وکړئ چې مسیح فرمایلي دي. یعنې صلیب،جنګ، مقابله، د دنیاوالو له لوري ردیدل، وسوسه، کړاو او زحمت. خو مسیح نورې وعدې مونږ ته هم راکړیدي.

بریالیتوب، تاج، تخت، سپین څادر، د خپل پلار د لوری منل کیدل. په نوې عهدنامې کې راغلي دي: "ای زما ورونو! هر کله چې تاسو په قسم قسم ازمیښونو کې راګیر شوئ، نو ډیر په خوشالی یې وزغمئ" (یعقوب ۱: ۲).

اوس تاسو څلور لومړني لوستونه ولوستل. او دې ته چمتو شوي یئ چې د خپلې زده کړې د راپور لومړنۍ برخې ته ځواب ووایاست. د لومړی درس څخه تر څلورم درسه پورې یو وار بیا ولولئ او بیا سوالونو ته د ځوابونو پاڼه د هغه لارښونو سره سم ډکه کړئ چې ستاسو دزده کړې د راپور برخه یې تاسو ته درښیئ. کله چې ځوابونه مو ولیکل نو د خپلې زده کړې راپور خپل لارښوونکي ته وسپارئ.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

6. ب. په خدای باندی تکيه او اعتبار لازمی بولي.

1. ا. عيسی پطرس ته وويل چې شيطان به هغه وآزمايي او تجربه په يې کړي.

ب. عيسی وويل چې پطرس به د عيسی د پيژندنی څخه درې ځله انکار وکړي.

ج. پطرس وويل چې هيڅکله به د مسيح څخه انکار ونه کړي.

د. پطرس درې ځلې د عيسی مسيح د پيژندلو څخه انکار وکړ.

(ستاسو ځواب بايد پورته ځواب ته ورته وی).

7. هغوی د خدای دي اود دنيا سره هيڅ تعلق نه لري (يادې ته ورته ځواب).

2. مونږ کامل او بشپړ کېږو (يادی ته ورته ځواب).

8. الف. ۱- خوشاله کوونکی نتيجه.

ب. ۲- ويرونکې نتيجه.

ج. ۳- ويرونکې نتيجه.

د. ٤- خوشالوونکې نتیجه.

ه. ٥- خوشالوونکې نتیجه.

3. ج. داود د ایږو او زمریانو سره د جګړې څخه، په خدای د توکل کولو درس زده کړی ؤ.

9. هغو کسانو ته چې کامیابي ترلاسه کوي.

4. الف. ځینې وخت لازم دي چې..................

د. د ایمان دازموینې څخه ورسته...........

10. الف. ١- د ستونزو ارزښت.

ب. ٢- د ستونزو ارزښت.

ج. ٣- د ستونزو د منځ ته راتلو دلائل.

د. ٤- د ستونزو ارزښت..

ه. ٥- د ستونزو ارزښت.

5. الف. یوه لویه ډله هلته سره ټوله شوې وه چې ټول وږی ؤو.

ب. مسیح وویل: "هغوی ته خواړه ورکړئ" (٣٧ آیت).

ج. پنځه ډوډۍ او دوه ماهیان.

د. **هغه خوړو ته برکت ورکړ او هغه يې شاګردانو ته ورکړل ترڅو د خلکو په منځ کښې يې وويشي.**

ه. **دغه خواړه د ټولو لپاره کافي ؤو او ټول ورباندې ماړه شول.** (ستاسو ځوابونه بايد پورتنۍ بڼه ولري).

پنځم لوست

# آیا یواځې مسیحیي توب کافي دی؟

... شاید زه خپل عملونه و ښیم.

(ټام واټسن) یو ښه دنده لرله چې د هرې ورځې په تېرېدو سره یې پراختیا موندله. هغه په دې خاطر چې د سختوکارونو د سرته رسولو څخه یې دریغ نه کاوه، نو د خپلو نوکرانو او مزدورانو څخه یې هم همدا طمع درلوده. هغه په هیڅ قیمت سستي او لټي نه شوه زغملی، او د هغه مزدور په رټلو کښې به یې هیڅ وقفه نه کوله چا چې به په کافي اندازه کارنه کاوه. ټام

واټسن يو مسيحی هم و.

ټام په خپله کليسا کښې يو فعال نفر ؤ او د هغو دندو په سرته رسولو کښې يې چې په غاړه يې درلودې، هغه غصه غيرت او طريقه کاروله کومه يې چې په کار کښې ورڅخه استفاده کوله. خو په ډېرو حالاتو کې به هغه دا احساسوله چې نور مسيحيان د هغه د کاري طريقې څخه خفه دي. زياتره به دا په سترګو کيده چې ځينې موعظې او وينا وې د ټام د اعمالو پرخلاف اشاره کوي، پداسې حال کښې چې په عين وخت يې د هغی داعمالو دنتيجو څخه خوشالي هم څرګندوله او ستاينه به يې هم کوله. بالاخره ټام مجبور شو چې دا حقيقت ومني، چې که څه هم کيدای شي چې د هغه د اعمالو له درست والي څخه دفاع وشي مګر هغه په خپل باطن کې له هغو څخه خوشاله نه دی. هغه په پوره ډول د يو شي څخه مطمئن ؤ او هغه دا چه د هغه په باطن کښې يو مخالفت او تضاد موجود ؤ چې لاتر اوسه ورڅخه لېرې شوی نه ؤ.

شايد تاسوبه هم د خپل ځان څخه دا پوښتنه کړې وي چې «زما د وجود حقيقت څه دی؟ آيا زه هماغه څوک يم چې پخپله يې احساسوم؟» حتی د مقدس کتاب د مطالعې په وخت کښې هم دا مشکله ښکاري چې وپوهيږو چې مونږ څه يو. آيا مونږ جنګيالی او سرتېري يو او يا سوله کوونکي؟ پدې درس کښې به مونږ خپل اعمال او تجربی د هغه څه سره مقايسه کړو چې مقدس کتاب يې زمونږ په باره کښې بيانوي. مونږ به پدې لوست کښې د هغه څه په لټه کښې شو چې وپوهيږو د خدای په نظر کې

کوم شی ډیر اهمیت لری. نو بیا به دا هم مطالعه کړو چې څرنګه کولای شو په عملي توګه راځخه هغه نفر جوړ شو چې خدای زمونږ څخه د هغې طمع لري. دا زمونږ واقعي هدف دی.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ خدای مونږ ته څرنګه ګوري
- ❖ د خدای په نظر کې کوم شی اهمیت لري
- ❖ د هغه هیلو سرته رسول چې خدای یې لري

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو. . .

- ❑ هغه لارې چارې توصیف کړئ چې خدای مونږ ته پرې کتنه کوي.
- ❑ د مسیح د کار اهمیت او دهغه په نسبت زمونږ غبرګون بیان کړئ.
- ❑ هغه دلائل بیان کړئ چې ولې مونږ کولای شو هغه څه ته عملي بڼه ورکړو چې خدای یې زمونږ څخه هیله لري.

## خدای مونږ ته څرنګه کتنه کوي

راځئ چې د غه بحث په دې موضوع سره پیل کړو چې مقدس کتاب زمونږ په اړه څه نظر لري او د هغې په نظر مونږ څه یو.

**مقدس کتاب څه وايي؟**

ځيني وخت اورو چې بعضې مسيحيان په دې اړه بحث کوي چې په «مسيح کښې» هغوی څوک دي. دا رنګه بحثونه اکثره وخت خوشې معلوميږي. خو په حقيقت کښې مقدس کتاب ورباندې زمونږ د مقام او شخصيت توصيفوي.

د افسسيانو ته د خط په لومړي باب کښې لولو چې په آسماني مقامونو کښې ډير روحاني برکتونه لرو (۳ آيت). له خطا څخه پاک او مقدس يو (٤ آيت). غوره شوي يو ترڅو د خدای د تصميم او هدف په خاطر د هغه کورنی او قوم شو (۱۱ آيت). په دوهم فصل کښې لولو چې د مسيح سره ژوندي يو، او د هغې سره مو د آسماني ځايونو په لور قيام کړی او د مرګ نه وروسته بيا را ژوندي کيږو (٥- ٦ آيت). خدای مونږ څنګه چې اوسو، پيدا کړي يو (۱۰ آيت). او مونږ د خدای د قوم غړيتوب لرو، د الهي کورنۍ وګړي يو (۱۹ آيت).

همدغه مفکوره په اول پطرس ۲: ۹ کښې هم پيدا کولی شئ. په دغه برخه کښې لولو چې مونږ د خدای غوره نسل، د شاهي کاهنانو فرقه، مقدس قوم، او د خدای خپل امت يو. ددی مطلب نور تشريحات هم موجود دي. له دې څخه اوچت صفتونه او نومونه څه کيدای شي چې موجود وي؟

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

1. دا لانديني آيتونه ولولئ. او د هغه په مقابل

کې هغه صفت ولیکئ چې دا په ډاګه کوي
چې مونږ په مسیح کې څوک یو؟

أ. افسسیان ۲: ۲۲

ب. افسسیان ٤: ۱

ج. افسسیان ٤: ۱۷

## هغه څه چې تجربه کوو

په دې توګه په هغو تجربو کښې چې په عملي توګه یې لاس ته راوړو د اخ او ډب سره مخامخ کیږو. مونږ وږي، تږي او ستړي کیږو. هیلې، خیالونه او رویاګانې لرو، دا احساسوو چې په داخل کښې رهبري کیږو او په خارج کښې ډیر جذابیتونه پیدا کوو. د ګناه وسوسه تر اوسه زمونږ څخه نه ده لرې شوې. کله چې فکر کوو چې په یوه برخه کښې کامیاب شوي یو، جنګ بلې برخې ته رانښکل کیږی او بله بڼه خپلوي.

زمونږ څخه ځینې دخدای د زوی په صفت په خپل ځان کښې د نورو ایماندارانو سره په پوره ډول یووالي او ورته والي نه ګورو. مونږ ویریږو، کمزوري یو او لیدل کیږي چې خدای مونږ ته ډیر لوی صفتونه په خپل کلام کښې راکړیدي.

داسې صفتونه دي چې سر یې تر آسمانه پورې رسیږي. مونږ د هغه بندیزونو سره ښه اشنا یو چې پر مونږ لګول شوي دي او حکومت کوي. او دغه عوامل د آسمان په نسبت په زمکه کښې دیر ښه پیژندل کیږي.

سر بیره پردي، هغه څه چې زمونږ د اعمالو څخه راپورته کیږي او لاس ته راځي او دغه اعمال پخپله زیات زمونږ د دنیاوي طبیعیت څخه سر چینه اخلي نه زمونږ د آسماني فطرت څخه. په حقیقت کښې دا به ډیره آسانه وای چې که په یو ځل واقعي دعا سره ټولې ستونزې یوی خوا ته کیدای، مګر اکثره مونږ ګورو چې زمونږ دعا ګانو هیڅ یوه مسئله هم نده حل کړې.

مونږ تر اوسه پورې هم د وسوسې او کمزوریو سره لاس په ګریوان یو. دا مشکلات څرنګه کیدای شی چې د هغې الهي نقشې سره پیوند کړای شي چې خدای زمونږ لپاره تیاره کړې ده؟ د ژوندون د مسائلو او پیښو په اړوند تصمیم نیول آسانه ده. مونږ څه غواړو چې و اوسو؟ یوښوونکی، روحانی لارښود او یا ډاکتر؟ هر یو چې وغواړو د هغی په اړوند امتحان ورکولو نه وروسته یې په اسانۍ سره یې لاس ته راوړلی شو. مګر هغه نقشه چې خدای زمونږ لپاره تیاره کړیده یوازی د ژوندون لپاره تصمیم نیونه نده. الهی نقشه زمونږ ټولو اعمالو ته په ځان کښې ځای ورکوي او ورشاملیږی. حقیقی مشکل دادی چې په هر هغه څه چې پوهیږو چې ښه او صحیح دي او باید سرته ورسول شي، هغه څرنګه سرته ورسوو.

مونږ اکثر داسې شیانو ته اهمیت ورکوو چې مهم نه وي، او هغه چې حقیقي اهمیت لري نورو ته د بې اهمیته شیانو په سترګه ګورو. زمونږ اړیکی یو تربله سره نغښتل شوې او سختې دي. هغه اهداف چې لرو یې، دا راڅرګندوي چې مونږ دوه زړې خلک یو.

د دې علت، چې مونږ د خپل ژوندون د مسائلو په اړوند په مشکلاتو کښې ښکیل کیږو دادی چې په خپله ورځینۍ او تر پښو لاندې تصمیم نیونې کښې غلطي کوو.

نتیجه دا ده چې په هغه مقام خبرداری چې په مسیح کښې یې لرو یوازې کافي نه دي. بلکه باید دغه خبرداری زمونږ په اعمالو، فکری تګ لارو، او خواهشاتو کښې وځلیږی او آغیزه ورباندې وکړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. ښایي دې ته مو پام شوی وي چې په ځینو حالاتو کښې نشئ کولای چې د هغه څه مطابق ژوندون وکړئ چې په مسیح کښې یاست. په لاندیني جدول کښې خپل وضیعیت د (×) په علامه په نښه کړئ. دلوستلو په وخت انتظار وکړئ چې خدای د مشکلاتو د حل هغه طریقې چې بیان مو کړې تاسوته دروښیئ.

| وضیعیتونه او حالات | هېڅ | لږ | ډیر |
|---|---|---|---|
| د ارزښتناکه اهدافو په لور تګ. | | | |
| پر خودخواهانه غوښتنو بری. | | | |
| درسته تصمیم نیونه. | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د وسوسو سره سروکار درلودل. | | | |
| د نورو سره ښې اړیکې. | | | |
| په مهمو مسائلو تمرکز. | | | |

## هغه څه چې خدای یې ویني

کله چې کوچني اولادونه لوئیږي، مور او پلار د هغوی د تیر وخت ښې خاطرې ذهن ته سپاري. هغه مسائل او مشکلات چې د هغوی په سبب منځ ته راتلل، ټول له هېره وېستل کېږي لکه بې خوبۍ، ناروغۍ د کوچینوالي د دورې نور مشکلات لکه کانګې (استفراق)، نس ناستې او ټول نور ناوړه حالات.

یوازې د هغوی ښېګڼې او خوشالۍ په ذهن کښې پاتې کېږي. حتی هغه اولاد چې تربیه یې ډیره مشکله وه خو کله چې غټ شو، نو فرښته معلومیږي. آیا خدای هم مونږ ته په همدې سترګه ګوري- یعنی د تعصب څخه په ډکو سترګو؟ نه! هغه هیڅکله دا کار نه کوي.

خدای دعدالت او برابرۍ لپاره یو مطلق او تغییر نه منونکی معیار لري. هغه مونږ ته د ((سپیڅلیو))، ((خپلو زامنو)) او ((کاهنانو)) خطاب کوي. کله چې هغه مونږ ته ګوري نو څه ویني؟ کله چې خدای مونږ ته نظر اچوي، هغه مونږ هغه شان ویني، لکه څنګه چې (اوسو). هغه زمونږ طبیعي غریزې چې البته ګناه نه دي هم ګوري. له بله پلوه خدای زمونږ په ګناه ملوث او زوړ طبیعیت

هم وینی چې د ژوندون په اوږدو کښې همیشه د هغې سره جګړه کوو ترڅو په هغې بری ترلاسه کړو. هغه ځان غوښتنې او نفسي خواهشات هم ګوري چې په مختلفو طریقو ځلیږي. خدای د هغو ښو پیلونو شاهد دی چې په پای کې له هغو څخه حتی کوچنۍ نتیجې هم ترلاسه کیدای نشي.

خدای حضرت نوح یو با ایمانه انسان وموند او هغه یې د دې لایق وګڼه چې له توفانه څخه یې وژغوري (پیدایښت ۷: ۶-۱۰). په عین حال کې هغه د نوح بد مستي هم ولیده (پیدایښت ۹: ۲۰-۲۱). خدای حضرت موسی د خپل ایمان په اعلی مرابتو کښې ولید (خروج ۱۴: ۱۳- ۱۴). او دهغه احساساتی کیدل او نامناسبه رویه یې هم هغه وخت ولیده چې ډبره یې په خپلې امسا ووهله (شمیر ۲۰: ۱۱- ۱۲). خدای دواد هم د روحاني او د عبادتي سندرو سره ولیده (دوهم سموئیل ۲۲ او زبور ۱۸). او په عین حال کې د بتشبع سره یې د هغه ګناه هم وکتله (دوهم سموئیل ۱۱). خدای د پطرس نا پایداره ایمان هم ولید چې د عیسی مسیح څخه یې د هغه د ګرفتارۍ پر وخت انکار وکړ (لوقا ۲۲: ۵۴-۶۲ او متي ۱۶: ۱۷). او همدا رنګه پولوس یې هم د هغه بې حوصلګۍ سره ولیده چې د مرقوس په اړه یې ښکاره کړی وه (اعمال ۱۵: ۳۷-۴۰). او د هغو دولسو شاګردانو څخه کوم یو مسیح ته د هغه د تکلیف او عذاب په وخت کښې وفادار پاتی شو؟ هیڅ یو هم نه! هغه یوازې ؤ (متي ۲۶: ۵۶).

هغه ماتې خوړلې او عاجزه مقدسین... مګر بیا هم

مقدسین! لکه څنګه چې خدای دغو افرادو ته په څرګنده توګه کتل مونږ ته هم په همدې نظر ګوري. که چیرې زمونږ د ژوندون پیښې د هغوی د ژوندون د پیښو په څیر ټکی په ټکی لیکل کیدی، هماغه مثالي نمونې به زمونږ په ژوندون کښې هم لیدلای شوې وای. هر څه د خدای په نزد د لیدلو قابل او د هغه د سترګو لپاره ښکاره دي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. د هغه پاراګراف مخې‌ته نښه وکړئ چې په ښه توګه د هغې خبرې څرګندوی وي چې ((خدای مونږ څرنګه ویني؟)).

   أ. مونږ د مسیح سره قیام کړیدی او دخدای زامن یو. مونږ د یو کاهن منصب لرو، او دخدای د کورنۍ غړي یو.

   ب. مونږ هغه سپیڅلی ملت یو چې د خدای په وسیله غوره شوي یو او دهغه سره تعلق لرو. په همدی صورت زمونږ په ژوند کښې داسې وختونه هم راځی چې برقرار نه پاتی کیږو خو غلطۍ او ګناه نه کوو.

ج. مونږ انسانان یو او خطا او ګناه له مونږ څخه سر وهي. زیاتره مونږ په خپل ژوند کښې ځینی وخت د کمزوری سره مخ کیږو. او اکثر مو دنورو سره اړیکی سمې نه وي.

## د خدای په نظر کې کوم شی اهمیت لري

مونږ ولیدل چې د مقدس کتاب نظر زمونږ په اړوند څه ؤ، او هغه حقیقتونه موهم مشاهده کړل چې زمونږ د ورځني ژوند له تجاربو څخه ؤو. مګر کوم شیان د خدای په نظر اهمیت لري؟

آیا خدای زمونږ سپڅلتیا ته دیر ارزښت ورکوی که زمونږ رفتار او کړنلاری ته؟ دی سوال ته له دوه اړخونو څخه ځواب ویلای شو.

### د مسیح کار

خدای د مسیح کار ته له ټولو څخه لوړ ارزښت ورکړیدی، د هغه په کمال، د هغه په عدالت او د هغه په فرمانبرداری. هم مقدس کتاب او هم منطق په ښکاره ډول په دې مطلب باندې دلالت کوي.

د خلاصون پیغام دا دی: هغه وخت چې مونږ لاګناهکاران وو نو مسیح زمونږ د ګناه څخه دخلاصی په لار کښې مړ شو. د

یوعادل په صفت د یو ګناهکار په ځای مرګ ته غاړه ایښودل، دا د دی لپاره چې وکړای شي مونږ د خدای حضور ته راولي. مسیح یو علت دی، په داسې حال کښې چې د خدای لور ته زمونږ راوستل د دې علت معلول دی. د هغه عدالت زمونږ د عدالت سبب ګرځي.

نو له همدې کبله کله چې خدای مونږ ته د مقدسینو خطاب کوي (او مونږ دا نه احساسوو چې د مقدسینو په شان و اوسو) هغه کوم نا درسته تصویر نه ګوري. هغه د دی جریان انتها ته ګوري – هغه علت ته چې مخکې له مخکې پوره او روښانه دی، او هغه معلول ته چې پوره تضمین شویدی. هغه په زمان پوری محدود نه دی چې په داسې یو شی باندې د پوهیدو لپاره چې مونږ ته لاتر اوسه معلوم نه دی خبرداري ته اړتیا ولري. هغه په هماغه پیل انتها ته ګوري او په هماغه ابتدا کې له انتها څخه باخبره دی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

4. خدای کولای شی چې په ریښتیا مونږ ته د((مقدسینو)) او یا ((د سپېڅلیو)) خطاب وکړي، ځکه هغه.....

أ. پدی پوهیږی چې مونږ یې خدمت کول غواړو.

ب. زمونږ غلطی او ګناهونو ته نه

ګوري.

ج. هغه څه چې مونږ جوړیږو هغه ګوري.

زمونږ د خلاصون د علت څېړنه، مونږ ته پدی باره کښې پوره اطمینان راکوي. کولسیانو ته لیک ۱: ۱۵- ۲۷ د تقدم په اړه خبرې کوي چې د مسیح کار او پخپله مسیح یې د خدای په نقشه کښې لری. مسیح مونږ ته خلاصون راکړی. زمونږ آزادی او خلاصون په مسیح کښې دی. هغه د نا مرئي خدای مرئي څېره ده. هغه د ټولو شیانو پیدا کوونکی دی. هغه د هر څه څخه مخکې موجود ؤ او د هر څه ساتونکی دی. هغه د هرڅه څخه لومړی مقام لری، د هغو شیانو د جملې څخه چې خدای یې ویني. هغه په عملي توګه علت دی. مقدس کتاب وایي: "دا دی چې مسیح په تاسو کښې اوسیږي او هم هغه د راتلونکي جلال امید دی" (کولوسیان ۱: ۲۷).

## ستاسو غبرګون

د علت نتیجه (مسیح او د هغه کار) تضمین شوی دی. پاکی او تقدس سرته رسیدلی دی، دخدای د زامنو جلال ښکاره شویدی (رومیان ۸: ۱۹ اول یوحنا ۳: ۱- ۲). که چیرې یو وخت چې دی جریان لپاره علت او معلول ضروري وي له پامه وغورځوو، (ځکه خدای په وخت پورې محدود پدلای نشي)، نو په دې صورت کښې علت او معلول یو د بله سره او په یووخت کښې منځ ته راځي. په دې معنی چې د خدای په نظر کښې اوس

مونږ هغه څه یو، چې په راتلونکی کښې به یو.

دغه ضمانت په رښتیا یو لوی کار دی، له همدی سببه ستاسو ونډه دیره مهمه ده. تاسو کم تر کمه مهم پاتې کېدای شئ خو نه د دی لپاره چې د مسیح په کار څه زیات کړئ بلکه په دې جریان کښې په پاتی کیدو سره (کولو سیان ۱: ۲۳).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. فرض کړئ که یو ایماندار له تاسو څخه دا ډول پوښتنه وکړي چې څه شی د خدای په نظر کښې تر ټولو مهم دی- هغه څه چې مسیح زما لپاره سرته رسولي یا هغه غبرګون چې زه یې د هغه د عمل په مقابل کې له ځانه ښکاره کوم؟ د ښه ځواب مخې ته نښه وکړئ.

   أ. خدای د مسیح کارنامې د هرڅه څخه مهمې ګڼي ځکه چې پوهیږي چې زمونږ بشري کمزوری مونږ په پورتني جریان کښې د ګډون څخه ناتوانه کوي. د دې خبرې معنی داده چې خدای زمونږ غبرګون ته اهمیت نه ورکوي.

ب. خدای دې دواړو ته په دوو بیلابیلو طریقو سره د اهمیت په نظر ګوري. هغه د مسیح کار ته د علت په ځای کښې ځای ورکوي او د هر څه څخه مخکې ورته د اهمیت په سترګه ګوري. زمونږ ځواب ورکول او غبرګون هم له دی سببه مهم دی چې مونږ باید پدې جریان کښې برقرار پاتې شو ترڅو معلول صورت ومومي.

دا دی اوس مونږ پوه شوو چې د هغه څه ترمنځ چې خدای یې مونږ ته وایي، او هغه څه چې مونږ یې پخپل ځان کښې وینو، څومره فرق وجود لری. زمونږ هدف څرګند دی. د هغه علت، په مونږ کښې د هغه د نقشې عملي جامعه اغوستل دي. مګر اوس لاژمه ده چې باید دا مطلب هم کشف او څرګند کړو چې څرنګه کولای شو دخدای سره مرسته او په ګډه کار وکړو ترڅو د هغه د پام وړ ټکي زمونږ په تجربه کښې هم خپل ځانته د حقیقت شکل غوره کړی. مونږ ته لاژمه ده چې وپوهیږو، چې څرنګه کولای شو هغه سپیځلي او پاکان شو چې د خدای د نظره مونږ ته لیدنه کیږي.

## د هغه هیلو سرته رسول چې خدای یې لري

روحاني جګړه یا مبارزه، د مسیحي تجربې جنګ، نا باورۍ او د مسیحی ژوندون ستونزې او اخ و ډب ټول له دې کبله منځ ته راځي چې مونږ زیار باسو دې پوښتنې ته مناسب ځواب پیدا کړو چې: مونږ څرنګه کولای شو هره ورځ هغه څه انتخاب کړو چې خدای مونږ ته پلان کړي دي؟

د نوې لوظنامې ډیر تعلیمات د دې سوال سره په تړاو کښې دي. هغه برخې چې مونږ ته وایي چې څرنګه کولای شو مسیحیان شو، ډیرې لږې دي. مګر هغه برخې چې وایي څرنګه لازم دي چې د یو مسیحي په شان عمل وکړو، ډیر په تفصیل سره بیان شوي دي.

په بدلون کښې طاقت او انرژي د دوو اصلي منابعو څخه سرچینه اخلي. لمړنۍ منبع، ګناه، شریعت او مرګ ته په شکست ورکولو کښې د مسیح د کار حقیقت او ریښتینولي ده. دوهمه منبع، یو خاص قدرت دی په نیکۍ کښې وجود لري چې په بدۍ غلبه پیدا کوي او دهغې ځای نیسي.

### مسیح په ګناه بریالیتوب درلود

ولې مونږ کولای شو چې الهی نقشه په خپل ژوندون کښې پلی کړو؟ لومړی دلیل دادی چې عیسی مسیح پر ګناه بریالی شو. ګناه نور په مونږ کوم برلاسی نه لري. ګناه زمونږ په منځ کښې نفوذ کوي، ځای لټوي، خو قدرت او طاقت نه لري.

د مسیح بریالیتوب او د هغه کار تر کومه حده رښتیا دی؟ د مسیح کار یوه نظریه او یا خیال او واهمه نه وه، د مسیح کار یو لړ ریښتوني پیښې وې. دغه کار په یو معلوم ځای او معلوم وخت کښې صورت نیولی ؤ او عملي بڼه یې نیولې وه. د مسیح کار یو ریښتونی جنګ ؤ، ریښتونې وینې وې چې توېې شوې، یو حقیقي مرګ ؤ، د مرګ څخه وروسته ریښتونی قیام ؤ، د مسیح کار په ګناه او مرګ باندې یو ریښتونی بریالیتوب ؤ. د مسیح کار حقیقت ؤ ځکه چې د ګناه قدرت حقیقت درلود.

د بشریت په تاریخ کښې هیچا دا قدرت ندی پیدا کړی چې د شریعت د ګناه څخه تیښته وکړي. "ځکه چې ټولو ګناه کړېده او دخدای د لویې نه محروم دي" (رومیان ۲: ۲۳). دا پخپله کافي دلیلونه دي چې پدې خبره ټینګار کوي چې ګناه او د هغې قدرت حقیقت لري، هر کله چې د ګناه د اثبات لپاره کافی دلائل په لاس کې لرو، نو د مسیح په ګناه باندی د بریالیتوب لپاره هم کافی دلائل په لاس درلودلای شو. د مړو د منځه د مسیح پورته کیدل، او د هغه بیا ژوندي کېدل د څلوېښتو ورځو په ترځ کې د ډیرو خلکو له خواه آزمایل شویدي (اعمال ۱: ۳، اول کورنتیان ۱۵: ۳- ۸). د سوال هیڅ ځای نه و پاتې. مسیح په ریښتیا سره ژوندی شوی ؤ.

د ګناه قدرت د آدم په ماتی او پریوتو قائم ولاړ ؤ. په ګناه بری هم دیو کس د فرمانبردارۍ د لاری چې هماغه عیسی مسیح دی، په خپل محور ولاړ دی. "نو بیا دا چه د یو سړی په فرمانبردارۍ به ډیر صادق کړی شي" (رومیان ۱۵: ۱۸- ۱۹). دا

په «شريعت» باندې د «ژوندون»، په نااميدۍ باندې د اميد، د انسان پر حماقت باندې د خدای د هدف او په نامهربانۍ باندې د محبت برې دی.

تاسو کولای شئ د عادل شريعت له نظره د ګناه د قانون د درونو پيټي څخه آزادي ولرئ، ځکه مسيح په خپل رښتيني مفهوم زمونږ د ګناهونو په لاره کښې مړشو. هغه ستاسو پر ځای د ګناه سزا پر خپل ځان ومنله. هغه طريقه چې شيطان ستاسو د وسوسه کولو لپاره کاروي هغه ستاسو مايوسه کول دي او دا چې تاسو خپل د کاميابۍ په حقيقت کښې شک وکړئ. هغه خپل هدف ته د رسيدلو لپاره د تهديد، تهمت، فريب او چل ول څخه په زياته اندازه کار اخلي. خو په دې ښه وپوهيږئ چې تاسو په حقيقت کښې ازاد ياست.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

6. ګناه نور په مونږ تسلط او برلاسی نه لري. ځکه.....

أ. د آدم نافرماني، ګناه په ټولو بشري پرګنو حاکمه کړه.

ب. د مسيح حقيقي کاميابي د ګناه پر واقعي قدرت غالبه شوه.

ج. مقدس کتاب مونږ ته ښيئ چې څرنګه د يو مسيحي په څير عمل

وکړو.

## نیکي پر بدي غلبه مومي

دوهم دلیل چې کیدای شي د خدای د نقشې د سرته رسولو په امکان کښې ورڅخه کار واخیستل شي او بیان شي دا دی چې نیکي (چې د خدای د لورې ده) په بدۍ (چې د شیطان د لورې ده) غلبه مومي. مقدس کتاب دا حقیقت مونږ ته په دې سبب نه ښکاره کوي ترڅو معلومه شي چې څرنګه خپل زوړ او په ګناه ککړ طبیعت ته شکست ورکړو چې زمونږ ددې ټولو بدمرغیو او نا ارامیو سبب شویدی.

بدي په مکمله توګه له منځه نه ده تللې بلکې خپل ځای یې له نیکۍ سره بدل کړی دی. ګناه خلاقیت نلري بلکه یوه منحرف کوونکې قوه ده. په بل عبارت، ګناه د انرژۍ او طاقت څخه غلطه استفاده، مهارت او یو عمل دی چې کولای شول په صحیح توګه هم وکارول شی. په همدې اساس مقدس کتاب څو نمونې بیانوي ترڅو مونږ ته راوښیئ چې نیکۍ د بدۍ ځای نیولی او وربادنې غالبه شویده. دغه ښه کارونه لږ ژور او سرسری نه دی بلکه د یو نوي طبیعت بیانونکی دی چې د زوړ طبیعت ځای یې نیولی دی. زمونږ ونډه په هغه جنګ کښې چې د روح او جسم ترمنځ پیل شویدی داده چې نیکۍ ته د بدۍ په عوض ځای ورکړو، زوړ طبیعت د دروغو په بنسټ ولاړ دی، (د شیطان چې د دروغجنو پلار دی، یوه تحفه ده). نوی طبیعت خپل ځان د حقیقت اورښتیا په وخت کښې ښکاره کوي. له

همدی کبله باید د دروغو څخه لاس واخلو او دهغی په ځای رښتیا او حقیقت ته ځای ورکړو (افسسیان ٤: ٢٥). په دې لاندیني تمرین کې په دې اړوند څو نمونې بیان شوې دي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. خپل مقدس کتاب کښې لاندې آیتونه ولولئ او د هرې بدۍ په مقابل کښې چې د دې حوالو مخې ته لیکل شویدي هغه نیکۍ ولیکئ چې په مقدس کتاب کښې بیان شوي او ددې بدۍ پرځای بدل کېدای شي.

   أ. افسسیان ٤: ٢٨ . غلا او داړه ماري.

   ب. افسسیان ٤: ٢٩. هغه خبرې چې نقصان رسوي.

   ج. اول پطرس ٩: ٣. د بدۍ په بدله کښې بدي.

   د. ګلتیان ٥: ١٦- ٢٦. د هغه بدو کارونو کول چې زمونږ زوړ طبیعت یې غواړي.

   ه. دریم یوحنا ١١ آیت. د هغه کارونو تقلید چې بد وي.

دغه جریان دیوې داسې مثالي نمونې ځرګندوی دی چې په ټول مقدس کتاب کښې لیدل کیږي. شیطان پرله پسې کوښښ کړیدی ترڅو بد کارونه د ښو کارونو په عوض ځای پر ځای کړي او دا هماغه شی دی چې راپرځېدل او ماتې یې د ځان سره راوړې ده (پیدا ایښت ۳ فصل). مونږ باید نیکو عملونو ته د بدو کارو پر ځای، ځای ورکړو.

په ښو کارونو لاس پورې کول پدې معنی نه ده چې پخپله دې صادقان او عادلان شو. بلکه دغه کار په حقیقت کښې د ذهن او ارادې د قدرت څخه، د نوي طبیعت تر څنګ کار اخیستل دي چې په سپیڅلتیا کښې پیدا کیږي. په هماغه وخت کښې چې خدای د هغو محدودیتونو په داخل کښې کار کوي چې زمونږ د قدرت څخه بهر دي. نو مونږ خپل طاقت او قدرت د بدو کارو د سرته رسولو څخه رامنع کوو او نیکو کارونو ته یې متوجه کوو او دې خبرې ته چې ((مسیح په مونږ کښې دی)) روښانه بیان وربخښو. دا هماغه د بدلون او تحول پروسه ده (مونږ تر اوسه لا په همدې پروسه کښې قرار لرو).

کله چې دا خبره قبلوو چې د بدلون په پروسې کښې قرار لرو، ترڅو نتیجې ترلاسه کېدای شي: هغه کسان چې پدې پروسې او جریان کښې قرار لري نو په ډیره اسانۍ سره یې قبلوو، هغه جنګ چې د شیطان او زړو طبیعت سره یې لرو ډیر ژر او ښه پرې پوهیږو، او هم د دې خبرې په پوهیدلو چې څرنګه د وسوسې مقابله وکړو او د هغې پرضد غبرګون ښکاره کړو، قوي کیږو. دعادت د قدرت څخه، چې مخکې به شیطان

ورڅخه کار اخيسته ترڅو مونږ کمزوري کړي، اوس مونږ هم ورڅخه استفاده کوو ترڅو پر ځای د دې چې کمزوري شو لاپسې طاقت پيدا کړو. يعنې مونږ خپلو ښو عادتونو ته په ودې ورکولو سره د هغو بدو عادتونو پرځای، ځای ورکوو چې په ګناه ککړ طبيعت څخه منځ ته راځي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

8. هغه دلايل مو ولوستل چې دا خبره ثابتوي چې څرنګه کولای شو دخدای هيلې او اميدونه پوره کړو. په لاندې حالاتو کښې يو هغه حالت په نښه کړئ چې د همدې خبرې دليل جوړيدای شي.

   أ. خدای زمونږ څخه دا هيله لري چې په ټولو هغو کارونو کښې چې سرته يې رسوو په بشپړه توګه عادل او کامل و اوسو.

   ب. ګناه په مونږ کې نفوذ لري مګر په مونږ باندې کوم واک اختيار نه لري.

   ج. نيکd چې د خدای د لورې راځي پر بدی بريالیتوب ترلاسه کوي.

   د. هغه جنګ چې په مسيحي

ژوندون کښې راپیښېږي د دې
خبرې څخه سرچینه اخلي چې
مونږ کوښښ کوو څو هغه څه شو
چې یو.

ه. مونږ په هغه کامیابۍ کښې ونډه
لرو چې مسیح په واقعي توګه پر
ګناه باندې په غلبې سره لاس ته
راوړې ده.

د خدای د اوامرو او هیلو پوره کول یو ممکن کار دی. مونږ کولای شو چې ددې کار په سرته رسولو کښې کامیاب شو ځکه چې مسیح په ګناه بری تر لاسه کړی دی او په دعا کښې د هغه ژوندی قدرت کولای شی چې نیکی ته پر بدی غلبه ورکړی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

9. پداسې حال کښې چې دا لوست مطالعه کوئ نو خپل یو څه وخت په مقدس کتاب کښې د یوحنا لومړي لیک ۳: ۱- ۳ او ۹-۱۰مطالعې ته هم وقف کړئ. بیا خپل د یادداشت په کتابچه کښې لاندنیو پوښتنو ته ځواب ورکړئ.

أ. مونږ څه امید لرو؟ (څلورم آیت).

ب. ولې ګناه ته دوام نه ورکوو؟

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

5. ب. خدای دې دواړو ته په دوو بیلابیلو طریقو سره د اهمیت په نظر ګوري.

1. الف. افسسیان ۲: ۲۲.

6. ب. د مسیح حقیقي کامیابي د ګناه پر واقعي قدرت غالبه شوه.

2. ستاسو خپل ځواب- هر تکلیف او ستونزه چې لرئ، کیدای شي چې د کامیابۍ لپاره یوه موقعه وي.

7. الف. کارکول او نورو ته بخښل. (پاملرنه: په هر حال کښې مونږ په شیانو پورې تړلي یو، څه د غلا پورې، او څه د کارکولو او نوروته د بخښلو پورې).

ب. ښې خبرې کول، او هغه خبرې چې د خلکو په درد خوري. (پاملرنه: خبرې په هر حال کښې کیږي، خو سوال دا دی چې کومو عادتونو ته مونږ وده ورکړو).

ج. د بدۍ پرځای برکت.

د. د نیکو کارونو کول: کوم چې روح القدس یې غواړي.

ه. د هر هغه ښه کار څخه تقلید کول چې ښه وي.

3. ب. مونږ مقدس ملت یو....(نور ځوابونه د الهي کتنې دواړو اړخونو ته نه شاملیږي).

8. ب. ګناه په مونږ کې نفوذ لري مګر په مونږ باندې کوم واک اختیار نه لري.

ج. نیکي چې د خدای د لوري راځي پر بدی بریالیتوب ترلاسه کوي.

د. مونږ په هغه کامیابی کښې ونډه لرو چې مسیح په واقعي توګه پر ګناه باندې په غلبې سره لاس ته راوړې ده.

4. ج. هغه څه چې مونږ جوړیږو هغه ګوري.

9. ا. یوه ورځ د مسیح په څېر شو.

ب. ځکه هماغه د خدای طبیعت په مونږ کښې ژوند کوي.

## ستاسو یادداشت

شپږم لوست

# خدای څرنګه کولای شي ماسره خبرې وکړي؟

... ما هیڅکله د هغه آواز نه دی اوریدلی.

«لاړ شئ او نا پاکو شیانو ته لاس مه وروړئ»! دا په حقیقت کښې یو مضبوط آواز ؤ او قدرت پکې نغښتی ؤ. انسان یې په پوره ډول قانع کاوه. مانوئل کورته په لاره ؤ چې دا آواز یې واوریده. هغه ډیر مهم کاروبار درلوده او ډیره ښه ګټه به یې ورته کوله. خو دا کاروبار به خدای ته لویي نه ورکوله او هغه وربانديې خوشحاله نه ؤ. مانوئل چې کوم آواز واورید د هغه ټول خیالونه ګډوډ کړل. دا یوحقیقي آواز ؤ. مانوئل پوهیده چې آواز دوام لری. په داسی حال کښې چې لاتر اوسه ډاډه نه ؤ چې دا

آواز اوس په خپلو غوږونو اوریځ او یا د زړه په غوږونو. دغه جملې یې پخوا هم په کوم بل ځای کښې اوریدلې وې.

مانوئل په یوې مسیحي کورنۍ کښې لوی شوی ؤ. هغه ته وریادیده چې کله ځوان هلک ؤ نو د مقدس کتاب درسي صنفونو ته به تللو. ورور او ټولو خویندو یې د خدای خدمت کاوه، خو مانوئل د خپلې ځوانۍ له دورې څخه د «هوسا ژوندون» سره مینه درلوده، چې عبارت ؤ له ډیر دولت، شانداره کور او آرام ژوندون څخه. له همدې کبله د مانوئل ژوند د هغه د کورنۍ د غړو په پرتله د ډیرو لارو ځینې پر مخ تللی ؤ. هغه هیڅکله خپل زړه نه خفه کاوه. هغه یو ځوان ؤ او په پوره ډول روښانه اهداف یې درلودل او د بریالیتوب په لار کې یې ډیر ښه پرمختګ کاوه. هغه وخت مانوئل ددی آواز په اړه له ځانه وپوښتل:

"دا غږ له کومه راغی؟ دا د چا غږ ؤ؟"

لکه څنګه چې مانوئل خپل غوږونه ښکته کړل نو په یو څه ډاډه شو چې دا آواز د خدای ؤ. دې الفاظو ورته د مقدس کتاب د داستانونو څخه یو داستان ور یاداوه. مګر دا د خیال او د یادونې څخه یو څه لوړه انګازه وه. مانوئل د لارې په نیمایي کښې ودریده. او خپل ټول خیالونه یې د خدای لوری ته واړول. خدای ته یې ځواب ووایه، او خپل ژوندون یې ورته وقف کړ.

خدای خبری کوي- خدای خبرې اوریدلی شي. ځینې وخت خدای په هغه طریقه خبرې کوي په کوم چې مانوئل واوریدې. او ځینې وخت په نورو مختلفو طریقو خبرې کوي. دا لوست مرسته کوي ترڅو وپوهیږئ چې خدای څرنګه تاسو سره خبرې کوي.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ هغه طریقې چې خدای د هغو په وسیله زمونږ سره خبرې کوي
- ❖ ولې ځینې کسان دخدای آواز نه اوري
- ❖ خدای هرومرو خبرې کوي

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو. .

- ❑ هغه طریقې بیان کړئ چې خدای د هغې له لارې تاسو سره خبرې کوي.
- ❑ دا خبره تشریح کړئ چې ولې ځینې خلک د خدای آواز اوریدلی نشي.
- ❑ دا ډاډمندي ترلاسه کړئ چې خدای به لا تاسو سره خبرې وکړي.

## هغه طریقې چې خدای د هغو په وسیله زمونږ سره خبرې کوي

ډیر خلک په مودو مودو پدې خبره کښې سرګردانه پاتې کیږي چې آیا خدای دهغوی سره اړیکې برقرار ولی شي او که نه. ((آیا خدای کولای شي ماسره خبرې وکړي؟ هغه څرنګه خبری کوی؟)) دا هغه پوښتنې دي چې د تل لپاره یې د دغه رنګه خلکو ذهن مشغول ساتلی دی. دا ډیره عجیبه ده چې مونږ زیاتره دا فکر کوو، هغه خدای چې مونږ یې پیدا کړي یو او مونږ ته یې توان راکړی دی چې واورو او د نورو سره اړیکې برقرارې کړو، پخپله د اړیکو په ټینګولو او خبرو کولو کښې کمزوري دي! مګر خدای خبرې کوي. هغه زمونږ سره د خبرو کولو لپاره ډیرې لارې چارې غوره کړي دي.

### خدای د مقدس کتاب له لارې خبرې کوي

لومړنۍ طریقه چې خدای د هغی د لاری مونږ سره خبرې کوي همدا د خدای لیکل شوې وینا یعنې مقدس کتاب دی. دا غیر ممکنه بریښي چې دوه زره کاله د مخه دی دیو کتاب لیکنه او منځ ته راتلل سرته رسیدلې وي او هغه دې د نن ورځې بشریت سره د خدای د هغې ارادې په اړوند خبرې وکړي چې د هغوی لپاره یې لري.

خو مقدس کتاب د نورو عادي کتابونو څخه یو اوچت کتاب دی او ځانګړې بیلګه لري. مقدس کتاب هغه پیغام دی چې د خدای د لوري زمونږ لپاره راغلی دی او همدا موضوع مونږ ته ډاډ راکوي چې مقدس کتاب کولای شي مونږ سره خبرې وکړي او مونږ کولای شو د هغه په خبرو پوه شو.

مقدس کتاب د روح القدس د الهام په ذریعه منځ ته راغلی دی. روح القدس د تثلیت اقدس (سپیڅلی دری والی) دریم رکن دی. روح القدس هم د پلار خدای او زوی خدای په اندازه خدای دی. هر هغه نیک صفتونه چې پلار خدای او مالک زوی یې لري روح القدس یې هم لري. د هغه د بشپړ معرفت یوه بیلګه دا ده چې هغه په پوره ډول له ټولو شیانو خبردار دی. هغه په اوسني وخت پوهیږي. هغه په تیرو وختونو هم خبر ؤ (او هیڅکله یې نه هیروي). هغه د راتلونکي وخت څخه هم خبر دی. هغه تاسو مخکې د پیدایښت څخه پیژني. حتی مخکې له دې چې ستاسو مور او پلار دنیا ته راشي. او هم مخکې له دې چې یو کس وزیږیږي هغه وربانديې خبر دی او هغه پیژني.

روح القدس د مقدس کتاب لیکونکی دی. همدغه روح ؤ چې د مقدس کتاب د ریښتینولۍ څخه مطمین شو (دوهم پطرس ۱: ۱۹- ۲۱).

مقدس کتاب د بشر لپاره د الهي نقشې ښکارندوی او مکاشفه ده. مقدس کتاب نه یوازې تاسو دخلاصون لورته رهبري کوي، بلکه ستاسو د لارښوونې لپاره ستاسو په ژوند کښې هم په پوره ډول ګټور او اغیزمند دی. روح

القدس پدې کتاب کښې هغه ټول شیان ذکر کړیدي چې ستاسو د کامیاب مسیحي ژوندون لپاره ضروري دي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

1. په خپل مقدس کتاب کښې د تیموتیوس په نوم دوهم لیک ۳: ۱٦- ۱۷ولولئ. بیا خپل د یادداشت په کتابچه کښې لاندیني سوال ته ځواب ووایئ.

مقدس کتاب د خدای د منلي شخصیت او خادم سره څرنګه مرسته ملګرتیا کوي؟ د مقدس کتاب معجزه یوازې د هغې د لیکنې په څرنګوالی کښی نده، بلکه د هغې د پوهېدلو او د هغې د پیژندنې په څرنګوالي کښې هم ده. روح القدس ژوندی دی. د مقدس کتاب د لیکلو عامل روح القدس ؤ. د مقدس کتاب د پوهیدلو او پیژندلو عامل هم روح القدس دی.

یو څه شیبه د هغو آیتونو په اړوند فکر وکړئ چې په دوهم لوست کښې مو ولوستل او تاسو يې پدې ډاډ مند کړئ چې روح القدس کولای شي تاسو ته لارښوونه وکړي. دمثال په ډول: په یوحنا څوار لسم او شپاړلسم فصلونو کښې د تسلي ورکوونکی او مرستندوی په اړوند د مسیح خبرې چې دنیا ته راتلونکی دی (چې هماغه روح القدس دی) په یاد راوړئ (یوحنا ۱٤: ۱٦ او ۱٦: ۱۲- ۱). رومیانو ته لیک ۸: ۲٦- ۲۷هم هیر نه کړئ چې مونږ ته دا ډاډ راکوي چې روح القدس د بشر په خیالونو او فکرونو هم پوهیږي او د هغه سره په دعا کولو کښې

لاربنوونه او مرسته کوي. مسیح دا هم فرمایلي دي چې روح القدس به هم د مسیح تعلیمات ایماندارانو ته وریادوي. مقدس کتاب وایي: "خو مرستندوی یعنې روح القدس چې به پلار زما په نوم را استوي هغه به تاسوته هر څه ښیئ. بیا به درته هغه څه دریادوي کوم چې ما تاسو ته ویلي دي" (یوحنا ۱۴: ۲۶). روح القدس به څرنګه دا کار پرمخ یوسي؟ د هغه کلام د لارې چې خپله د هغه مؤلف دی!

آیا کله داسې شویدي چې د مقدس کتاب د لوستلو په دوران کښې ناڅاپي یو آیت او یا یوه موضوع تاسو ته د نورو موضوعاتو او آیتونو څخه قوي او په زړه پورې وبرېښي؟ دا برخه ستا د ضرورت ځواب دی، سره د دی چې دلیل باندی یې نه پوهیږئ، مګر د هغه خاص مورد په اړه، ځواب او یا د لاربنوونکي حیثیت لري.

که چیرې مونږ پخپله د مقدس کتاب پاڼې اړولی، نو نه مو شو کولای چې د هغه ذهنیت د تقوې لپاره یو داسې متن او آیت پیدا کړو چې لرو یې. مګر کله چې غواړو د خدای د کلام د لارې د خدای په فکر خبرداری پیدا کړو نو دغه رنګ یو څه تجربه کوو. مسیح په پوره ډول خبردار ؤ چې روح القدس به په همدغو طریقو خبرې کوي. ځکه چې زیاتره به یې د زړې لوظنامې څخه یوڅه آیتونه بیانول اوویل به یې چې دا آیتونه د روح القدس په استناد ولاړ دي. که چیرې روح القدس مرسته ونکړي نو د سمې لارې څخه به بې لارې شو (دمثال په توګه لوقا ۴: ۱۸ ته مراجعه وکړئ). نورو ډیرو شخصیتونو هم د مکاشفې دغه ډول تجربه

کړې ده (لکه پطرس د رسولانو په اعمالو ۲: ۱۴- ۲۱ کښې).

د همدې لوست په پیل کښې مو د مانوتل په اړه خبرې وکړې. مانوئل زما نژدې ملګری دی. هغه آواز چې هغه اوریدلی ؤ د خدای آواز ؤ چې د اشعیا ۵۲: ۱۱ له لارې یې خبرې کولې، د هغه آیت له لارې چې په اصل کښې نورو کسانو ته ویل شوی ؤ. دا یوه هغه نمونه ده چې د هغې له لارې روح القدس د مقدس کتاب څخه کار اخلي او د دې باعث کیږي چې په ښه توګه د هغه په پیغام پوه شو او هغه درک کړو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. فرض کړئ یوکس ته دا خبره تشریح کوئ چې روح القدس څرنګه د مقدس کتاب له لارې زمونږ سره په خبرو کښې کار اخلي؟ خپل د یادداشت په کتابچه کښې د دې کار یو مثال چې ستاسو په ژوند کښې پېښ شوی وي او یا داسې یو کس ته ورپیښه شوې وي چې تاسو یې پیژنئ، ولیکئ.

روح القدس به مونږ سره مرسته وکړي ترڅو د مقدس کتاب څخه د هغو اصولو سره سم کار واخلو چې زده کړي مو دي. خدای به د خپل ځان سره کله هم تناقض ونه لري.

که چیرې روح القدس پدې قادردی چې زمونږ سره د خدای

د نقشې په تابعدارۍ کښې مرسته وکړي، نو پدې صورت کښې لازم دی وپوهېږو چې دغه کار په مقدس کتاب کښې په کوم شکل بیان شویدی. مقدس کتاب د ژوندون او د ټولنې دافکارو او عقایدو یوه مجموعه نه ده. بلکه مقدس کتاب هغه کتاب دی چې هغه څه چې خدای بشر ته ویلي دي هغې ته یې په خپل ځان کښې ځای ورکړی او د بشر ځواب او عکس العمل هم په هغې کښې لیدل کېدای شي. په مقدس کتاب کښې اصول او قواعد بیانېږي او مونږ د هغو اغیزو د آزمائیلو په وسیله چې د انسانانو په ژوندون باندی یې درلودې، د هغې د اصولو په معنی پوهېږو. مقدس کتاب مونږ ته راښیئ چې دا قواعد او اصول څرنګه کارول کېږي او مونږ دې ته اړ باسي ترڅو د هغو نظریاتو انډول برقراره وساتو چې د هغې په اړه یې لرو.

د مثال په ډول عیسی مسیح د آخري بري، خاکسارۍ او عاجزۍ د قواعدو په اړوند خبرې وکړې (متي ٥: ٥). خو دا عاجزي څه شی دی؟ د موسی د ژوندون د پیښو څخه دا نتیجه تر لاسه کوو چې څرنګه عاجزي کیدای شي د نورو صفاتو سره په تعادل کښې وي (د مثال په ډول د خروج د کتاب دولسم فصل مطالعه کړئ).

مونږ د اسرائیلو د قوم د دوو تنو پادشاهانو داود او شاول د ژوندون د پیښو څخه د توبې او غصې تر منځ اختلاف وینو. دا د شاول د ګناه لویوالی نه ؤ چې ددې سبب شو چې سلطنت له لاسه ورکړي. هغه یوازینی غبرګون چې شاول د خپلې ګناه په وړاندې وښود دا ؤ چې غمجن شو، خو هیڅکله یې توبه ونه

ویستله او خپل نظر ته یې بدلون ورنکړ، چې همدا یې د سلطنت د زوال عامل ؤ. خو برخلاف داود د زړه د کومي توبه ووسیتله (د مثال په ډول اول سموئیل ۱۳: ۸- ۱٤، ۱٥: ۱۷- ۲٥، د دوهم سموئیل ۱۲ فصل، او ٥۱ زبور سره مقایسه کړئ).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. د رسولانو اعمال د کتاب ٥: ٤۰- ٤۲ آیتونه او دا لاندیني آیتونه ولولئ. هغه واقعه چې د اعمال رسولانو په کتاب کې پېښه شوې ده، د هغه نمونې یو اصل دی چې په .......................... راغلې ده.

أ. متي ٥: ۷

ب. متي ٥: ۱۱

ج. لوقا ٦: ۳۷

له همدې کبله ګورو چې روح القدس د خدای له کلام څخه کار اخلي ترڅو مونږ هغه منطقي او قوي اصولو ته رهبري کړي، داسې اصول چې د انسانانو په ژوند کې د عمل د څرنګوالي په لیدلو او تجربه کولو سره په پراخه پیمانه مفهوم ترلاسه کوي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

4. تر دې ځایه مو درې ډوله لارښوونو ته اشاره

وکړه چې د مقدس کتاب په وسیله سرته رسیږي. لاندیني آیتونه ولولئ او هغه له خپل درست ځای سره وصل کړئ.

۱) هغه مستقیم فرمان چې یوکس یا یوې ډلې ته ورکول کیږي.

۲) د رفتار او کردار په اړه اصل.

۳) د یوکس په ژوند کښې د موجوده اصل او قاعدې یوه نمونه.

أ. یوشع ۶: ۴

ب. متي ۵: ۴۴

ج. متي ۱۹: ۲۱

د. اعمال ۷: ۵۴-۶۰

## خدای د نورو په وسیله خبرې کوي

خدای مونږ ته د خپلې ارادې په ښرګندولو کښې د نورو څخه هم استفاده کوي. هغه ددې کار په سرته رسولو کښې د مسیحیانو او غیر مسیحیانو دواړو څخه ګټه اخلي.

مونږ د داسې جوړښت او د ژوندون د اړیکو د چاپیریال دننه کارکوو چې د قدرت په پایه ولاړ دی. صحیح مثال یې هغه څه دی چې په خپل دولت، کورنۍ او حتی په خپلې کلیسا کښې یې ګورو. د دې جوړښتونو څخه هریو په خپلو معینو حدوددو کښې د لارښوونې مسولیت په غاړه لري. مقدس کتاب دا د هغو وسائلو په توګه پیژني چې خدای د هغو په وسیله زمونږ سره خبرې کوي. د مثال په ډول، مور او پلار خپلو اولادونو ته لارښوونه کوي او دخدای کلام وایی چې دخدای اراده په دې کښې ده چې اولادونه دې د خپلو میندو او پلرونو اطاعت وکړي. "ای بچو! ایماندارانو ته پکار دي چې دخپل مور او پلار حکم مني ځکه چې دا ښه کار دی" (افسسیان ٦: ١).

د یو ملت حاکمان دا حق لري چې خپل رعیت ته لارښوونه وکړي او د خدای کلام وایي چې دخدای اراده هم همدا ده چې د حاکمانو تابعداري دې وشي (رومیان ١٣: ١).

د دې قسم اړیکو څخه بغیر مونږ د خلکو سره او په خاصه توګه هغه شخصیتونو سره چې خدای غوره کړي او مونږ ژوندون ته یې راوړاندې کړي دي، بل ډول اړیکې لرو. دغه شخصیتونه هوښیاران دي ځکه د مودو راهیسې د خدای په لاره تګ کوي. د هغوی لارښوونې او نصیحتونه اکثراً د اهمیت وړ وي ځکه هغوی د خدای د لارو سره آشنادي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. په خپل مقدس کتاب کښې د خروج کتاب

۱۸: ۱۳- ۲٦ ولولئ. **بیا خپل د یادداشت په کتابچه کښې لاندنیو سوالونو ته ځوابونه ولیکئ.**

أ. **د موسی ستونزه څه وه؟** (۱۳- ۱۷ آیتونه ولولئ)

ب. **یترون موسی ته څه نصحیت وکړ؟** (۱۸- ۲۳ آیتونه ولولئ)

ج. **نتیجه څه وه؟** (۲٤- ۲٦ آیتونه ولولئ).

په همدې ډول داود پادشاه هم د اسرائیلو د قوم په سرشمیرنې سره ګناه وکړه سره د دې چې یوآب ورته نصیحت کړی ؤ (دوهم سموئیل ۲٤: ۳- ٤ او ۱۰). یترون او یوآب په داود او موسی کوم قدرت او حاکمیت نه درلوده. موسی پخپله رهبر ؤ او داود پخپله پادشاه ؤ. مګر د یترون او یوآب په مشورو او نصیحتونو کې ډیر زیات ارزښت او ګټه نغښتې وه.

ممکن خدای ستاسو د مکتب د امتحان د سوالونو څخه مرسته واخلي ترڅو هغه ډالۍ او استعدادونه چې په خاصه توګه یې تاسو ته درکړیدي، معلوم کړي. خدای کولای شي چې د هغو ښوونکو د لارې تاسو سره خبرې وکړي چې اکثره ځانګړي استعدادونه پیژني.

اوس نو هغه نصحیت چې راکول کیږي، او زمونږ د نظر سره موافق نه وي نو څه پیښنه به منځ ته راشي؟ (زیاتره

همداسې پېښېږي) ځینې نصیحتونه باید د پامه وغورځول شي ځکه چې د خدای د کلام د کړنلارې او لاردودونو سره مخالف وي. ځینې وخت ضروري ده چې نصیحت کوونکی پخپله د څېړنی لاندی ونیول شي، چې معلومه شي زمونږ په اړوند د هغه مقصد او هدف څه دی؟

خو سره د دې چې دا طریقې د خدای د آواز د پیژندلو او معلوملو لپاره استعمالیږي، خو دا هم په یاد ولرئ چې خدای کولای شي په ښکاره توګه خبرې وکړي، او په ښکاره توګه به خبرې وکړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

6. زمری ډیر د زړه د اخلاصه کار کوي. مګر دا احساسوي چې د هغه د کار بدله او حق الزحمه پوره نه ورکول کیږي. پدې اړوند هغه د خپلو دوستانو سره مشوره کوي او دحل لاره لټوي. افسسیان ٦: ٥- ٨ ولولئ او دا معلومه کړئ چې په لاندینیو نصیحتونو کښې کوم یو د خدای د کلام مخالف دی.

أ. باتور دا نظر ورکوي چې د تنخواه د کمی له امله، کله چې کارخانه دار نه وي نو کار دې پرېږدي او وختي کور ته لاړ شي.

ب. نادر هغه ته وايي چې د کارخانې د خاوند سره دې خبرې وکړي او خپل مشکل دې ورته وړاندې کړي.

ج. اجمل ورته دا مشوره ورکوي چې ترڅو ورته پوره حقوق نه وي ورکړل شوي، دا دومره سخت کار دې نه کوي.

## خدای دتیرو شوو تجربو له لارې خبرې کوي

هغه تجربې چې په تیروختو کښې د خدای د نقشې او لارښوونې د تابعدارۍ په اړوند لرئ، کیدای شي تاسو ته یو ښه لارښود وي او دا قدرت دروبخښي چې د خدای آواز د هغو چینلوتو څخه په واضیحه توګه واورئ کوم چې هغه یې انتخابوي. که چیرې خپل تیروخت ته نظر وکړئ نوخامخا په دې پوه شئ چې خدای همیشه تاسو سره وفادار پاتې شویدی او تاسو سره یې خبرې کړیدي. هر ځلې چې د هغه آواز او یا لارښوونې معلوموئ نو ستاسو قدرت او انرژي پدې اړوند لاپسې زیاتیږي.

لکه څنګه چې خدای د مقدس کتاب د اتلانو په ژوندون کښې د خاصو اصولو او قواعد وسره سم کار کړیدی، همداسې ستاسو په ژوندون کښې هم د هماغو اصولو پربنیاد کار کوي.

احتمال لري چې تاسو به د خدای کار ته په خپل ژوند کښې د یوې داسې سلسلې په سترګه وګورئ چې پیښې یې یو تربله تړاو نلري. بیا وروسته پدې سلسله کښې وکړای شئ چې یو مثالي نمونه وګورئ. په اخر کښې د هغو تجربو څخه چې د خدای د تابعدارۍ له امله درسره شته، په یوڅه اصولو او قواعدو پسې تګ کوئ چې د هغو په وسیله خدای کارکوي. لاندینی ځلانده مثال دا موضوع په ښه توګه ستاسو په ذهن کښې کښینوي.

کله چې جیم ((جیم)) دالهي علومو د پوهنتون څخه فارغ شو، دوه کلیسا ګانو هغه ته بلنه ورکړه چې د هغوی د کلیسا پالنه په خپله غاړه واخلي. هغه دعا وکړه او د خدای کلام یې مطالعه کړ او دلویو روحاني لارښوونکو څخه یې پدې اړه مشوره وغوښته. خو هیڅ یوه روښانه او څرګنده نتیجه ورته ترلاسه نه شوه. د خدای په کلام کښې یې د دې دواړو کلیساوو څخه د یوه په انتخابولو کې کوم مخالفت نه لیده. د پوهنتون استاذانو ورته دا نظر ورکړ چې لومړنۍ کلیسا دې غوره کړي او هلته دې دپالونکي (شپون) په صفت کار وکړي. او یو روحاني لارښود ورته وویل چې د دوهمې کلیسا د پاللو دنده په غاړه واخلي.

بالاخره داسې یو وخت راغی چې نور یې انتظار نشو کولای او باید دهغو دوو کلیساګانو څخه یوه غوره کړي. هغه زړه نازړه خپل تصمیم ونیوه او یوه کلیسا یې غوره کړه. دا موضوع یې کلیساګانو ته د خبرتیا په ډول ورسوله. اوس هغه د یو تعهد لاندې راغلی ؤ او هغه پدې

اړوند ټول هغه څه سرته رسولي ؤو چې ورباندې پوهیده.

حیرانونکې موضوع داده چې د تصمیم نیولو څخه وېره یې پداسې یو ژور اطمینان بدله شوه چې د هغه د تعهد څخه منځ ته راغلې وه او هغه پدې هم ډاډه شو چې د خدای د ارادې لاندې ځای لري.

آیا د جیم سره بخت ملګری ؤ چې داسې یو پرځای تصمیم یې ونیوه؟ نه! د هغه تصمیم نیول د بخت او قسمت خبره نه وه بلکه د هغه تصمیم نیونه د خدای د لارښوونې نتیجه وه. جیم د هغې مودې په اوږدو کښې چې د نیکو خلکو د عقیدې او نظر پسې ګرځیده، په ریښتونولۍ سره یې دا هڅه کوله ترڅو د خدای د ارادې تابعداري وکړي. هغه د روح القدس د لارښوونې په لټه کې ؤ او د هغه سره سم یې حرکت کاوه.د جیم ذهن او فکر بدل او نوی شوی ؤ، هغه نوی ژوندون ترلاسه کړی ؤ (رومیان ۱۲: ۱- ۲). د هغه تصمیم په عملي توګه د روح القدس د لارښوونې سره سم ونیول شو، بغیر د دې نه چې پخپله جیم دې د دې کار په اړوند کوم خبرداری ولري.

څو کاله وروسته، د جیم څخه وغوښتل شو چې یو بل مهم تصمیم ونیسي. بیا هغه د خدای د ارادې په لټون پسې دعا وکړه، او د نورو لویانو او روحاني مشرانو د نظر غوښتونکی شو، او پدې وخت کښې یې هم مختلف امکانات ولټول. بیا داسې وخت راورسیده چې نور نو د دې څخه زیات انتظار یې نشو کولای، او تصمیم نیولو ته مجبور ؤ. جیم خپل تصمیم ونیوه او بیا یې هم لکه څنګه چې د خدای تابعداري یې کوله د

خپلې ویرې ځای یې له ژور اطمینان سره بدل کړ. جیم دې نتیجې ته ورسیده چې دخدای د ارادې په فرمانبرداری کښې د تل لپاره یو اصل په سترګو کیږي. هغه وخت چې جیم د خدای د ارادې په لټون کښې ریښتونولي او صداقت وښوده، خدای هم هغه ته په تصمیم نیولو کښې لارښوونه وکړه. دغه اصل په جیم کښې د ژور اطمینان بنسټ او پایه شوه. د جیم لپاره د هغه اصل او قاعدې لټون او استعمالول چې په زبور ۳۷: ۲۳ کښې بیانیږي د هغه په ژوند کښې په یو ژوندي حقیقت بدل شوی دی او عمل کوي چې دغه قاعده او اصل داسې بیانیږي: "خدای د انسان قدمونه قوي او په خپلو لارو کښې ورته خوشالي ورکوي او هغه کسان چې ورباندې راضي وي د هغوی ساتنه کوي". جیم وکولای شول چې پدې اصل او قاعدې تکیه ولري، دا داسې یو آواز نه ؤ چې هغه دې وکړای شي هغه معلوم کړي. مګر خدای په دغه شکل ورسره خبرې وکړې.

خدای په عملي توګه په بېلابېلو طریقو سره خبرې کولې. په مجموع کښې د جیم تصمیم خدای ته یو عملي ځواب ؤ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. ومو لیدل چې خدای څرنګه هغه کس ته لارښوونه کوي چې د خدای د ارادې په لټون کې وي. خدای تاسوته ستاسو په ژوند کښې څرنګه هدایتونه درکړیدي؟ پدې موضوع یوه شیبه فکر وکړئ او

بیا خپل د یاداشت په کتابچه کښې لاندیني پوښتنو ته ځوابونه ولیکئ.

أ. خدای څرنګه تاسو د خپل خلاصون لور ته رهبري کړئ؟

ب. خدای ستاسو د لارښوونی لپاره د کومو کسانو څخه استفاده وکړه؟

ج. د خدای د کلام کوم پیغام تاسو ته په ځانګړې توګه لارښوونه وکړه؟

د. خدای له کومو شرایطو څخه کار واخیست ترڅو تاسو ته شکل درکړي؟

ه. آیا د خپل ژوند په لارښوونو کښې مو کومه مثالي نمونه او یا کوم اصل لیدلی دی؟ هغه بیان کړئ.

## ممکن خدای په مستقیمه توګه خبرې وکړي

خدای د مقدس کتاب، نورو خلکو او تیرو تجربو څخه د استفادې تر څنګ ځینی وخت په خپله له یو چا سره په مستقیمه توګه هم خبرې کوي. خدای دا طریقه په کومو وختونو کې کاروی؟ که چیرې مونږ خپل ضمیر د خدای د آواز د استاځي په صفت قبول کړو پدې صورت کښې خدای زیاتره وخت زمونږ سره په مستقیمه توګه خبرې کوي. که چیرې په دې اړه زمونږ تاکید واضیحه او روښانه الفاظ وي نو خدای زمونږ د لارښوونې لپاره د مقدس کتاب څخه کار اخلي. خو په هر حال، خدای خبرې کوي او دا خبره هیره نکړئ چې د هغه پیغام به هیڅکله د هغه څه سره چې په خپل کلام کښې ویلي دي ټکر ونکړي او نه به هم ورسره تضاد ولري.

کله چې یو آواز اورئ، نو څرنګه پوهیږئ دا د خدای آواز دی؟ د خدای کلام په دې اړه دوه حالتونه بیانوي چې یوبل ته برابروالی او تعادل وربخښي. او لنی حالت ذهني حالت دی. لکه څنګه چې پسونه د شپون آواز پیژني (یوحنا ۱۰: ۱۴- ۱۵).

کله چې تاسو د خدای اراده غوښتې ده او خپل ذهن مو دهغه د کلام څخه ډک کړیدی او د روح القدس فرمانبرداري موکړې ده، نو کولای شئ پدې پوه شئ چې همدا خدای دی چې خبرې کوي. دوهم حال لومړي حالت ته قوت ورکوي. د خدای اراده تل د هغه د لیکل شوي کلام سره سمون خوري (اشعیا ۸: ۱۰).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

8. د رسولانو د اعمالو د کتاب ۱۰: ۹- ۳۳ ولولئ. وروسته بيا د خپل د يادداشت په کتابچه کښې لاندېنو سوالونو ته ځواب ووایاست.
   أ. هغه دوه طريقې چې خدای د هغو له لارې په مستقيمه توګه د پطرس سره خبرې وکړې، کومې دي؟ (۹- ۱٦ او ۱۹- ۲۰ آيتونه).
   ب. د خدای پيغام څرنګه تائيديږی؟ (۱٤، ۱۷- ۱۸ او ۲۲ آيتونه).
   ج. د پطرس ځواب او غبرګون څه ؤ؟ (۲۱- ۲۳ او ۲۸ آيتونه).

## ولې ځينې کسان دخدای آواز نه اوري

معمولاً پدې اړوند چې ولې ځيني خلک د خدای په آواز او لارښوونه نه پوهيږي، دوه عمده دليلونه وجود لري. اول دا چه هغه طريقه چې خدای د هغې په وسيله خبرې کوي نشي کولای چې قبوله کړي. دوهم دا چه تر اوسه پورې هغه څه چې خدای هغو ته ويلي دي، ورڅخه فرمانبرداري يې نه ده کړې.

**دخدای د طريقې ردول**

لومړی، ځينې خلک د مخکې څخه پخپله دا اټکلوي چې خدای باید څنګه اوپه کومه طريقه خبرې وکړي، او کله چې خدای بله طريقه وټاکي نوبيا دا خلک د هغې طريقې لپاره تياری نلري. ځينې وخت هغوی د خدای آواز په قطعي ډول د لاسه ورکوي، او ځينې وخت هم د خدای پيغام د هغې واسطې چې ورڅخه کار اخيستل شوی دی (د هغې د ظهور څرنګوالی) ردوي.

د عبرانيانو په نوم ليک ۱: ۱- ۳ کښې لولو چې خدای هغه طريقه بدله کړيده چې مخکې به يې ورباندې د انسان سره خبرې کولې. د مسيح د راتګ څخه مخکې خدای زمونږ پلرونو او نيکونو سره د پيغمبرانو په وسيله خبرې کولې او د مسيح د راتګ څخه پس خدای دا لازم وګڼل چې د خپل زوی د لارې د خلکو سره خبرې وکړي او دغې طريقې ته د مخکينۍ طريقې پرځای، ځای ورکړي. مقدس کتاب وايي: "په تيره زمانه کښې خدای زمونږ د پلرونو او نيکونو سره ډير ځله په مختلفو طريقو سره دنبيانو په معرفت خبری وکړلی، خو پدې آخره زمانه کښې يې مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړ چې هغه يې د ټولو څيزونو وارث وګرځاوه او دهغه په وسيله يې هم ټول کاينات پيدا کړل. چې هغه دخدای د جلال مظهر او دهغه د ذات عکس دی او ټول څيزونه د خپل قدرت په کلام سمبالوي. هغه ګناهونه پاک کړل او په آسمان کښې د قادر

مطلق خدای سره په ښي لاس کښيناست" (عبرانيان ۱: ۱- ۳).
دا پيغام چې ((خدای څوک دی ؟)) په پوره ډول په مسيح کښې
ورکړی شو. مګر د هغه ځايه چې يوې ډلې د پيغام واسطه
(عيسی مسيح) ونه منله، نو د خدای پيغام يې له لاسه ورکړ او
ددې نعمت څخه محروم شول.

نعمان يولوی عسکري صاحب منصب ؤ او هر کار ته
به يې چې لاس وروړه نا ممکنه وه چې پکې پاتې راشي
(دوهم بادشاهان پنځم فصل ته مراجعه وکړئ) خو سره د
دې هم په خپل ژوند کښې د داسې يو مرض سره مخامخ ؤ
چې هغه ته يې ناارامي منځ ته راوړې وه. هغه د جذام
ناروغي درلوده چې د پوستکي يو ډول خطرناکه ناروغي
ده. خدای د هغه سره د خبرو په خاطر د مختلفو طريقو
څخه ګټه واخيسته او بالاخره هغه ته يې لارښوونه وکړه
چې د اليشع نبي لورته لاړ شي. نعمان دا طمع لرله چې
اليشع به پخپله د هغه سره خبرې وکړې، خو د دې پر ځای
د اليشع يو خادم د هغه پيغام ورته راوړ (۹- ۱۲ آيتونه
وګورئ). بې له کوم ترديد څخه نعمان د دې پيغام په
قبلولو کښې تر يو څه حده له ځانه سره مشکل درلود.
ځکه چې پيغام راوړونکی يې نه ؤ خوښ شوی. مګر کله
يې چې د پيغام فرمانبرداري وکړه نو په مطلق ډول د هغه
ناروغي جوړه شوه او هغه روغ رمټ شو (۱۳- ۱٤ آيتونه
ولولئ). ځينې وخت خدای ممکن مونږ سره په داسې طريقو
خبرې وکړې چې مونږ ته عجيبه او نا اشنا وبريښي. هغه پدې

دلیل چې خدای دی، دا امتیاز یې د ځان له پاره محفوظ ساتلی دی. د خدای پیغام د هغو چینلونو له امله د لاسه مه ورکوئ چې خدای ورڅخه استفاده کوي.

## نافرماني

دوهم، ځینې خلک دخدای اواز او لارښوونې د نافرمانۍ له امله د لاسه ورکوي. مخکې مو د دوهم لوست په ترڅ کښې د خدای د آواز د اوریدلو په اړوند د فرمانبردارۍ په اهمیت خبرې وکړې. خو زه دغه موضوع د هغه ارزښت او همیت په خاطر په دې لوست کې یو وار بیا تکراروم. ډیر هغه څه چې خدای یې فرمایی یو پرمختلی حالت لري، یعنې مرحله په مرحله مونږ ته ښکاره کیږي. خدای خپل ټول پلان په یو ځل مونږ ته نه څرګندوي.

جدعون د لښکر په تیارولو کښې بوخت ؤ ترڅو د اسرائیلو قوم آزاد کړي. هغه د دې کار دسرته رسولو طریقه د خدای څخه لاس ته راوړې وه. که چیرې جدعون د دې کار په یوه پړاو کښې هم د خدای نافرماني کړې وای، نو نه یې شو کولای چې د خدای څخه دا طمع ولري چې هغه خپلو لارښوونو ته دوام ورکړي، او خپله د کار نقشه معلومه کړي. مګر څرنګه به چې جدعون د کار په یو پړاو کښې د خدای تابعداري کوله نو وروستی پړاو به ورته په پوره ډول په ښکاره الفاظو ویل کیده. بالاخره جدعون په خپلو ۳۰۰ تنو جنګیالیو سره و کولای شول چې د مدیانیانو په زرګونو تنو جنګیالیو ته ماتې ورکړي

(قاضیان ۷: ۱- ۲۵).

د جدعون د تجربې څخه دغه عبرت اخیستی شو: که چیرې د خدای د آواز او لارښوونو په اوریدو کښې د ستونزو سره مخامخ کیږئ، نو د خدای د کلام پلټنه وکړئ ترڅو په دې پوه شئ چې ترکومه حده مو د هغه څه په سرته رسولو کښې سستي کړېده، څه چې خدای تر اوسني وخت پورې تاسو ته ویلي دي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

9. په لاندیني متن کې د ځینو کسانو په اړه خبرې کیږي چې دخدای لارښوونه یې له لاسه ورکړیده. د هغوی هر یو د هغه صحیح دلیل سره ونښلوئ چې د دې عمل باعث ګرځیدلی دی.

۱) د کړنلارې او طریقې ردول

۲) نافرماني

أ. توریالی په دې پوهیږي چې خدای ورڅخه د هغه کس د بخښنې طمع لري چا چې د هغه په حق کښې غلطي کړېده او بد یې ورسره کړیدي. خو هغه دا کار ندی کړی. اوس هغه ګوري چې ډیرې هغه دعاوې یې چې د

هدایت پر بنسټ ولاړې وې بې ځوابه پاتې کیږي.

ب. بریالی د خدای هدایت غواړي او مور او پلار یې هم د هغه څه په اړوند کوښښ کوي چې بریالی یې باید سرته ورسوي او ورته دعا کوي. هغوی بریالي ته دا نصیحت کوي چې یو کال نورهم کار وکړي او د خپل تعلیم لپاره پیسې ټولې کړي. خو بریالی دا نصیحت نه مني او هغوی ته هیڅ موقعه نه ورکوي. هغه دا طمع نلري چې خدای به د هغوی له لارې ورسره خبرې وکړي.

ج. بلقیسه دا خوښ ګڼي چې پوه شي، ترڅو خدای د وروستي پړاو په توګه د هغې څخه د کوم کار کول غواړي. هغه پدې پوهیږي چې خدای په اوسني حالت کښې ورڅخه غواړي چې د مقدس کتاب د زده کړې په صنف کښې مرسته وکړي. مګر هغې تر اوسه پورې دا کار ندی کړی.

## خدای هرومرو خبرې کوي

ځوک چې د خدای د ارادې د سرته رسولو لپاره لیواله وي، هغه ته لازمه نده چې پدې موضوع کښې چې امکان لري د خدای د آواز په اوریدلو کښې کمزوری وي، یوې کوچنۍ اندازه شک ته هم خپل ځان کښې لار ورکړي. د اړیکو د ټینګولو قدرت په مونږ پوري تړاو نه لري، بلکه په خدای پوری مربوط دی.

خدای هرومرو خبرې کوي. هغه به تاسو سره هم خبرې وکړي. تاسو پدې خبرې باور ولرئ او هغه به په خپله داسې یو کار وکړي چې د هغه آواز واورئ. د مقدس کتاب زیات شمیر نمونې د هغو کسانو په اړوند بیان کړیدي چې خدای د هغوی سره خبرې کړیدي، او هغوی هم د خدای آواز اوریدلی دی. حتی په داسې حالاتو کښې یې هم ورسره خبرې کړې چې دغه خلکو پکښې د هغه د آواز اوریدو سره علاقه هم نلرله. (د مثال په ډول د یونس قصه دیونس په کتاب ۱، ۳ کښې او د ساؤل قصه درسولانو د اعمالو په ۹: ۱- ٦ کښې). خدای په رښتیا د هغه چاسره خبرې کوي چې د هغه آواز ته غوږ نیسي.

### هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

10. د مقدس کتاب څخه لاندې متنونه ولولئ. او خپل د یاداشت په کتابچه کښې د هغه هر یو سوال ته ځواب

**وليکئ.**

أ. زبور ۱۹: ۷- ۱۱. **خدای کوم شريعت او يا کلام مونږ ته راکوي؟**(۱۱ آيت)

ب. زبور ۲۳: ۱- ۳ . **خدای کوم شي ته مونږ هدايت کوي؟** (۳ آيت)

ج. زبور ۲۵: ۸- ۱۰. **خدای ولې مونږ ته تعليم راکوي؟** (۸ آيت)

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

6. هغه باید: الف) د باتور نظر، او

ج ) د اجمل پیشنهاد رد کړي.

آیا کولای شئ چې علت یې واضح کړئ؟

1. هغه تجهیزوي ترڅو په پرله پسې توګه ښه کارونه وکړي. (یادې ته ورته ځواب).

7. ستاسو خپل ځواب. هیله لرم چې ستاسو ځواب دې د لارښوونو په پیژندلو او پوهیدلو سره ستاسو په ژوند کښې ګټور ثابت شي.

2. ستاسو خپل ځواب. تاسو کولای شئ چې د مانوئل تجربه او یا یوه دې ته ورته بله تجربه چې تاسو او یا ستاسو ملګرو ته پیښه شوې وي تشریح کړئ.

8. ا. دیوې رویا (۱۰- ۱٦ آیتونه) او یو آواز (۱۳، ۱۵ او ۱۹ ایتونه) له لارې.

ب. پطرس د خدای آواز وپیژند (۱٤ آیت) او حالاتو، دغه مطلب تائید کړ (۱۷، ۱۸ او ۲۲ آیتونه).

ج. هغه د خدای د آواز تابعداري وکړه (۲۳ آیت) او هغه کسان یې

ومنل چې خدای د هغو د منلو
امر ورباندې کړی ؤ (۲۸ آیت).

(ستاسو ځواب باید پورتني ځواب ته ورته
وي. دغه پیښه دې لپاره چې خدای په
مستقیمه توګه خبرې کولی شي یو ښه
مثال دی).

3. ب. متي ۵: ۱۱

9. ا. ۲) نافرماني

ب. ۱) د کړنلارې او طریقې ردول

ج. ۲) نافرماني

4. ا. ۱) هغه مستقیم فرمان چې
یوکس یا یوې ډلې ته
ورکول کیږي.

ب. ۲) د رفتار او کردار په اړه
اصل.

ج. ۱) هغه مستقیم فرمان چې
یوکس یا یوې ډلې ته ورکول
کیږي.

د. ۳) د یوکس په ژوند کښې د
موجوده اصل او قاعدې
یوه نمونه.

10. ا. پيژندنه او خبرداری

ب. هغه مونږ ته د خپل نوم په خاطر، او یا د خپلې وعدې ترسره کولو په خاطر هدایت راکوي.

ج. هغه مونږ ته تعلیم راکوي ځکه چې نیک او عادل دی. (یا دې ته ورته ستاسو خپل ځواب).

5. ا. هغه په یواځنۍ توګه د خلکو په منځ کښې فیصلې کولې او دا کار دومره زیات ؤ چې په یوازې توګه د هغو له عهدې څخه وتلای نشو.

ب. يترون هغه ته مشوره ورکړه چې نیک او لایق کسان پدې کار وګماري.

ج. نیک او لائق کسان پدې کار وګمارل شول او ستونزه حل شوه. اوس موسی پدې قادر شو چې د اسرائیلو قوم ته په صحیح توګه لارښوونه وکړي. (ستاسو ځواب باید دې ځواب ته ورته وي).

اوم لوست

# آیا عیسی په الهي نقشې پوهیده؟

**... هغه د خدای زوی ؤ.**

د ترکاڼۍ د دوکان د دروازې په سر دغه لیکنه په سترګو کیده «د کار لپاره خلاص دی». دغه دوکان د یو پلار او زوی په ملکیت کښې ؤ. پلار به یې کارونه راټولول او زوی یې د شاګردۍ دنده په غاړه درلوده. دغه پلار او زوی په ریښتونولۍ مشهور ؤو. ځکه چې ډیر کوښښ به یې کاوه چې په پوره توګه د هغې نقشې په مطابق کار وکړي چې به د سامان اخیستونکو ورته غوره کوله.

زوی، چې د شاګردۍ دنده يې درلودله په رښتيا د ښه استعداد خاوند ؤ او دا به يې ښکاره کوله چې پدې کار کښې ډير ماهر دی.

يوازې هغه کار چې زوی يې تر محدوديت لاندی راوستی ؤ د هغه ځلميتوب او ځواني وه. هرکار ته به يې چې لاس ورووړه په ډيره عالي توګه به يې هغه جوړ کړ. خو بيا هم د هغه له پاره لا ډيرشيان د زده کړې څخه پاتی ؤو. هغه څه چې دا شاګرد يې دومره با صلاحيته کاوه، هغه قدرت او انرژي وه چې ده به په خپل کار کښې استعمالوله. کله به چې نور خلک د ګناه لو رته راښکل کيده نو داسې به ښکاريده چې د نجار زوی خپل ځان د نيکو اوسمو کارونو کولو ته وقف کړيدی.

کله چې عيسی جسم شو او انسان شو، د ژوندون ټولو طبيعي محدوديتونو ته يې غاړه کيښوده. په کوچنيوالي کښې يې ژوند د خطر سره مخ شو او مور او پلار يې مجبوره شول چې د هغه د حفاظت لپاره د خپل وطن څخه تيښته وکړي. سره د دې چې (عيسی) د خدای هميشونی زوی ؤ خو بيا هم هيروديس کولای شو چې هغه ووژني. مسيح د زوی خدای په صفت په ډاډ منده توګه د ابديت د نقشې څخه خبر ؤ. خو په جسم کيدلو سره دې ته اړ شو چې په انساني تجربو کښې د دعا له لارې د خدای سره د اړيکو په پيدا کولو کښې شريک شي او برخه واخلي.

د عيسی مسيح د ژوند د مطالعې په دوران کښې به دير زيات شيان دالهي نقشې په باره کښې وپيژنو او پدې

به هم پوه شو چه د خدای د نقشې ښکاره کیدل او د هغې تابعداري څه معنی لري.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ مسیح په محدودیتونو کښې ډیر شیان زده کړل
- ❖ مسیح د ودې په دوره کښې زده کړل
- ❖ مسیح په دعا کښې زده کړل
- ❖ مسیح د خپلو تجربو څخه زده کړل

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو. .

- ❑ دا خبره تشریح کړئ چې مسیح څرنګه دالهي نقشې څخه خبر شو، او څرنګه یې د هغې تابعداري وکړه.
- ❑ هغه لارې چارې بیان کړئ چې په هغې کښې د مسیح د نمونو څخه پیروي وکړئ.

## مسیح په محدودیتونو کښې ډیر شیان زده کړل

مسیح د بندیزونو سره آشنا شو. خدای خپل خلقت په همدې جسم پورې چې پیدا کړی یې ؤ، محدود کړ! (یوحنا ۱: ۳). هغه په داوطلبانه توګه د خپل د زړه په خوښه، خپل علم، پوهه، حضور او الهي قدرت محدود کړ، هغه خپل ځان ته اجازه

ورکړه چې د تجربې له لارې یوڅه زده کړي.

هغه د مور او پلار خبرو ته په غاړه ایښودو سره د کوچنیوالي د دورې کمزوتیاوې او محدودیتونه وپېژندل. د عیسی مسیح د کوچنیوالي دوره یوه عادي دوره وه، او داسې بل دلیل نشته چې د دې نه بغیر بل فکر وکړو. بې له شکه مسیح د ځوانۍ د وخت څخه د شاګردۍ او شاګردانو سره اشنا ؤ. څومره چې لویدلو په هماغه اندازه په مرحله واړ ډول محدودیتونه یې کمیدل. عیسی مسیح سره د دې چې د پلار خدای سره مساوي رتبه درلودله، پخپل ځان دا ومنله چې په محدودیتونو کښې شامل شي (فلیبیان ۲: ۶- ۸).

عیسی پدې پسې نه ګرځیده چې خپل خواهش عملي کړي، بلکه هغه به هغه کار کاوه چې خدای ورڅخه غوښته (یوحنا ۵: ۱۹ او ۳۰).

هغه د تجربې په ډول پدې پوه شو چې انسان د مختلفو حقیقي فشارونو لاندې واقع دی او د کمزورتیاوو ښکار دی. طبیعي خواهشونه (چې په ګناه ککړ نه وي) ممکن د داسې یو څه غوښتونکي وي چې د پلار خدای د ارادې سره برابر نه وي.

عیسی مسیح د بیابان د تجربې په ترڅ کښې د بشري ژوندون د کمزورۍ جوهر هم تجربه کړ او مونږ پدې هم خبر یو چې مسیح د سختې لوږې سره سره هم دا عزم ونه کړ چې د کاڼو څخه ډوډۍ جوړه کړي (لوقا ٤: ١- ٤ ). څه عجیبه تجربه وه د ژوندون د خالق لپاره چې پکښې یې برخه واخیسته!

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

1. مسیح خپل د زړه په خوښه دې ته را ودانګل چې خپل ځان تر محدودیتونو لاندې ښکلیل کړي ترڅو وکړای شي د ........................ په تجربه کښې برخه واخلي.

أ. ګناه

ب. ناتوانۍ

ج. بشري صفتونو

## مسیح د ودې په دوره کښې زده کړل

عیسی مسیح په علم او پوهه کښې غټ شو او خدای ورڅخه په پوره توګه راضي ؤ. دا موضوع په روښانه توګه په مقدس کتاب کښې موندل کیږي، ځکه چې پدې ټینګار کوي چې عیسی مسیح د کوچنیوالي په دوره کښې هم هوښیار او د حکمت څخه ډک ؤ. په همدې حال ترڅو يې چې خپل روحاني خدمت په جلیل کښې نه ؤ پیل کړی نویوه معجزه يې هم ښکاره نه کړه (یوحنا ۲: ۱۱).

کله چې عیسی دولس کلن شو نو مور او پلار يې هغه د فسح د اختر د لمانځلو لپاره عبادتخانې ته بوتلو (لوقا ۲: ۴۱-۴۲). د یهودو په ټولنه کښې عیسی مسیح اوس داسې عمر ته

ورسیده چې د مذهبي مسئلو له مخې کیدای شي چې بالغ وګڼل شي. لاتر اوسه هم دا طمع کېده چې هغه دې د خپل مور او پلار تر څارنې او پالنې لاندې پاتې شي.

ښايي عیسی په دغه وخت کښې ګام په ګام خپل لویدل او غتهوالی دیو ډول ازمایښت او امتحان په څیر تجربه کاوه. دغه پوښتنه زیاتره وخت مطرح کیږي چې: د کوم وخت څخه باید یو تن خپله د ژوند تګلاره پخپله غوره کړي او خپل د تصمیم نیولو مسولیت پخپله غاړه واخلي؟

ضروري ده چې د مسیح په ژوند کښې یو قسم روحاني بیداري نغښتل شوې وه، او ښايي هغه د مسیح د دنیاوي تجربې څخه علاوه یو بل شی وي. مګر دا یو شی ډیر روښانه دی چې دې کار د هغه په ژوند کښې یو قسم تضاد منځ ته راوړی دی. هغه په دې پوه شو چې عبادت خانې ته راغلی دی ترڅو هلته پاتې شي او په همدې حال د خپل مور او پلار د څارنې او لارښوونې لاندې (لوقا ۲: ۲۳- ۵۱).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. لوقا ۲: ۴۱- ۵۱ ولولئ. په نوموړي وخت کښې عیسی پخپله د خپل کردار په وسیله دا وښودله چې:

   أ. هغه کولای شي چې خپل تصمیم پخپله ونیسی ځکه داسې څوک نه ؤ چې په هغه

دی قدرت ولري.

ب. سره د دې چې د خپل مور او پلار تر واک او اختیار لاندې محدود شوی ؤ خو بیا هم هغه کولای شول چې په کامله توګه د خدای خدمت وکړي.

ج. د مور او پلار د نصیحت او لارښوونو ته یې کومه اړتیا نه درلوده.

هغه موضوع چې ډېره په زړه پورې برېښي داده چې په لوقا ۲: ۴۰ کښې لولو چې عیسی د حکمت او هوښیارۍ څخه ډک ؤ او په لوقا ۲: ۵۲ کښې لولو چې هغه په هوښیارتیا او حکمت کښې لوی شو. د دې کار څخه یوه نتیجه لاس ته راوړو چې حتی حکمت د یوې تحفې او ورکړې په مقام کښې په پوره ډول دیو کس د بلوغ پر سطحې پورې تړلې دی. هغه حکمت او هوښیارتیا چې عیسی مسیح ورڅخه د یوماشوم په صفت ډک ؤ، پکار وه چې په یو قدم کښې د ذهني ودې او حتی د روحاني ودې سره هم یوځای د بلوغیت او کمال حد ته ورسیږي.

بی له کوم شک څخه عیسی په هغه وخت کښې هم د خدای د ارادي او طرحې په اړوند چې د هغه په اړه یې په پام کښې درلوده په ډېرو شیانو پوهیده. عیسی یوازې پدې چې د خپل زوی توب څخه خبر شو، په عبادت خانې کې یې هم خپل رېښتینی مقام ترلاسه کړ. مګر سره د دې هم هغه اراده چې خدای د مسیح لپاره په پام کښې نیولې وه، کلونه وخت یې ونیوه چې عیسی پکښې د مریم او یوسف د پالنې اوروزنې لاندې ؤ.

عیسی په دولس کلنۍ کښې د خدای د نقشې پوره تصویرونه لیدل، خو د هغه څه په مقابل کښې چې وربانډې پوهیده دیو دولس کلن هلک په څیر یې غبرګون ښکاره کړ. حقیقت دا ؤ چې نه خدای د مسیح ښوونه او روزنه پای ته رسولې وه او نه مسیح پخپله د خدمت لپاره تیاری درلوده.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

3. دلاندینیو هر يوې ځرګندونې مخې ته نښه وکړئ چې په لوقا ۲: ۳۹- ۵۲ کښې د عیسی مسیح دکوچینوالي په اړوند بيان شوی یوه نتیجه وګڼل شي.

أ. هغه څوک چې د خدای په اراده پوهیږي خو د لا زیاتې پوهې‌پلپاره اوس هم لوئیدو ته اړتیا لري.

ب. هغه څوک چې نشي کولای، په یو وخت کښې هم د خدای د ارادې فرمانبرداري وکړي او هم محدودیتونو ته غاړه کښېږدي.

ج. هغه حکمت او هوښیارتیا چې خدای يې د خپلې ارادې په اړوند د تحفې په شکل ورکوي، د یو کس له ودې او یا بلوغیت سره تړاو نلري.

### مسیح په دعا کښې زده کړل

مسیح نه یوازې د خپل غټ والي په دوره کښې زده کول بلکه په دعا کښې يې هم ډير شیان زده کول. دعا د هغه او

دپلار ترمنځ یوه ژوندی رابطه وه، لکه څنګه چې زموږ رابطه هم ده. سربیره پردې چې مقدس کتاب د عیسی مسیح د ځوانۍ په دوره کښې (تر دیرش کلنۍ پورې) د هغه د دعا په اړه خبرې نه کوي خو د هغه د خدمت د درې کلنې دورې په اوږدو کښې دا موندلی شو چې د دعا عادت کلونه د مخه په مسیح کښې پوخوالي ته رسیدلی ؤ.

عیسی مسیح په دعا کښې د الهي نقشې په اړه څه زده کړل؟

**انضباط او دسپلین**

عیسی مسیح د دعا دسپلین ته د درناوي سر ښکته کړ. دعا دومره آسانه تمرین ندی. ډیر په ندرت سره بدن دې ته میلان پیدا کوي چې دعا وکړي. په حقیقت کښې هغه روحاني بریالیتوبونه چې په روح القدس کښې د سرخندنو له لارې حاصلیږي، اکثره زموږ په جسم د عذاب تیرولو په قیمت دی. زموږ جسم زیاتره دې ته میلان کوي چې خپل ځان په دغه اخ و ډب کښې ښکیل نه کړي.

دغه اصل په ځلانده توګه د ((جتسیمانی)) په باغ کښی د مسیح د دعا د تجربې څخه را څرګندیږي. موږ عیسی په دې باغ کښې دتسلیمۍ څخه ډک جریان په ګرداب کښې ښکیل ګورو. داسې تسلیمي چې د خدای نه بدلیدونکې ارادې ته ؤ. هغه وویل: "زما پلاره! که کیدای شي نو دا پیاله راڅخه تیره

کړه خو داسې نه لکه چې زه یې غواړم، بلکه داسې لکه چې ستا رضا ده" (متي ۲۶: ۳۹).

د مسیح فریاد دیو حقیقي انسان فریاد ؤ چې د خدای لارې یې زده کولې. د دې اخ و ډب ترمنځ او په دعا کښې د سربښندنو او زیار له کبله د عیسی مسیح بدن داسې حالت ته ورسیده چې خولې یې لکه د ونیو د څاڅکو په څیر څکیدلې (لوقا ۲۲: ٤٤).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

4. متي ۲٦: ٤٠- ٤١ ولولئ. شاګردانو پدې دلیل دعا نه کوله ځکه چې ...
   أ. پدې ډاډه نه ؤو چې څرنګه دعا وکړي.
   ب. په هغه شیبه کښې یې دعا ته شوق نه کیده.
   ج. هغوی دا اجازه ورکړې وه چې د جسم میلانونه دې په هغوی حاکم وي.

د انسان بدن تل د فیزیکي آرامتیا په هڅه کې وي. جسماني میلانونه مونږ دعا او شفاعت ته نه راکاږي. مسیح دا حقیقت په ښه توګه زده کړی ؤ.

سره ددې چې داسې کامل انساني طبیعت یې درلوده چې هغه لعنت چې د آدم د ګناه په سبب پیدا شوی ؤ، ویې

نشوکړای په هغه کوم تاثیر وکړي.

**وابستګی**

مسیح په ښه توګه زده کړي ؤو چې څرنګه په دعا کښې په خپل پلار اعتماد او تکیه وکړي. د عیسی مسیح په خدمت کښې هره نوې لارښوونه د ډیرې دعا څخه پس حاصلیدله. عیسی مخکې لدې چې خپل ځانته دولس شاګردان انتخاب کړي، شپه یې په دعا کولو سره صبا کړه. مګر د هغه د دعا دغه الفاظ په مقدس کتاب کښې ندي لیکل شوي، خو په همدې حال بیا هم ګورو چې کله سحر شو نو په دغه ورځ د دعا څخه وروسته عیسی خپل شاګردان په پوره اطمینان خپل ځان ته راوبلل (لوقا ٦: ١٢- ١٦).

په مقدس کتاب کښې د عیسی مسیح هغه دعا چې د تکلیف او عذاب د دورې د پیل څخه مخکې یې کړې وه لیکل شویده (یوحنا ١٧ فصل). په دې دنیا کښې مونږ د عیسی مسیح د خپل پلار سره د شخصي اړیکو په پراختیا باندې پوهېدلای شو. د هغه دعا دومره ریښتینې او دومره خاصه وه چې انسان کولای شول د پلار خدای حضور هلته وګوري او هغه خپل ځان ته منعکس کړي. مسیح پدې دعا کښې د هغه امانت یادونه وکړه چې د هغوی په اړوند پلار خدای هغه ته ورسپارلې وه.

دعیسی مسیح دعا په پوره ډول د اعتماد څخه ډکه وه.

## موثرې اړیکې

مسیح په پوره توګه دا زده کړې وه چې دعا د خدای سره د اړیکو ټینګونو ډېره موثره طریقه ده. د هر شي لپاره چې به یې دعا کوله هغه به کیده. "د خلقو د بپتسمې په وخت چې عیسی له هم بپتسمه ورکړې شوې وه او دعایې کوله نو آسمان پرانیستی شو، او روح القدس د یوې کوترې په شکل په عیسی نازل شو او د آسمان څخه یو آواز راغی چې ته زما زوی یې، زما محبوب یې، زه ستا څخه رضا یم" (لوقا ۳: ۲۱- ۲۲).

عیسی خپل شاګردان د دعا د نه کولو په علت ملامته کول او سخت سرزنش به یې ورکاوه کله چې هغوی دا قدرت نه درلود چې هغه ځوان هلک د شریرو روحونو د پنجې څخه خلاص کړي کوم چې پر هغه حاکم ؤو (مرقس ۹: ۱۹ او ۲۸- ۲۹). بیا وروسته عیسی وفرمایل چې بریالیتوب د دعا په سبب حاصل شویدی. د عیسی مسیح قدرت د هغه په دعاګانو شاهدي ورکوي.

عیسی هغه وخت هم دعا کړی وه چې ایلعازر یې ژوندی کاوه (یوحنا ۱۱: ۳۸- ٤٤). هغه تل د دعا په ترڅ کښې د پلار خدای د قدرت او هدایت غوښونکی ؤ. هغه په پوره ډول دا زده کړې وه چې دعا د خدای سره د ارتباط موثره لاره ده.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

5. عیسی د دعا د لارې درې موضوعګانې

په ښه توګه زده کړي وي. د هغه څه په باره کښې هم فکر وکړئ چې تاسو د دعا د لارې زده کړيدي. خپلې د يادداشت په کتابچه کښې د هغو غلطيو او سستيو بيان هم وکړي چې په تجربو کښې در څخه شوې وي. او دا هم معلومه کړئ چې په لاندې برخو کښې کومې يوه ته د ډيرې زده کړې اړتيا لرئ.

أ. دسپلين او انضباط
ب. وابستګۍ
ج. موثرې اړيکې

## مسيح د خپلو تجربو څخه زده کړل

عيسى مسيح د تجربو د لارې ډير څه زده کړي ؤو. انسان چې کله يوشى تجربه کوي داسې يوه پوهه ورته په لاس ورځي چې په پوره ډول د هغې پوهې سره فرق لري کومه يې چې د زده کړې له لارې لاس ته راوړې وي او پخپله په قطعي ډول د هغې څخه جلا پاتې شوى وي.

دخداى پاکوالي او قدوسيت د همدې فرق او جدايۍ په وسيله معلوميږي. عيسى د خداى د زوى په صفت د ګناهګارانو سره د پيوستون لپاره ندى راغلى بلکه د انسان سره د پيوستون لپاره راغلى دى. د هغه هدف دا ؤ چې په بشري تجربه کښې برخه واخلي او نور د پخوا په شان مقدس پاتې شي.

مسیح د خپل انساني جوړښت د تجربې څخه نور داسې څه زده کړل چې تراوسه ورباندې نه پوهیده؟

**په وسوسې بآندې بریالیتوب**

مسیح د وسوسې د تجربه کولو څخه ډیر شیان زده کړل. وسوسه یوازې داسې یو شی نه ؤ چې فقط هغه لیدلی ؤ او تجربه کړی یې ؤ. بلکه وسوسه داسې یو قدرت ؤ چې په هغه یې فشار راوړ چې هغه کارونه وکړي کوم چې غلط ؤو. په دښته کښې د مسیح د وسوسه کیدو څرنګوالیته فکر وکړئ (لوقا ٤: ١- ١٣).

عیسی مسیح د روح القدس په وسیله دښتې ته بوتلل شو، او هلته یې څلویښت ورځې د خوراک لپاره خواړه نه درلودل. د دې څلویښتو ورځو په دوران کښې هغه د شیطان له خوا د قسما قسمه وسوسو سره مخامخ شو. هغه وخت چې عیسی د دریو هغو شیطاني وسوسو سره مخ کیده چې په مقدس کتاب کښې بیان شویدي (چې په احتمالي توګه همدا اخرنۍ وسوسې وې) نو ډیر وږی، ستړی او دبدن له لحاظه ډیر کمزوری شوی ؤ. هغه خپل انساني محدودیتونه او کمزورتیاوې ډیرې په سختۍ سره احساسولې. ځینې کارونه چې د هغې د سرته رسولو په خاطر هغه ته وسوسه اچول کیده داسې کارونه ؤو چې غلط نه بریښیدل. لکه د ډبرې بدلول په ډوډۍ باندې.

د دنیا ټول امید د ټول ابدیت لپاره پدې پورې تړاو درلوده

چې مسیح د لوږې، ستړتیا ، کمزورۍ او یا د داسې نورو حالاتو سره وکړای شو چې د خپل پلار اراده زده کړي او د هغې تابعداري وکړي. داسې یوه مخامخ کېدنه او شخړه د وسوسې تجربه ده. د مسیح کامیابي د نورو د شکستونو سره مقایسه کړئ. عیسو په ښکار کښې بوخت ؤ چې د یعقوب د دیګ بوی یې په دماغو ولګیده او دا بوی دومره قوي ؤ چې هغه ورسره مقابله ونکړه، او ورته ټینګ نشو (پیدایښت ۲۵: ۲۷- ۳۷).

تر اوسه لا په دښته کښې د اسرائیلو د قوم داوسیدلو څو ورځې نه وې تیرې شوې چې د مختلفو خوړو د درلودلو په خاطر نړدې ؤو چې هغوی بسرته مصر ته لاړ شي او د غلامۍ ځنځیر په غاړه کړي (خروج ۱۶: ۱- ۳).

عیسی د تجربې له لارې ډیر څه زده کړل. هغه د جسم او ذهن د کمزورۍ سره سره هم هڅه کوله چې د خپل پلار اراده پوره کړي. هغه د خدای د کلام د کارولو قدرت د شیطان د وسوسو سره په مبارزه کښې تجربه کړ.

هغه زمونږ سره زمونږ په کمزورۍ په خاطر خواخوږي لري خو ګناه نشي زغملی (عبرانیان ٤: ۱۵).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

6. د مسیح د وسوسه کیدو تجربه دا ښکاره کوي چې...

أ. وسوسه هغه وخت حمله کوي چې

مونږ کمزوري و اوسو او وربانديې
د غلبې طاقت ونلرو.

ب. هغه په رښتيا زمونږ په څير د
وسوسې سره مخ کيده.

ج. مونږ کولای شو چې د خدای د
کلام څخه په کار اخيستلو
سره په وسوسو باندې
بريالیتوب ترلاسه کړو.

د. د کمزورۍ په وخت هم په
وسوسو بريالیتوب ممکن دي.

**فرمانبرداري**

مسيح د خپل عذاب او زحمت د تجربې د لارې فرمان-برداري زده کړه. په آسماني جنت کښې د زوی لپاره د پلار تابعداري ډيره اسانه ده. څرنګه د نور څه اميد درلودلی شئ؟ خو دا يو ډير مشکل کار دی چې په دنيا کې د پلار فرمانبردار واوسئ. دا دواړه حالتونه هيڅ وخت هم يو د بل سره نشي مقايسه کيدای. د بشر فرمانبرداري په داسې شرايطو کښې صورت مومي چې د نړۍ ټول طبيعي قدرتونه د هغې په مخالفت کښې راپاڅيدلي دي، ټول نړيواله وروسته پاتې طاقتونه د هغې پر خلاف دي او ټول شيطاني قدرتونه د هغه سره په جګړه بوخت دي.

یوه داسې تابعداري د درد ، زحمت او کړاو له لارې کیدای شي چې زده شي (عبرانیان ۵: ۸). بله لاره هیڅ وجود نلري. کله چې مونږ وایو چه ضروري وه چې عیسی مسیح جسم شي او انسان ورڅخه جوړ شي ترڅو هغه څه وپیژني چې مونږ یې پیژنو، او هماغه شان تابعداري هم وکړی لکه څنګه چې یې مونږه سر ته رسوو، نو د مقدس کتاب غلط تفسیر به مونه وي کړی. دانسانانو مخالفتونه د قادر مطلق خدای لپاره څه معناوې کیدای شي ولري؟ مرګ د هغه چا لپاره چې هغه پخپله د ژوندون سرچینه ده څه مفهوم درلودای شي؟ د شفا ورکوونکي ابدي څښتن لپاره به درد څه معنی ورکړي؟ د هغه چا لپاره چې پخپله د بی پایه برکتونو منبع ده، ضرورت او حاجت څه معنی درلودلای شي؟ که چیرې د دریاب یا سمندر د اوبو څخه یو ګیلاس اوبه راواخلو آیا څوک شته چې دا فکر وکړي چې دا کار کولای شي په سمندر باندې کومه اغیزه وکړي؟

مګر د مسیح لپاره جسم کیدل او انسان جوړیدل د بې انتها محدودیت او کمزورۍ یوه تجربه وه. انسان جوړیدنه هغه طریقه وه چې مسیح د هغې په وسیله زده کړل ترڅو د یو انسان په صفت دخدای د ارادې تابعداري وکړي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

7. مسیح د خپل عذاب ویستلو د تجربې له

لارې فرمانبرداري زده کړ ځکه چې هغه
.....................

أ. هيڅ عذاب او درد نه پيژانده.

ب. هغه د خدای اراده د يو انسان په صفت سرته ورسوله نه دخدای د زوی په صفت چې په عرشونو کښې د هغه مکان دی.

ج. مخکی لدې چې انساني بڼه اختيار کړي، د خدای د ارادې تابعدار نه ؤ.

8. هغه لارې چارې مو ولوستلې چې مسيح د هغې په وسيله دخدای د ارادې فرمانبرداري کړې وه. لاندينۍ هر يوه جمله چې د دې طريقو بيانوونکې وي ولولئ. بيا هغه خپل د يادداشت په کتابچه کښې پدې اساس په پوره ډول وليکئ چې څرنګه د مسيح څخه په خپل ژوند کښې د ځان لپاره يوه مثالي نمونه خپلوئ.

أ. عيسی مسيح د ټولو محدوديتونو تر منځ چې د هغه د بشري تجربو يوه برخه وه، د

خدای اراده په کامله توګه سرته ورسوله، زه هم کولای شم د دې محدودیتونو تر منځ چې زما د تجربې یوه برخه ده د خدای اراده سرته ورسوم.....

ب. مسیح د خدای اراده د دعا د انضباط له لارې زده کړه. زه هم کولای شم دخدای اراده د دعا د دسپلین له لارې زده کړم، خو په دې ډول:.......

ج. مسیح د وسوسه کیدو، لوږې، ستړتیا، درد، او یا عذاب سر بیره هم دخدای دارادې تابعداري وکړه. زه هم کولای شم د دې شیانو سربیره دخدای د ارادې تابعداري وکړم: وسوسه، لوږه، ستړتیا، درد او عذاب ...........

مسیح ځمکې ته د راتګ خخه مخکې د خدای زوی ؤ. هغه مخکې لدې چې ځمکې ته راشي په هرڅه پوهیده. خو کله چې آسمان ته بیرته لاړ ترڅو زمونږ لوی لاربنود شي او مونږ دپلار خدای حضور ته بوځي، نو یوه متفاوته پېژندنه یې له ځانه سره هلته یوړه (عبرانیان ۱۲: ۲).

دا څه عجیبه لیوالتیا او مثال ؤ! مسیح چې زمونږ نه مخکې تلی دی. هغه د خدای اراده او نقشه چې د هغه په اړه یې درلوده وپېژندله. او هغه کامیاب او سرلوړی دی.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

5. ستاسو خپل ځواب. آیا د عیسی په دعا کښې داسې څه اصول او قواعد وینئ چې نشي کولای تاسو سره دخدای د ارادې په زده کړه او فرمانبردارۍ کښې مرسته وکړي؟

1. ج. بشري صفتونو

6. ج. مونږ کولای شو چې د خدای د کلام څخه په کار اخیستلو سره په وسوسو باندې بریالیتوب ترلاسه کړو.

د. د کمزورۍ په وخت هم په وسوسو بریالیتوب ممکن دي.

7. ب. هغه د خدای اراده د یو انسان په صفت سرته ورسوله نه دخدای د زوی په صفت چې په عرشونو کښې د هغه مکان دی.

3. الف. هغه څوک چې د خدای په اراده پوهیږس خو د لازیاتې پوهې لپاره اوس هم

لوئيدو ته اړتيا لري.

8. ستاسو خپل ځواب! هيله ده چې د هغو لارو چارو په ليدلو او موندلو به قادر اوسئ چې په خپل ژوند کښې ورباندې د مسيح د مثالي نمونو فرمانبرداري وکړای شي.

4. ج. هغوی دا اجازه ورکړې وه چې د جسم ميلانونه دې په هغوی حاکم وي.

# ستاسو یادداشت

اتم لوست

# څرنګه کولای شم چې راتلونکې ته لار ومومم؟

... غواړم هغه څه چې باید وکړم ورباندې پوه هم شم.

ښاغلی رابینسون په خپل تجارت کښې د تاوان او ضرر سره مخ شوی ؤ. د څو کلونو په اوږدو کښې دا لومړی ځل ؤ چې هغه په عملي ډول نقصان ولید. ستونزه دا وه چې په حقیقت کښې هغه د خپل ضرر علت نه پیژنده. په همدې حالت کښې یوکس پیدا شوی ؤ چې شرکت ورڅخه په بیه واخلي. نور

ابینسون څه باید کړي وای؟ آیا دا لازمه ده چې شرکت په نقد ډول خرڅ کړي او یا دا چه صبر وکړي او خپلې احتمالي ګټې ته سترګې په لار شي؟ کاشکې چې په خپل راتلونکي پوهیدلو!

ښاغلي رابینسون په هماغه کار لاس پورې کړ چې نور خلک یې په دغسې حالاتو کښې کوي. هغه یو فال بین ته ورغی چې که چیرې دا فال بین ورته دراتلونکي په اړه یو څه ووایي، نو بیا پخپله دا پوهیږي چې ځرنګه کار باید وکړي. فال بین ورته وویل چې ستا په کارمندانو کښې یو ناوړه او نا صالح کس په سترګو کیږي، او هغه داسې سړی دی چې رابینسون ورباندې پوره اعتبار او اعتماد هم کوي. هغه ډیر په هوښیارتیا سره زیار باسي ترڅو د دې شرکت مالک شي. فالبین په حقیقت کښې پدې عقیده ؤ چې همدا کس د ضرر او تاوان ذمه وار دی چې تراوسه پورې یې شرکت ټینګ کړیدی او هغه یې تر ځارنې لاندې راوستی دی.

رابینسون ډیر په چټکۍ سره فیصله وکړه، او خپل مرستیال ښاغلی «کیسي» یې له خپلې دندې ګوښه کړ. ښاغلی کیسی د کلونو راهیسې د هغه د اعتماد وړ شخصیت ؤ. خو رابینسون دا احساس درلوده چې فالبین غلطي نه کوي.

په هماغه شپه رابینسون هغې کلیسا ته لاړ چیرته چې یې غړیتوب درلود او روح القدس په کلیسا کښې د هغه کار په کولو مجرم وګاڼه کوم یې چې کیسي سره کړی ؤ. رابینسون فالبین ته د تللو په خاطر توبه وویستله او د ښاغلي کیسي کورته لاړ ترڅو دهغه څخه معافي وغواړي. خو یوه ویرونکې پیښه منځ

ته راغلې وه. کیسي خپل ځان پخپله وژلی ؤ. ډیره موده پس دا ثابته شوه چې ښاغلی کیسی د شرکت په ضرر او تاوان کښې په پوره ډول بې قصوره ؤ او هیڅ قسمه لاس یې پکښې نه درلوده.

په انسان کښې کوم شی دی چې هغه تر دې حده پورې د خپل د راتلونکې پیژندلو ته لیواله کوي؟ آیا دغه لیوالتیا صحیح نه ده؟ په دې لوست کښې به وګورئ چې خدای د راتلونکې په اړه تاسو نه کوم د پام وړ ټکي غواړي، او په دې اړه یې څه ښکاره کړیدي.

## هغه څه چې پدې لوست کې به یې ولولئ

- ❖ د راتلونکي له پاره د خدای نقشه
- ❖ ولې خدای خپله مکاشفه محدوده وي
- ❖ د نن ورځې لپاره د خدای پلان

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي څو..

- ❑ خپل راتلونکې ته امیدوار و اوسئ.
- ❑ دا خبره تشریح کړئ چې ولې خدای مونږ ته د راتلونکې په اړه ځینې شیان ظاهروي خو نورو ته یې نه کوي.
- ❑ هره ورځ د خدای د ورځیني پلان پیروي وکړئ.

## د راتلونکي له پاره د خدای نقشه

د دې ټکي یادونه ډېر د اهمیت وړ ده چې انسان یوازینی مخلوق دی چې کولای شي د خپل راتلونکي په اړه فکر وکړي. حیوانات د هغه شعور په اساس چه دوی ته ورکړ شویدی د خپل راتلونکي لپاره خواړه ذخیره کوي، مګر بشر د راتلونکي په اړه فکر کوي اوحتی کله داسې هم پېښېږي چې خپل راتلونکی د خپلو ګټو د خوندي ساتلو په غرض تر کنترول لاندې راولي. بشر د خپل راتلونکي په اړه د فکر کولو قدرت ته پخپله پراختیا نه ده ورکړې، بلکه دغه قدرت ورته دخدای د لوري ورکړ شویدی. د فکر کولو قدرت د هغه مخلوق د صفاتو ځخه دی چې د خدای په شکل پیدا شویدی.

خطر پدې لیوالتیا کښې نه دی چې بشر غواړي خپل راتلونکي باندې پوه شي. بلکه خطر پدې حقیقت کښې پروت دی چې ځینې وخت د راتلونکي ځخه د بشر خبرداری د دې باعث کېږي چې په ځای ددی چې نیکو او عقلمنده کارونو ته یې و هڅوي د بې عقلۍ او غلطو کارونو په لور یې بیا یي. د دې دوه حالتونو تر منځ، چې دعا وکړئ ترڅو خپل راتلونکی ویېژنئ او دعا وکړئ ترڅو د خدای د ارادې ځخه خبر شئ، ډېر فرق موجود دی. مونږ په عامه توګه پدې دلیل غواړو چې د راتلونکي په اړه خبرداری ولرو چې وکړای شو صحیح فیصلې وکړو او ښه پلان جوړ کړو او بیا نیک عمل او صحیح کارونه وکړو. مګر هغه

وخت چې غواړو ترڅو د خدای له ارادې څخه خبر شو او ځان ورباندې پوه کړو، دا په دې معنی ده چې مونږ هغه څه سرته رسولی شو چې زمونږ څخه غوښتل کیږي او د کولو توان یې هم لرو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

1. په لاندې څرګندونو کښې کومه یوه د راتلونکي په اړه د صحیح رویې بیانونکې ده؟
   - أ. زه په دې دلیل غواړم چې د راتلونکې په اړه خبرداری پیدا کړم ځکه هغه ماته دا قدرت راکوي ترڅو هغه کارونه وپیژنم چې کول یې ضروري او لازمي دي.
   - ب. زه خوشاله یم چې د خدای د نقشې څخه باخبره واوسم ځکه چې کولای شم هغه څه سر ته ورسوم چې زما څخه یې غواړي.

### هغه څه چې خدای څرګند کړي دي

خدای دا غوره ګڼلې چې ځیني زمونږ په راتلونکي حالاتو

باندې خبر کړي. داسې پیښې په مغلقه توګه لکه یو راز یا پانوراما (د عکسونو او منظرو یوه لړۍ) د مکاشفې په کتاب کښې راغلي دي چې دغه کتاب د مقدس کتاب اخري کتاب او د یوحنا په واسطه لیکل شوی دی.

یوحنا ځوځو ځله ټکي په ټکي او برخه په برخه هغه څه بیانوي څه یې چې لیدلي ؤو. مګر سره ددې هغه څه چې هغه لیکلي دي، د مقدس کتاب محقیقین د هغه څه سره په ژوره توګه موافقه نلري چې ټاکل شویده د مکاشفې د کتاب پراساس پیښ شي. شاید کله چې خدای مونږ ته راتلونکي حالات ښکاره کوي، نو د هغې منل پدې دلیل ډیر مشکل دي چې مونږ په اوسني حال کښې محدود کړای شوي یو.

ځرنګه کیدای شي ځمکې ته د عیسی مسیح حقیقي راتګ اویا د مقدسینو سره د هغه زرکلن حکومت متصور شي؟ (مکاشفه ۱: ۷ او ۲۰: ۱- ٦).

عجیبه نده چې د یوحنا ډیرې رویا ګانې په همدې شکل غیر حقیقي وبریښي. له هغه ځایه چې مونږ عادت نه لرو چې پیښې په یوې نا اشنا مجموعې کښې ووینو نو مشکله به وي چې وکړای شو د خدای دا کلام په صحیح توګه تفسیر کړو.

د دې سره سره چې د یوحنا د پیغام په تفسیر کښې مشکلات موجود دي خو بیاهم په همدې حال د راتلونکې په اړه موضوعات یې په پوره ډول روښانه او ځرګنده دي. کله چې د خدای ساعت راشي نو نړۍ به تغییر مومي. هغه ترقي چې بشر

کړیده د منځه به لاړه شي. مګر بشر به پخپله ژوندی پاتی شي. مسیح به مداخله وکړي او خپل سلطنت به قائم کړي. بدکاره او شریر به محکمې ته وړاندې شي او محاکمه به شي او هغه داغ چې په ځمکه لګول شویدی هغه به پورته شي. شیطان چې د ټولو بدو کارونو او شرارتونو خالق دی، په ابدي سزا به محکوم شي.

مونږ به بدل شو، جسم به مو جلال وموميِ، او علم به موکامل شي او خلاصون به د بشپړتوب مرحلې ته ورسیږي. تاسو به هم په خاصه توګه کاملان شئ او د خدای په کامله اراده کښې به ځای پیدا کړئ. مسیح به د یو معمار په صفت خپل کار تاسو سره پای ته ورسوي او د هغه سلطنت به د پوره والي او کمال مرحلې ته ورسیږي.

پدې خبره پوهیدل چې ولې خدای د دې نه زیات تفصیلات مونږ ته بیان نکړه، آسانه دي. ځکه د هغه څه تصور چې خدای یې مونږ ته وایي مشکل دی.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

2. د لاندې هر یوې صحیح جملې مخې ته نښه ورکړئ.

أ. هغه څرګندونې چې یوحنا د راتلونکي په اړوند بیان کړې، ډیرې عجیبې او نا اشنا دي، ځکه هغه د غیر واقعي شیانو

یعنې د خیالي شیانو په اړه خبرې کوي.

ب. د مکاشفې کتاب وايي چې عیسی مسیح به په رښتیا پخپله بیا ځمکې ته راشي.

ج. خدای د راتلونکي په اړه مونږ ته څه شی نه ښکاره کوي. ځکه چې هغه پوهیږي چې مونږ ورڅخه بیا غلطه استفاده کوو.

د. هغه نقشه چې خدای یې زمونږ لپاره په نظر کښې لري د پوره والي او کاملتوب څخه ډکه ده.

## د مکاشفې څخه د خدای هدف

سره د دې چې مونږ د راتلونکي په اړه په ډیر لږ څه پوهیږو، خو په همدې حال بیا هم زیار باسو چې خدای سره د هغې په سرته رسولو کښې مرسته وکړو. د دې کار یوه نمونه کولای شئ چې په مقدس کتاب کښې پیدا کړئ، یعنې د ابراهیم او هاجرې قصه د پیدائښت د کتاب ۱٦ فصل کښې.

زمونږ هغه انساني هڅې چې غواړو د خدای وعدې عملي کړو، اکثراً د ښادۍ او خوشالۍ پرځای په غم او ماتم باندې

بدلېږي. خدای د راتلونکي په اړوند یو ډېر کوچنی طرز دید زمونږ سره شریک کړی دی څو امیدواره واوسو. له همدې کبله مونږ به دې ته اړ نشو چې هغه طریقه وکاروو چې وربانديې راتلونکي پېښې عملي بڼه غوره کړي. عیسی مسیح د هغې نقشې انتهايي خوشالي ولیده کومه چې پلار خدای ورته په پام کې نیولې وه. هغه خوشالي چې د عیسی مسیح لپاره ټاکل شوی وه هغه یې دې ته تیار کړی ؤ چې په صلیب ځړېدل وزغمي او حتی د خپلې شرمندګۍ او بی عزتۍ پروا هم ونکړي (عبرانیان ۱۲: ۲).

د شیطان نقشه دا وه چې د هغې پوهې څخه کار واخلي چې مسیح د راتلونکي په اړوند درلوده (یعنې چې د دنیا پادشاهي به د هغه په برخه وي) او مسیح دې ته اړ باسي چې د هغې د لاس ته راوړلو لپاره ډېره اسانه طریقه خپله کړي. شیطان دا هڅه کوله چې مسیح پدې قانع کړي ترڅو د هغه په مقابل کښې د تسلمیدو سر تیټ کړي او دهغه عبادت وکړي (لوقا ٤: ٥- ٨). خو مسیح د شیطان دغه هڅه خاورو ته وسپارله او په هماغه لاره لاړ چې خدای ورته مقرره کړې وه.

خدای راتلونکې پدې خاطر مونږ ته ښکاره کوي چې وکړای شو د حالیه تکلیفونو سره لاس او منګولې نرمې کړو. په طبعي طریقې سره د هغه هدف د لاس ته راوړلو عدم امکان چې خدای زمونږ لپاره ټاکلی دی (کاملان و اوسو) مونږ دې کار ته اړ باسي چې هره ورځ د هغه څخه مرسته وغواړو. هغه زمونږ څخه غواړي چې دهغه څه په تابعدارۍ کښې د خدای په فضل او

قدرت تکیه ولرو، کوم چې خدای یې زمونږ څخه د سرته رسولو امید لري.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

3. لاندینۍ جمله پوره کړئ.

خدای راتلونکې مونږ ته څرګندوي ترڅو مونږ ....................

..............................................................

.......

..............................................................

.......

## ولې خدای خپله مکاشفه محدودوي

ولې خدای ټول شیان د مخکې څخه مونږ ته نه ښکاره کوي؟ آیا هغه په مونږ باور نلري؟ پوښتنه دا نه ده چې هغه په مونږ باور نلري بلکه دا ده چې مونږ په هغه باور نلرو.

که چیرې مونږ ټولې هغه مرحلې وګورو چې په راتلونکي کښې د یو هدف لاس ته راوړلو لپاره ضروري وي نو چټکې به وکړو او په نتیجه کښې ځینې مرحلې به تېرې کړو او د ځینو نورو څخه به صرف نظر وکړو چې همدا کار ممکن مونږ دومره وروسته پاتې کړي چې نور نو د خدای په هغه نقشه کښې چې زمونږ لپاره یې تیاره کړیده ځای ونلرو. مونږ دغه د تیزۍ او

ځان ساتنې نمونه د ځينو هغو کسانو په ژوند کښې وينو چې قصې يې په مقدس کتاب کښې لولو.

يوشع د اريحا دښار فتح او په پوره ډول کنټرول سر ته رسولې وه او هدف يې د «عای» او نورو ښارونو فتح کول ؤ. يوشع په يوه عجيبه قسمه چالاکۍ او ليوالتيا زيار ويسته ترڅو داکار پای ته ورسوي (څوک د برياليتوب څخه خوندنه اخلي). په همدې دليل يې ډير په تيزۍ او دخدای څخه د لارښونو د غوښتلو څخه بغيرد «عای» د ښار په لور حرکت وکړ. چې د هغې پايله ډېره خواشينوونکې وه (يوشع ۷: ۲- ۵).

داود هڅه کوله چې د لوظ صندوق (يو مقدس صندوق ؤ چې د هغه لوظ يوه نسخه پکې يرته وه چې خدای داسرايئلو سره کړی وه) څومره چې زرکيدای شول بني اسرائيلو ته راوګرزوي. دغه لوړ هدف په سختۍ سره داود په خپل ځان کښې غرق کړی ؤ. په همدې سبب يې کوښښ وکړ چې نوی چل وکاروي. هغه د هغه څه په خلاف چې مخکې خدای مقرر کړې وه (خروج ۲۵: ۱۲- ۱۴، يوشع ۳: ٤- ۳) د لوظ صندوق يې د غوايانو په يوې ګاډۍ کښې کيښود. بيا هغه نتيجه چې د دې کار څخه حاصله شوه هغه د خدای د سلطنت سريع پرمختګ نه بلکه تباهي او بدبختي وه (دوهم سموئيل ٦: ٦- ۸).

د دې خبرې منل چې مسيح خپل ځان د صليب د پاسه د خلاصون د منځنۍ مرحلې په صفت قرباني کړي، د پطرس لپاره ډير دروند کار پريښيده (متي ١٦: ٢٢). هغه غوښتل چې

د دې پرځای چې مسیح سره پدې تجربه کښې پاتې شي، په توره وجنګیږي (یوحنا ۸: ۱۰- ۱۱).

ځینې وخت د دې جملې ریښتینې معنی چی وایو ((غواړم چې پوه شم ترڅو د خدای اراده زما په اړوند څه ده؟)) دا شکل غوره کوي،((غواړم چې د خدای د نقشې څخه خبردار اوسم ترڅو وکولای شم هغه څه چې باید سرته یې ورسوم ورباندې پوه هم شم)).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

4. هغه دیر مهم دلیل چې خدای د هغه په خاطر خپله مکاشفه د راتلونکي لپاره محدوده ساتي دا دی چې:

..........................................................

............

أ. د راتلونکي په اړوند زمونږ خبرداری به هغې ته تغیر ورنکړي.

ب. مونږ اکثره وخت کوښښ کوو چې عجله وکړو او د منځینو مراحلو د سرته رسولو نه سرغړونه وکړو.

ج. زمونږ لپاره د دې خبرې پوهیدل

مشکل جوړوي چې په راتلونکي
کښې به څه پیښیږي.

5. دوهم پطرس ۳: ۱۰- ۱۱ ولولئ او خپل د یادداشت په کتابچې کښې دا خبره شرح کړئ چې د دې آیت په رڼا کښې زمونږ ځواب او غبرګون د دې وړاندوینې پر وړاندې چې آسمان او زمکه به د منځه ولاړه شي، څه ده؟

## د نن ورځې لپاره د خدای پلان

هغه نقشه چې خدای ستاسو د ژوندون لپاره نن ورځ تیاره کړې څه ده؟ هغه تاسو څخه دکوم کار دکولو غوښتونکی دی؟ د روحاني تجربو مختلف قسمونه موجود دي. ځینې تجربې چې په مسیح کښې یې لرو، یوځل او د تل لپاره مخې ته راځي چې نوې زیږیدنه د دغو تجربو څخه یوه ده. ځکه چې خدای خپل ابدي خلاصون وړاندې کوي.

د تجربو نورې برخې فصلي حالت لري. په صحیح توګه د هغه ګردشونو په څیر چې په طبیعت کښې موجود دي، دغه تجربې هم زمونږ د روحاني ژوندون په مختلفو زمانو او خاصو ځایونو کښې په بیا بیا پیښیږي. نوښت او یا هماغه د روحاني ژوندون خاص وخت د همدې قسم حالاتو څخه دي. مونږ همیشه د ژوندون په دوران کښې نه پایو. مونږ باران (چې همدا روحاني ژوند دی) د باران په موسم کښې غواړو. خدای د دې فصلونو

طبیعت د روح او کلام د خدمت د لارې روښانه کوي. په عامه توګه ځینې نښې نښانې شته چې روحاني ژوندون ته اړتیا معلوموي، او د اچه خدای هم دغه روحاني ژوندون ته لیوالتیا لري. په صحیح توګه لکه څنګه چې په طبیعت کښې د موسمونو د راتګ نښې نښانې لیدل کیږي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

6. هغه روحاني تجربو ته کیدای شي موسمي یا فصلي وویل شي چې
...........................................

أ. په خپل وار سره پیښیږي.

ب. یوازې یو ځل پیښیږي.

ج. دوامداره پیښیږي.

خو د موسمي تجربو او د ابدي تجربو تر څنګ څه نورې تجربې هم شته چې هره ورځ پیښیږي. خدای مونږ ته په داسې دنیا کښې ځای راکړی چې د ورځني ګردشونو پر بنسټ ولاړه ده. د هغه ځایه چې مونږ ورځ په ورځ ژوند کوو، نو یو څه ورځیني معلوم اصول هم موجود دي چې خدای زمونږ څخه غواړي چې ددې اصولو او ضوابطو هره ورځ فرمانبرداري وکړو. په اساسي توګه د خدای د ارادې سرته رسول دا دي چې مونږ هره ورځ هغه څه ترسره کړو کوم چې د خدای اراده ده.

اجازه راکړئ چې یوه شیبه هغه څه ته یوکتنه وکړو چې

روزانه زمونږ څخه د هغې سرته رسول غوښتل کيږي، او بيا دخدای وعدې وڅيړو. هغه وخت چې د زړې لوظنامې په دوران کې، د راغونډيدو خيمه د خدای د عبادت مرکز بلل کيده، ځينې خاص کسان د خدای د خدمت لپاره ګومارل شوي ؤو چې لاويان به ورته ويل کيده. دا کارونه لاژم ؤو چې هر ورځ سرته ورسيږي. د دې ورځيني اطاعت د عملي کولو څخه بغير د اخترونو او کلنيو مراسمو تجليلول محال او بې معنی ؤو.

زکريا د ورځني کاهنتوب په دندو مشغول ؤ چې جبرائيل فرښتې هغې ته وويل چې د يو زوی پلار به شې او د دغه هلک به د خدای قوم د مالک راتلو ته چمتو کړي (لوقا ۱: ۸- ۱۷). دا پيښه هغه وخت منځ ته راغله چې سپين ږيری حناه نبي په عبادتخانې کښې په خپل ورځنی دعا بوخت ؤ او دا د هغه لپاره دير د وياړ ځای ؤ. همدې نبي د عيسی په انتخاب او د دنيا په خلاصون شاهدي ورکړه چې د عيسی مسيح په وسيله ترلاسه کيږي (لوقا ۲: ۳٦- ۳۷).

## زمونږ ورځينی کار کوم دی؟

د پنيطيکاست د ورځې څخه را پديخوا کليسا ډير برياليتوبونه لاس ته راوړي دي (درسولانو اعمال ۲: ٤۰- ٤۱). د ايماندارانو کردار او رويه به په يولړ اعمالو ځانګړی کيده چې دغه اعمال د خدای د برکت د نازليدو او د هغې د دوام سبب کيده.

هغوی به ورځيني عبادت په داسې ډول سرته رساوه لکه چې د زوړ عهد کاهنانو خپلې وظيفې سرته رسولې. هغه مثالي نمونې چې هغوی يې پيروی کوله کومې وې؟ موقعه راکړئ چې دا موضوع د رسولانو د اعمالو د کتاب ۲: ٤٤ - ٤٧ د بيان سره سم وڅيړو.

لومړی، د لومړنۍ کليسا غړو او رسولانو به هره ورځ خپلې اړيکې د خپلو ورونو سره په صحيح توګه خوندي ساتلې. هغوی به يو تر بله سره نږدې شراکت درلود.

د نورو سره د غلطو اړيکو ساتلو په څير، بل هيڅ شی نشي کولی چې انسان دخدای د آواز داوريدلونه محروم او بې برخې کړي. تريخوالی، زورونه، کينه او يا داسې نور غلط احساسات ستاسو هغه انرژي او طاقت په ډادمنه توګه له منځه وړي چې د خدای د آواز په مقابل کښې د غبرګون لپاره يې کاروئ. ښه داده چې هره ورځ د نورو سره د خپلو اړيکو څرنګوالی ارزيابي کړو. مقدس کتاب وايي چې که چيرې د ورځې په سر کښې يوڅه اړيکې د کوم سبب په اثر وشليږي او د منځه ولاړې شي نو داسې يوکار سرته ورسوئ چې د ورځې په اخرکښې د هغې د دوام علت او د هغو تريخوالی او خفګان له منځه يوسئ. "که چيرې غصه شوئ نو په غصه کښې ګناه مه کوئ او خپله غصه د لمر د پريوتو څخه اخوا مه اوږدوئ (افسسيان ٤: ٢٦).

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

7. خپل د يادداشت په کتابچه کښې د ټولو

هغو کسانو نومونه ولیکئ چې ستاسو د ورځیني ژوند مهمې برخې یې اشغال کړي دي. آیا د هغو سره ستاسو اړیکې په صحیح میعار ولاړې دي؟ دا کار خپل عادت وګرځوئ چې دغه اړیکې هره ورځ ارزیابي کړئ او هغه کارونه سرته ورسوئ چې په صحیح میعارونو باندې د دغو اړیکو د باقي پاتې کیدو لپاره ضروري وي.

د هغه یووالي نه غیر چې د رسولانو د اعمالو په کتاب ۲: ٤٦ کښې بیان شویدی، دې کښې هیڅ شک نشته چې تشویق او ترغیب هم د هغوی په منځ کښې حاکم ؤ. د عبرانیانو په نوم لیک ۳: ۱۳ په مستقیمه توګه مونږ ته دا دستور راکوي چې یو له بله سره مرسته وکړو او یو بل ښو کارونو ته تشویق، او وهڅوو.

په همدې اساس د خدای کلام په اصل کښې مونږ ته وایي چې باید هره ورځ د نورو سره خپلې اړیکې د سوال لاندې ونیسو، او د هغو د درستوالي څخه ځان ډاډه کړو. په همدې شکل کولای شو چې خدمت وکړو او هم د نورو سره خپله دوستي برقراره وساتو. د نوي ژوندي شوي ذهن په وسیله به چې د رومیانو د خط ۱۲: ۱- ۲ مطابق مو عیار کړیدی د دې کار د سرته رسولو موقعې ووینئ.

دوهم، د لومړنۍ کلیسا غړو به هره ورځ د خدای ثنا ویله او

عبادت به يې کاوه (٤٦- ٤٧ ايتونه). ثنا او عبادت د خدای د حقيقي زوی ورځينی کار دی. دغه عبادت امکان لري چې د فرمانبرداری د قربانۍ په شکل وځليږي، خو په يقيني ډول به د مالک خدای د خوشالۍ او ښيګړې په بيانولو پای ته ورسيږي.

دريم، د لومړنۍ کليسا ايماندارنو به هره ورځ خپل تعهد، ځانګړيتوب او د خدای زوی ولي نوې کوله. هغه نمونه چې د رسولانو د اعمالو د کتاب په دوهم فصل کښې وينو دا خبره څرګندوي چې ايماندارانو څرنګه د خدای زوی ولي، تهعد او ځانګړ تياوې د عمل په ډګر کښې ښکاره کولې. مسيح و فرمايل: "که څوک زما مريدي خوښوي نو هغه دې خپل خواهشات شاته وغورځوي او هره ورځ دې خپل صليب پورته کړي او په ماپسې دې راځي" (لوقا ٩: ٢٣). خو همدا عيسی مسيح بيا وايي چې مونږ هره ورځ د دې مطلب رايادولو ته اړتيا لرو چې مونږ په خدای پورې تعلق لرو. د دې څخه بهر به د هر شي ذهنيت او رويه دخدای د نوم د جلال لپاره سرته ورسيږي. داود په ښه توګه زده کړې وه چې ځانګړيتوب، زوی ولۍ او تعهد کښې دا کار هم شامليږي چې هره وعده مو له خدای سره کړې وي او يا مو د نذرپه توګه منلې وي، بايد هغه ترسره کړو (زبور ٦١: ٨).

څلورم، دې کښی هيڅ شک نشته چې لومړني ايمانداران به د خپلو ورځينيو ضرورياتو په پوره کولو کښې په خدای باندې تکيه کوله. دا کار زمونږ لپاره هم يو مثال او د پيروۍ يوه نمونه کيدای شي. مسيح زمونږ

څخه غوښتی دي چې باید پدې الفاظو دعا وکړو: "... مونږ ته نن خپل نننی رزق راکړه" (متي ٦: ١١).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

8. په لاندینیو څرګندونو کښې چې هر یو ستاسو د ورځیني کار یوه برخه وي، د هغې مخې ته نښه ورکړئ.
   - أ. د اوږدې مودې روژه نیول.
   - ب. د خدای ثنا او عبادت.
   - ج. خپل ځان خدای ته وقفول.
   - د. د نورو سره د خپلو اړیکو په صحیح توګه ساتنه.
   - ه. د نوې زیږیدنې تجربه کول.
   - و. د خپلو ورځینیو ضروریاتو په پوره کولو کښې په خدای توکل.

په همدې اساس د خدای اراده سخته نده. مونږ هغه وخت پدې حالت کښې په سرګردانۍ اخته کیږو چې دا روښانه فضا د نورو موضوعګانو په بیانولو سره خړه او تیاره کړو. زمونږ په ورځینۍ فرمانبردارۍ کښې به خدای مونږ د هغو تصمیمونو لوري ته رهبري کړي چې زمونږ د ژوندون لپاره اهمیت لري.

خدای کومه وعده فرمایلې ده؟ خدای فرمایلي دي چې هره

ورځ به خپل فضل او برکت نوی کوي او مونږ سره به مرسته کوي (زبور ٦: ١٩). مونږ الهي خزانه د هغو اړتیاوو په پوره کولو کې نشو خالي کولای چې د صبا او بل صبا لپاره يې لرو، بلکه د هغه څه ځینې چې نن ورځ يې زمونږ لپاره مقرر کړيدي ګټه پورته کوو. دغه زمونږ ورځینی سیکل یعنې ګرځنده دوراني حالت دی چې خدای د هغه بنیاد ایښی دی. دغه عادت او ګرځنده دوراني حالت د لومړني انسان یعنې حضرت آدم سره هم ؤ. دغه موضوع د بني اسرائیلو د قوم په ورځیني عبادت کښې هم په سترګو کیږي. د نوي عهد په کلیسا کښې هم همدغه ګرځنده دوراني حالت لیدل کیږي او په همدې ګرځنده حالت کښې خدای مونږ سره مرسته ملګرتیا کوي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

9. ښایي تر دې شیبې پورې به متوجه شوي یاست چې دیو، دوه، درې او یا څلورو حالاتو چې د لوست پدې برخه کښې مو بیان کړل، هره ورځ تابعداري کوئ. خپل د یادداشت په کتابچه کښې لاندې جملې مکملې کړئ چې د ورځیني اطاعت په اړوند راغلې دي.

أ. (د اووم سوال په ارتباط)، زه هره ورځ ضرورت لرم چې خپلې اړیکې د دغو افرادو سره تر

ځيړنې لاندې ونيسم د کومو چې
مې د خپل ژوند د مهم اړخ د
اشغال په ارتباط نومونه ليکلي
دي.

ب. د هغو طريقو څخه يوه چې کولای
شم وخت ورباندې تير کړم او هره
ورځ دخدای عبادت پکې وکړم
عبارت ده له
..............................................
..

ج. د تعهد، زوی ولۍ او
ځانګړتيوب او همدارنګه خدای
ته هره ورځ د خپل ځان وقفول په
دې معنی ده چې زه بايد
........................................

د. مونږ دې ته اړتيا لرو چې د خپلو
........... ضرورياتو په پوره کولو
کښې په خدای توکل وکړو.

دا دی تاسو دا کتاپ اوس پای ته ورساوه. هيله لرم چې دې درسونو به تاسو سره د خدای د نقشې او ارادې په پيژندلو کښې چې ستاسو لپاره يې په پام کښې لري، مرسته او ملګرتيا کړې وي. خدای دې تاسو ته ستاسو په ورځينۍ تابعدارۍ

کښېبرکت درکړي او خپل فضل دې تاسوته د ډالۍ په توګه درکړي ترڅو هغه څه ته عملي جامه واغوندئ چې زده کړي مو دي او خپل ورځيني ژوندون کښې يې وکاروئ. ((آمين)).

اوس تاسو کښې دا صلاحيت پيدا شويدی چې د پنځم لوست څخه تر اتم لوسته پورې مربوطو سوالونو ته ځواب ورکړئ. دغه درسونه بيا تکرار کړئ. وروسته بيا د ورکړل شوو لارښونو سره سم کار وکړئ. کله چې غواړئ خپل د ځوابونو پاڼې خپل ښوونکي ته وليږئ نو د دې سلسلې د بل کتاب د ترلاسه کولو غوښتنه هم ورڅخه وکړئ (دا سلسله ټول اتلس کتابونه لري).

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

5. بايد داسې ژوند ولرو چې د خدای خدمت ته وقف شوی وي. (ستاسو ځواب دې ته ورته وي).

1. ب. زه خوشاله يم چې د خدای د نقشې څخه باخبره واوسم ځکه چې کولای شم هغه څه سر ته ورسوم چې زما څخه يې غواړي.

6. الف. په خپل وار سره پيښيږي.

2. الف. غلط.

ب. صحيح.

ج. غلط.

د. صحيح.

7. ستاسو خپل ځواب.

آیا څوک شته چې باید هغه معاف کړئ؟ که چیرې د یو کس سره ترخې او بدې اړیکې لرئ نو دخدای څخه وغواړئ چې پدې اړوند هغه څه در وښیئ ترڅو سرته یې ورسوئ او دغه اړیکې مو په داسې روابطو بدلې شي چې په صحیح معیار ولاړې وي او د تریخوالي علت یې د منځه ولاړشي.

3. ستاسو خپل ځواب. وړاندیزي ځواب: خوشالي وکړو او وپوهیږو چې څرنګه د اوسني حال په نسبت ځواب او غبرګون ولرو.

8. ب. د خدای ثنا او عبادت.

ج. خپل ځان خدای ته وقفول.

د. د نورو سره د خپلو اړدیکو په صحیح توګه ساتنه.

و. د خپلو ورځینیو ضروریاتو په پوره کولو کښې په خدای توکل.

4. ب. مونږ اکثره وخت کوښښ کوو چې عجله وکړو او د منځینو مراحلو د سرته رسولو نه

**سرغړونه وکړو.**

9. **ستاسو خپل ځواب.**

**امید لرم چې هغه طریقې به مو بیان کړې وي چې کولای شئ په هغې سره دغه اصول هریو په خپل وار سره په خپل ژوند کې عملي کړئ.**

## وروستۍ خبرې

دغه کتاب چې مو ولوست، د نورو کتابونو سره فرق لري. ځکه چې د داسې افرادو په وسیله لیکل شویدی چې ستاسو برخه لیک ته اهمیت قایل دي. دغه افراد بختور انسانان دي، ځکه چې پدې بریالي شویدي چې ټولو هغه پوښتنوته ځواب ووایي چې د ډیرو خلکو ذهن یې مشغول ساتلی ؤ. دغه بختور انسانان پدې عقیده دي چې خدای ددوی څخه غواړي هغه ځوابونه چې دوی پیدا کړیدي نورو ته یې هم وړاندې کړي. هغوی پدې ایمان لري چې تاسو هم ځینو مهمو معلوماتو ته اړیتا لرئ، ترڅو خپلو ستونزو او مسائلو ته ځواب ووایاست. او په هغه طریقه ژوند لاس ته راوړئ چې تاسو ته ډیرښه بریښي.

هغوی دا کتاب پدې غرض لیکلی ترڅو هغه معلومات چې لازم یې ګڼلی ستاسو په اختیار کښې هم کښیږدي. دغه کتاب د دې پېنستېزو حقیقتونو پر بنیاد ولاړدی.

1) تاسو یو خلاصوونکي ته اړتیا لرئ. رومیان ۳: ۲۳،
او حزقیال ۱۸: ۲۰ ولولئ.

2) تاسو پخپله د خپل خلاصون څخه عاجز یاست.
اول تیموتیوس ۲: ۵، او یوحنا ۱٤: ٦ ولولئ.

3) د خدای خوښه دا ده چې ټوله دنیا دې خلاصون ترلاسه کړي. یوحنا ۳: ۱٦- ۱۷ ولولئ.

4) خدای عیسی مسیح راولیږه ترڅو خپل ځان د ټولو هغه کسانو د خلاصون په لاره کښې قرباني کړي چې په هغه یې ایمان راوړی دی. ګلتیان ٤: ٤- ٥، او اول پطرس ۳: ۱۸ ولولئ.

5) مقدس کتاب مونږ ته د خلاصون لاره په ګوته کوي او په مسیحي ژوندون کښې د ودې ځرنګوالی را ښیئ. یوحنا ۱٥: ٥، ۱۰: ۱۰ او دوهم پطرس ۳: ۱۸ ولولئ.

6) دا تاسو یاست چې خپل ابدي برخه لیک لپاره تصمیم نیسئ. لوقا ۱۳: ۱-٥، متي ۱۰: ۳۲-۳۳ او یوحنا ۳: ۳٥-۳٦ ولولئ.

دا کتاب ستاسو فکر ته دا خبره ځرګندوي چې ځرنګه د خپل برخه لیک په اړوند تصمیم ونیسئ، او دا موقعه در بخښي چې خپل تصمیم بیان کړئ. د بله پلوه دغه کتاب د نورو کتابونو سره توپیر لري ځکه تاسو ته داسې موقعه په لاس درکوي ترڅو د هغو کسانو سره په تماس کښې اوسئ چې دا کتاب یې چمتو کړیدی. که چیرې کومه پوښتنه ستاسو ذهن ته درځي، اویا خپل ضروریاتو او نظریاتو بیانول غواړئ نو کولای

**شئ چې هغو له خط ولیکئ.**

# الهي طرحه ستاسو انتخاب

آیا غواړئ په دې پوه شئ چې..

- خدای ستاسو د ژوند لپاره څه پلان لري؟
- خدای ستاسو څخه نور څه کول غواړي؟
- څرنګه کولای شئ چې خپل ژوند د خدای د پلان په مطابق سمبال کړئ؟

که چېرې ستاسو ځواب مثبت وي نو دغه کتاب ضرور ولولئ. ډيرو کسانو د دې کتاب د لوستلو څخه خوند اخيستی دی او روحاني ژوند يې بډای شوی دی. هيله من يو چې ستاسو لپاره هم همداسې وي.

دغه کتاب په ډېرې ساده او آسانه طريقې سره ليکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل يې آسانه دي. فقط همدومره کافي ده چې د هغې لارښوونې په عمل کښې پلي کړئ او خپل ځان و آزمايئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې يوه برخه ده چې د "مسيحي ژوند" په نامه يادېږي. د مسيحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه ولولئ.